د اسلامی زده کړو معینیت

د استعدادونود ارزونی ریاست

د اسنادو د ارزونی ا و د سویی د تثبیت آمریت

د فقهی دیپارتمنت

# د کفارو سره د مرستې کوونکو حکم

لیکونکی : مدرس محمد بشیر مدني

Ketabton.com

کال : 1445ه ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دپیل خبرې

داښکاره خبره ده چی انسان د نورو مخلوقاتو په څنګ کی یو مخلوق دی چی الله جل جلاله ورته عقل ور کړی دی نو ددی لوی نعمت( عقل ) په مقابل کی مکلف ګرځول شوی دی ، ترڅو کوښښ وکړي هغه څه ترسره کړي چې دالله جل جلاله په وړاندی ملامت نه وي او خپل حساب په آسانی سره پای ته ورسوي نو ددغه د ستونزې د حل لپاره یوازینی لار د الله جل جلاله په اوامرو منګولی لګول دی نو یومسلمان باید د بل مسلمان خواخوږی او ملګری وی نه داچی دهغه د ستونزو او مشکلاتو لامل وګرځي چې ددې جملې څخه یو هم د مسلمان مرسته کول دي نو که یو مسلمان دبل مسلمان په مقابل کی د کفارو څخه مرسته وغواړی او خپل مسلمان ورور پرې مغلوب کړی دده حکم به څه وي ؟ که دا کس پرته د کوم عذر او مرض څخه د زړه له تله دا کار ترسره کړی نو پدی سره کافر او ددین څخه ووت .

**د مشکلاتو او ستونزو په اړه :**

داچی دغه یو ډیر بحث دی نو ډیر و مصادرو او اساسی مراجعو ته یی ضرورت وه چی پیدا کیدل یی سخت او دکړاو څخه خالی نه وه او همدارنګه د انترنیت نشتوالی چی په اوسینو حالاتو کی د نوی تکنالوجی څخه ګټه اخستل یو اړین کار دی چی موږ تر اوسه ددی څخه پوره فایده و نشو اخستلای .

دحضرت علي کرم الله وجهه پرخلاف قیام کې خورا زیاتو صحابه کرامو برخه وانه خیسته، لکه څنګه چې یې له حضرت حسین (ض) سره ملاتړ ښکاره نه کړ. دادفتنو دمخنیوي په خاطر،چې دامیرپه مقابل کې قیام دملت یووالي ته‌وته اوامنیت له منځه وړي اویا په بل عبارت، دکوچني شر دله منځه وړلولپاره دلوی شراوفسادزمینه برابروي .

**منن پانه :**

همدارنګه باید د پیغمبرصلی الله علیه وسلم دهغه مبارک حدیث په رڼاکی چی فرمائی : )مَنْ لمْ يشْكُر النَّاسَ لَمْ يشْكُر الله (رواه الترمذي في كتاب البر والصلة ، نوترهرڅه مخکی د اسلامی زده کړو دقدرمن معین صاحب څخه مننه اوقدردانی کوم چی دغه مبارکه پروسه ئی پیل کړه اوبیا د استعدادونو دارزونې رئیس ښاغلي مفتي صاحب څخه مننه کوم چی ددی رسالی د پشپړیدو دمراحلو د ترسره کیدو لاره ئی راته پرانیسته او هم داډول دخپل لارښود استاد څخه مننه کوم چی ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسالی ترپایه ئی زما لارښوونه کړی اوهمدارنګه دټولو هغو دوستانوڅخه مننه کوم  چی ددی رسالی په پشپړیدوکی ئی راسره مرسته کړی الله جل جلاله دټولوته اجرعظیم ورکړی .

**درسالی لنډیز :**

داسلام سپیڅلی دین  په ژوندانه کې هیڅ داسی کارچې احکام او مسایل و نلری نشته، د ژوند ټولو اړخونوته برنامی او سم پروګرمونه لری چې د هغی له جلمی څخه د یو مسلمان تعامل او راکړه ورکړه دبل مسلمان سره اوهمدارنګه دمسلمان تعامل د کفاروسره او د مرستی حدود یې ورته مشخص کړی دی اوپه مطلق ډول مرسته غوښتل یی د کفاروڅخه منع کړی ده  دا چی د ژوند په نورو برخو کی لکه په معاملاتو کی تعامل همدارنګه تجارتی اړیکی او په سیاسی برخه کی په کومو صورتونو کی کولی شی د کافر څخه مرسته وغواړی دا هغه مسائل دی چی داسلام په مبین دین کی ورته ښکلې او ښایسته پروګرامونه شتون لری.

کومه رساله چی زما مخ ته ایښی ده خلاصه اولنډیز ئی په لاندی ډول سره وړاندی کیږی هغه داچی:

-دتوحیددکلیمې ارزښت او اهمیت بیان اوددې کلمې ماتوونکي هم شته چې عمل یې له منځه وړي ، او وجود یې له نشتوالي سره برابر وي ، د توحید زده کړه ضروري ده ، چې په الله پاک باندې یې ایمان او باور پوخ شي ، او دتوحید دماتوونکو پېژندل هم ضروري دي چې دهغه څېزونوڅخه یې د توحید عقیده سالمه پاته شي چې داعقیده له منځه وړي .

-د 11ستمبر پیښې مشهورې دي ، چې خلک یې چڼ او یو له بله جلاکړل ،کافر او مسلمان سره بیل شول منافقان یې په ډاګه ښکاره کړل ، د کافرانو چل او فریب یې ظاهر کړ.

-د مسلمانانو په مقابل کې دکافرانو سره مرسته او کومک کول د توحید دعقیدې ماتوونکې ده چې توحید د بیخ او تهداب څخه نړوي اوله هغې فتنې نه د ځان ژغورلو په خاطر چې د کافرانو مشرانو لکه امریکا او د هغې ائتلافیانو د مسلمانانو په مقابل کې په کار اچولي ده ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

-د هغه عابد سړي کيسه چې کله يې د خپل تره د زامنو او قوم خبره ومنله تر څو حضرت موسی علیه السلام ته ښيرا وکړي نودا سړی ددين څخه ووت چې د خپل قوم  او وطن په خاطر يې حضرت موسی علیه السلام او مؤمنانو ته ښيرا وکړه اګر چې دا مرسته د ښيرا په واسطه هم وه .

اودې امريکايي عسکرو خپلو امريکايي لښکرو سره د مسلمانانو په ضد مرسته وکړه د دواړو صورتونو د پيوستون ټکی يو دی او دمشابهت قياس څرګند او ښکاره دی .

- کله چې حضرت عباس رضی الله عنه د قريشو په ډله کې او دهغوی تر بيرغ لاندې د هغوی په قطار کې او دهغوی په عسکري مرکز کې د مؤمنانو په مقابل کې وه نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم دده سره دده د مال او بنديتوب په اړه د کافرانو په څير معامله او چلند وکړ .

-څوک چې داډول وی ددوی سره به په ظاهره همغه د کافرانو معامله کيږي ، او په کافرانو پورې به د مال ، وينې او بنديتوب په مسئلو کې پيوسته او يو ځای کيږي .

- د بدر په غزا کې دهغو کسانو قيصه چې مسلمانان وو بيا د مشرکانو سره يو ځای د هغوی په قطار کې او دهغوی تر بيرغ لاندې په جنګي مرکزونو کې يې د مسلمانانو په مقابل کې جګړه کوله ددوی ځای دوزخ دی .

-سره ددې چې حضرت عباس رضی الله عنه او څه نور مسلمانان د دوی د خوښې پرته راغلي وو او مشرکانو په زور سره را وستلي وو ، سره ددې هم د دوی سره د ظاهر حالت په اساس معامله وکړی شوه .

- يابه دده د خوښې پرته په زور سره مجبور کړی شوی وي نو دده حکم د هغه چا غوندې دی چې د بدر په غزا کې په زور سره بيول شوی وه .

– يا داچې پخپله خوښه راغلی وي ، نو دده حکم سخت او لوی دی ( د ګناه له رويه ) .

په پای کې دهغو ښاغلو علمای کرامو څخه مننه کوم چې ددې کتاب په لوستلو او سريزو ليکلو يې زماقدر او عزت وکړ ، الله پاک د ورته د نيکۍ بدله ورکړي ،  الله پاک دورسره ښه وکړي او الله پاک د دوی په علم سره اسلامي امت ته ګټه ورسوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست مطالب

**سریزه** ........................................................................................................ 1

**د مسئلی بیان :** ........................................................................................................ 1

**اسباب انتخاب موضوع** ........................................................................................................ 1

**اهمیت موضوع:**........................................................................................................ 1

**د څیړنی موخی** ........................................................................................................ 2

**مخکنی څیړنی** ........................................................................................................ 2

**سوالات تحقیق:**........................................................................................................ 2

**دڅیړنی طریقه :**........................................................................................................ 2

**د تحقیق طرح ( خطه)** ........................................................................................................ 3

**لومړی فصل کلیات**........................................................................................................ 4

**لومړی مبحث: دکفارو سره د مرستې په اړه د علمای کرامو نظریات**........................................ 4

**دویم مبحث: د کمزورو مسلمانانو مرسته** ........................................................................ 10

**دریم مبحث: په عسکری خدمت کی د شمولیت حکم :**............................................................ 14

**څلورم مبحث: د علماوو نظریات** ........................................................................ 20

**دویم فصل : داسلام په وړاندې صلیبي یرغل :** ........................................................ 31

**لومړۍ مبحث : د امریکا په اړه یو څه معلومات :** ........................................................ 31

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرمونه يې دحساب څخه وتلي چې ځنې يې دادي : .......................................................... 32

دوهم اړخ يې : په نړئ کې د امريکا فساد : ........................................................ 34

الله پا ک د مسلمانانو مرسته کوونکی دی . ........................................................ 37

دوهم مبحث : د طالبانو په اړه لنډ معلومات ........................................................ 38

دطالبانو له فر مانونو څخه : ........................................................ 40

دريم مبحث :د مسلمانانو په خلاف د نړيوال يرغل د صليبي توب دليلونه : ........................................................ 42

اوسنئ وضعه او حالت هم پدې دليل دی : ........................................................ 45

هغه پوښتنه چې دا دليل ترې راوځي : ........................................................ 49

دريم فصل : کفاروسره د دوستی د منع دلائل ........................................................ 52

لومړئ مبحث : د اجماع څخه دليلونه : ........................................................ 56

دوهم مبحث : له قرآن کريم څخه دليلونه : ........................................................ 58

لومړی دليل : ........................................................ 58

دوهم دليل :........................................................ 61

دريم دليل : ........................................................ 62

پنځم دليل : ........................................................ 68

شپږم دليل : ........................................................ 69

اووم دليل : ........................................................ 70

اتم دليل :........................................................ 71

(c) ketabton.com: The Digital Library


نهم سبب :........................................................................................73
لسم دليل : .......................................................................................75
يوولسم دليل :....................................................................................76
دولسم دليل : .....................................................................................77
ديارلسم دليل : ...................................................................................77
څوارلسم دليل:....................................................................................78
پنځه لسم دليل : .................................................................................79
شپاړسم دليل:.....................................................................................80
دريم مبحث : د نبوي احاديثو څخه دليلونه ......................................................81
لومړی دليل: ......................................................................................81
دوهم دليل........................................................................................83
دريم دليل: .......................................................................................83
څلورم دليل : .....................................................................................84
پنځم دليل : ......................................................................................85
شپږم دليل : .....................................................................................85
څلورم مبحث : دصحابه کرامو له اقوالو څخه دليلونه :...........................................85
دقياس څخه دليلونه : دا له دو و وجهو څخه راغلي دی :.......................................86
شپږم مبحث : د تاريخ څخه دليلونه: ..............................................................88

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم مبحث : د علمای کرامو د اقوالو څخه دلیلونه :............................................................91

لومړی : د حنفی مذهب د علماؤ اقوال : ...........................................................................91

دوهم د مالکي علمای کرامو اقوال :.............................................................................93

دمصادرو او مراجعو فهرست ..........................................................................96

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله و اصحابه و من تبعهم باحسان الى يوم الدين و بعد !

## د مسئلی بیان :

داسلام مبین دین د انسانانو تولې اړیکې او روابط محدود کړی دي ، انسان نشی کولای چې څه وغواړی ترسره یې کړي ځینې داسې مسائل دي چې ترعقیدې پورې اړه لري لکه د مخلوق څخه د انسانانو ترمنځ مرسته او کومک غوښتل دي پدی کې د کفارو څخه مرسته غوښتل یو ځانګړی ځای لري چې د کفارو څخه مرسته غوښتل څه حکم لري آیا د کفاروڅخه مرسته او کومک غو ښتل جواز لری که نه ؟ پدی خاطر باید وویل شي چې د شریعت له مخې د کافر څخه مرسته غو ښتل ډیر مهم او خطرناک دی چې دانسان ترعقیدې او باور پورې اړه لري د قرآن کریم ډیر زیات آیاتونه موجود دی چی دکافر څخه د مرستی غو ښتلو ممانعت کوي او دکافرسره دوستی منع کوي چې د سورت ممتحنی لومړني آیاتونه او نور د سورت مائدی 51 آیت د سورت برائت او سورت بقرې او نور ګڼ آیاتونه د کفاروپه ددوستۍ په ممنوعیت دلالت کوي او دکافرانو سره دوستی او دهغوی څخه مرسته غوښتل رد کوی .

### د موضوع دانتخاب سببونه : ددې بحث د تحقیق په درشل کې ګڼ اسباب او لاملونه موجود دي چې ځینې یې دادي :

۱- د خلکو غفلت او بی پروایي ددي مهمې او خطرناکې مسئلې په اړه ددي باعث شو چې په اړه یې څه ولیکم ترڅو خلک پدې اړوند د پوره احتیاط څخه کارواخلي .

۲- خلکو ددنیوي او اخروي کارونو ترمنځ ګډوالی راو ستلی دی چې ددواړه په اړه یې په تو پیر او فرق کولو قایل ندي او په ډول ډول بهانو باندي غواړي دغه دواړه اخروی او دنیوی کارونه یو شان ترسره کړي .

۳- دغې موضوع ته زما رغبت او زما د تحصیل مطابق یې دیته و هڅولم تر څو پدی موضوع ( د کفارو څخه د مرستې غو ښتونکو حکم ) نو دغه لاملونه وه چې په اړه یې دغه علمي بحث ولیکم .

### اهمیت موضوع:

ددي موضوع اهیمت عقیدي ته ګرځي او دعقیدي اهمیت دموضوع په اهمیت دلالت کوي لکه چی ایمان مهم دی نو په اړه یې لیکنه هم مهمه ده همدارنګه زما تر موالات او معادات پوري اړه لري نو دکفارو سره دوستي او ددوی سره دښمنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم عقیدوی مسئله ده چی تر ایمان او عقیدي پوري تړاو لري نو دا اهمیت ددي باعث شو چې پدی موضوع کې د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼاکي لیکنه وکړم .

## د څېړنی موخی

۱- د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼاکې دروا او ناروا څیزونو ترمنځ تو پیر کول ، د کفارو څخه د مرستې او کومک غو ښتل داسلامي شریعت په رڼاکې .

۲- داسلام په مبین دین کې د هغو استثنائی څیزونو تعین او مشخص کیدل چې د ضرورت په اساس د مسلمانانو لپاره د کفارو سره د تعامل او راکړي او ورکړې مشروعیت او روا والی ښئی دا باید ښکاره او په ډاګه شي تر څو نورو اړخونوته شامل نشي .

## مخکینی څیړنی

پدی اړه پخپله ملی ژبه کې کوم داسې اثر یا کتاب ندی لیکل شوی که په نورو ژبو کې داسی څه موجود وی امکان لري مګر ما پخپله داسی یو څه ندی لیدلي دهمدی سببه می پورتنی موضوع ولیکله په عین وخت کی دایوه داسي نوی موضوع راته ښکاره شوه ، دوهم ټکی داوه چې : د کتاب په شکل چی د قرآن کریم ، نبوی احادیثو ، او صحابه کرامو او معاصرو علماؤ اقوال او فتاواوی په کې وي وجود نلری .

## د تحقیق سوالونه :

الف- اصلی سوال ( پوښتنه )

کفارو ته مرسته ورکول او مرسته ترې غوښتل د اسلام له نظره څه حکم لري ؟

ب- فرعي سوالونه

۱- دکافر سره په دنیوی کارونو مرسته کول څه حکم لري ؟

۲- دکافر سره په اخروي کارونو کی مرسته کول څه حکم لري ؟

۳- دکافر څخه مرسته غوښتل څه حکم لري ؟

## دڅیړنی طریقه :

څرنګه چی « دکفارو سره د مرسته کوونکو حکم » یوه داسی ګټوره علمی رساله ده – زماپه نظر- چی باید هرمسلمان ئی دخپل ژوند مشال وګرځوی اودغه رساله دکتابتون لپاره ډیرمناسب کتاب دی طرز ئی توصیفی دی ځکه چی هرنص می دخپل مرجع څخه اخستی دی او که تاسو ورته وګوری نو زیاتره مراجع دعربی ژبی دی چی بیا دغه ټول نصوص پښتو ژبی ته ژباړل شوی چی ژباړه پخپل ذات کی یو ستونزمن کاردی او ددی رسالی هرعنوان که اصلی دی یا فرعی د خپل مصدر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

منبع نه می نقل کړی دقرآن کریم دمبارکو آیاتونو دسورت نوم او نمبرمی ذکر کړی نبوی مبارک احادیث می دخپل مصدر څخه په پشپړ ډول حتی الوسع تخریج کړی دی .

## د تحقیق طرح ( خطه)

لومړی فصل : داسلام په وړاندې صلیبي یرغل .چې ددې څخه لاندې مې درې مبحثونه ورکړي دي .

لومړی مبحث : دامریکا په اړه یو څه معلومات.

دوهم مبحث : دطالبانو په هکله یو څه معلومات .

دریم مبحث : دغه یرغل ته د صلیبي یرغل ویلو دلیلونه .

دوهم فصل : پدې یرغل کې چې چا د امریکا سره مرسته کړې دهغې دکفر دلیلونه ، ددې سره لاندې یوه سریزه او اووه مبحثونه دی :

لومړی مبحث : داجماع څخه دلیل .

دوهم مبحث : دقرآن کریم څخه دلیلونه .

دریم مبحث : د نبوي احادیثو څخه دلیلونه .

څلورم مبحث : د صحابه کرامو د اقوالو څخه دلیلونه ( د صحابه کرامو اقوال ددلیل په توګه وړاندې کول ).

پنځم مبحث : د قیاس څخه دلیلونه .

شپږم مبحث : د تاریخ څخه دلیلونه .

اووم مبحث : د علماوو ویناوې ددلیل په ډول وړاندې کول .

داعلمې بحث پدې سره پای ته ورساوه چې پدې فتنه کې باید مسلمان څه وکړي .

همدارنګه  دالله پاک څخه هیله لرم چې زمالیکنه خاصه د خپلې رضالپاره وګرځوي او ویونکي ترې مستفید کړي .

وصلی الله وسلم علی نبینامحمد وعلی آله و صحبه أجمعین ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل کلیات

## لومړی مبحث: دکفارو سره د مرستې په اړه د علمای کرامو نظریات

د مسلمانانو په مقابل کې د کافرانو سره مرسته او کومک کول حرام اود اسلام څخه ردت دي ، پدې سره د الله جل جلاله دا قول دلیل دی چې فرمایي : ... وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿51﴾ 1

ژباړه : چاچې ستاسو څخه د کفارو سره مرسته وکړه په تحقیق سره دا کس د هغوی له ډلې څخه دي بیشکه الله جل جلاله ظالمانو او تیري کوونکو ته هدایت نه کوي .

علامه ابن حزم رحمت الله علیه چې په ( 456 ) هـ ق کال کې وفات شوی دی دارنګه ویلي دي 2 : الله جل جلاله فرمایلي دي : « وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ ...﴿60﴾ 3

ژ باړه : او تیار وئ ( ای مومنانو ) لپاره د (جنګ ) ددغو ( ماتوونکو د عهد یا مطلق کفار و ) څومره چې توانیږئ ( جمع کولئ شئ ) تاسې له قوت ( اسباب د جنګ ) او له روزل شو و ، ساتل شوو آسونو ( لپاره د جهاد ) چې ویروئ تاسې په دغه ( قوت او تیاري ) سره د ښمنان د الله او دښمنان ستاسې . 4

نو په موږ باندې د کافرانو ویر ول فرض او لازم دي او چاچې مرسته ور سره وکړه پدې ډول چې کافرانو ته یې هر څه ور وړل او هغوی یې و نه ویر ول نو دوی کافر انو سره په ګناه او تیري کولو کې مرسته وکړه .

امام ابن القیم رحمت الله علیه چې په 751 هـ ق کې وفات شوی دی ویلي دي : دا کوم دین دی او دا کومه نیکي او خیر دی له هغه چا څخه چې د الله جل جلاله محارم تر پښو لاندې کیږي او د الله جل جلاله حدود له منځه ځي او دین یې پر یښول کیږي ، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه خلک مخ اړوي او دی په ډاډ او مطمئن زړه پته خوله وي لکه : کونګ شیطان چې د حق د ویلو څخه ساکت وي , همدارنګه د ناروا ا و باطلو خبرو ویو نکي ته شیطان ویل کیږي ، داسې کس هم همدا حکم لري . 5

---

1 - سورت المائده آیت 51 .

2 - المحلی ج 5 ص 419 .

3 - سورت الانفال آیت 60.

4 - کابلی تفسیر مائدی سورت 60 آیت .

5 - اعلام المو قعین ج 2 ص 121 . +-

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا دین ته به د هغو کسانو څخه زیان او ضرر د بل چا له خوا زیات وي کله چې د دوی د خوراک ضرورتونه او دجاه او قدرت وسائل ورته ورکړل شي نو دوی بیا په هغه څه چې په دین تیریږي هیڅ ډول سوج او فکر نه کوي ؟

دد اسې خلکو د خفګان ځای دادی که چیرې دمال او قدرت د ویش په اړه څه ناوړه پیښه را منځته شي ، نو دی به دوام داره هڅې کوي او ډیر کوښښ به کوي او دخپل وس په اندازه به د ( انکار) او ناخوښۍ درې واړه مرتبې په کار واچوي ، او دغه کسان د الله پاک د رحمت له نظر څخه غور ځیدلي اود الله جل جلاله قهر په همدوی باندې دی ، او په دنیا کې د الله پاک په ډیر لوی امتحان د غفلت او بې پروايي په حالت کې را ګیرشوي ، چې هغه د زړو نو مرګ دی او دا زړه دی کله چې زړه د پوره ژوند څښتن وي ، نو د الله پاک او رسول علیه الصلاة والسلام ددین لپاره زیات په قهر کیږي او ددین پوره حفاظت او مرسته کوي .

شیخ عبد اللطیف بن عبد الرحمن آل الشیخ رحمت الله علیه چې په 1293 ه ق کال کې وفات شوی دی دخپل وخت د علماء کرامو په چو پتیا د هغې وخت فتنې او فساد په اړه چې تر ننۍ فتنې څخه ډیره وړوکې وه داسې ویلي دي : زیاتره ددوی څخه چوپ دي د هغې مسألې د ښکاره کیدو څخه چې ډیر جاهل خلک پرې غولیدلي او زیاتره پرې ګمراه شوي دي ، د قرآن کریم ، نبوي احادیثو او داسلامی امت علماؤ ددې خلکو د چوپتیا چې ځانونوته یې روا کړې ده مخالف دي ، ددې لویې فتنې څخه ځان یو اړخ ته کول او دهغه چاپه ضد چې د الله پاک د سپیڅلی کلام ( قرآن کریم ) او داسلام د پاک دین په مخالفت پرو پاګند کوي د اسلام څخه لیرې کاردی . 6

اې وروره ! ته باید شرعي لار ، ښه سلوک د شبهو په رد ولو کې غوره کړې او د مسألې ګډوالۍ ښکاره او واضح کړې او دفتنې د ساتندو یانو څخه ځان لیرې کړې .

د الله پاک ، د هغه د کتاب ، د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او دمسلمانانو د مشرانو او عامو خلکو لپاره یو نصیحت کوونکۍ او لار ښود واوسۍ، او دا کار د چو پتیا سره منځته نه راځي او په هر حالت کې به ته ددې سره مخامخ کیږ ي ، باید مقابله یې وکړې .

---

[6] - الدرر ج 8 ص 372 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ددې فرصت څخه ګټه واخله او پدې اړه زياتې خبرې وکړه او دخپل ژوند ورځې او وخت غنيمت و شميره هليه لرم چې الله پاک موږ او تا د قرآن کريم او نبوي سنتو د ساتندويانو او لومړنو نيکانو په ډله کې د قيامت په ورځ را پورته کړي کوم چې د رښتيا وينا او ايمان څښتنان دی.

د کفارو سره د مرستې کوونکو د کفر ښکاره دليل چې هغه کفر او ارتداد د هغه چا په برخه دی چې دامريکايانو او نورو کافرانو سره هر ډول مرسته او کومک کوي .

پدې کې شک نشته چې دا مسأله په متفق ډول په اجماع سره څېړل شوې او هيڅ مخالفت په کې نشته ، يوه عجيب کار خو دادی ، ښايي د ديني مسألو سره د نابلدئ په توګه وي چې پدې ډول مسأله کې چې د لمر په څېر ښکاره ده بيا هم د ناپوهئ ، التباس او ګډو ډی په ځای کې قرار لري آن تردې چې د ځينې علماؤ په اند پرته له عامو خلکو څخه – ولاحول ولاقوة الابالله – هم همدا د ناپوهانو دريځ يې نيولی دی .

له همدې امله زه د هرې طبقې علماوو ، طالبانو ، داعيانو او داسلامي خوځښت ځوانانو ته پدی مسئله د لوستلو او دځان لپاره د ساتلو توصيه کوم ترڅو د وسلې په ډول ترې دهغو پرو پاګندو نو نظر ياتو او له شک او شبهو څخه ډکو اړخونو په مقابل کې وکاروي چې نن ورځ يې د نشرولو او په عامه ذهنيت د تسلط هيله لري . اوس هم ددې امت څخه يوه ډله دحق سره وه د الله پاک له خوا ورسره مرسته کيږي ، جهاد کوي ، د باطل او د هغه د پيروانو په ضد ګرځي کارکوي ، الله پاک خپل حزب او ډله بريالئ کوي او مرسته يې کوي .

الله پاک فرمايلي دي : إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنصُورُونَ ﴿172﴾ 7

ژباړه : بيشکه زموږ لښکر او ډله همدوئ بريالي دي .

او په بل ځای کې يې فرمايلي دي : وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿128﴾ 8 ، ژباړه : ښه پای د پرهيزګارانو دی .

په بل ځای کې الله پاک فرمايلي دي : فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاء وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الأَرْضِ ....... ﴿17﴾ 9

---

7 - سورت الصافات آيت 172 .

8 - سورت الاعراف آيت 128 .

9 - سورت الرعد آيت 17 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : نو هر څه څګ او خيرئ چې وي، لاړ به شي په دغه حال کې چې پريوتي دي له نظره ( او بې نفعې به وي ) ، اوهر هغه څيز چې نفع رسوي خلکو ته ( لکه اوبه او فلزات ) نو په ځمکه کې پاتې کيږي د ګټې او نفعې لپاره .

او زه په ځانګړي ډول علماؤ ورونو تشويقوم چې پدې وخت کې د الله پاک څخه و ويريږ ي او هغه مسؤليت درک کړي چې الله پاک پرې مکلف کړي دي ، کوم چې د حق بيانول دي ترڅو مهمې او خطر ناکې مسئلې خلکو ته واضحه کول دي .

الله جل جلاله فرمايي : وَإِذَ أَخَذَ اللّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلاَ تَكْتُمُونَهُ ...﴿187﴾ 10

ژباړه : (او يادکړه ) هغه وخت چې واخست الله عهد محکم له هغو کسانو ځينې چې ورکړل شوی دی دوی ته کتاب چې خامخا به بيانوئ تاسې هرو مرو دا کتاب اونه به يې پټوي .

په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايلي دي : فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿94﴾ 11

ژباړه : نو ښکاره ( او واضح کړه اې محمده ) هغه چاته چې ته مامور يې پرې او مخ واړوه له مشرکانو څخه او مه کوه هيڅ التفات او پروا د دوی ويلوته ) .

او دا علماء بايد د خبرو څرګندونو او فتواوو په وسيله جهاد وکړي او بايد د پاچايانو غو ښتنو او له منځه تلونکی دنيايي ګټو ته نظر ونه کړي .

الله جل جلاله فرمايي : وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ ﴿38﴾ 12

ژباړه : او که وګرځيدی تاسې ( له ايمان او سخانه نو الله ) به بدل راولي يو قوم بې له تاسې بيابه نه وي هغوی په شان د تاسې ( ګرځيد ونکي له احکامو د الله بلکې فرمان بر داره به وي ) .

هغه خلک چې څه احساس لري او بې له شکه چې جهاد يې کړی ، او دحق په مرسته کې يې برخه اخستې د حق د ډلې سره يې کومک کړی دی باطل او دهغه د ډلې په مقابل کې دريدلی او دهغوی مقابله يې کړې د لويو او ورو کتابونو چې زياتره يې مشهوردي پوره مواجه کړی ده .

د الله پاک څخه ده ته د اجر او ثواب غو ښتو نکي يو او هيله مو ده چې پدې لارکې ثابت پاتې شي .

---

- آل عمران سورت آيت 187 . [10]
- الحجر سورت ، آيت 94 . [11]
- سورت محمد آيت 38 . [12]

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الله جل جلاله څخه غواړو چې په هر ځای کې مجاهدین بریالي کړي کافران او دهغوی مرستندویان په هر ځای کې چې وي خوار او ذلیل کړي .

اسلامی شریعت په داسې قطعي نصو صو ډک دی ، چې د مظلومو مسلمانانو مرسته د هغوی د ناموسونو او مالونو ساتنه فرض ګرځولې ده .

او داد هغو پنځو ضروري ځیزونو په لړ کې چې ټول شرائع د هغه د ساتنې توصیه کوي متفق دي ، چې هغه : دین ، نفس ، عقل ، مال او عرض ( ناموس ) دی .

الله پاک فرمایلي دي : وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء .....﴿71﴾ 13

ژباړه : نارینه مومنان ، او ښځینه مومنانې ځینې د ځینو نورو دستان دي .

امام بخاري او امام مسلم رحمت الله علیهما د امام زهري رحمت الله علیه له لارې څخه د امام سالم بن عبد الله څخه او هغه یې له خپل پلار عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت کوي ، چې پیغمبر صلی الله علیه و فرمایل : مسلمان د مسلمان ورورد ی نه پرې ظلم او تیری کوي او نه یې چا ته سپاري .

او همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه په بل ځای کې فر مایلي دي : د خپل ورور سره مرسته وکړه که ظالم وي او که مظلوم ، یو سړي پوښتنه وکړه ، اې د الله رسوله مرسته به ورسره وکړم ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم و فرمایل : د ظلم څخه به یې لاس و نیسې همدادده سره مرسته ده ، دا حدیث شریف امام بخاری رحمت الله علیه د حضرت أنس رضی الله عنه څخه او امام مسلم رحمت الله علیه د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی .

دامرسته کول د اسلام د نیکیو او د جهاد د بابونو څخه یو باب دی ، الله جل جلاله فرمایلي دي : ....وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ...﴿72﴾ 14

ژباړه : او که طلب د نصرت او مرستې وکړي دغه ( غیر مهاجر مومنان د کفارو په جنګ کې ) له تاسې ځینې په دین کې ) نو لازمه ده په تاسو مرسته کول له دوی سره ( په دین کې ) .

---

13 - سورت توبه آیت 71 .

14 - أنفال سورت آیت 72 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې کې د مینې او محبت رسۍ کلکه او محکمېږي او د مومنانو لپاره ثبات دی نو د مرستې کولو وروسته پاته کیدونکو ته د سستۍ او کیناستلو لپاره هیڅ ځای نشته .

الله پاک اسلام ته قوت ورکړ مسلمانان قوي شول حکومت یې جوړ شو ، شأن ا وشوکت یې او چت شو ، د ښمنان یې وویریدل دا ځکه چې ددوی تر منځ د محبت او وروګلوی اړیکې ټینګې شوې او یو د بل سره یې مرسته وکړه .

پیغمبر صلی الله علیه وسلم مؤمنان یو له بل سره په مینه ، ترحم ، عطف او مهربانۍ کې د یو بدن سره مشابه کړیدی کله چې یو اندام ته څه تکلیف ورکړي نو ټول بدن تبه نیسي او بې خوبه او ناکراره شي ، داحدیث شریف په صحیح البخاری ا وصحیح مسلم کې د نعمان بن بشیر رضی الله عنه څخه روایت شوی دی .

په صحیح مسلم کې راغلي دي : مسلمانان د یو سړي په څیر دي که سترګه یې په درد شي نو ټول بدن یې درد واخلي ، او که سریې شکایت پیل کړي ، نو ټول بدن یې په شکایت او درد پیل کوي .

د اسلام سپیځلي دین د غسې وروګلوۍ او ، یو والي او پیوستون ته بلنه ورکوي ، چې په صافه عقیده او مینه ولاړه وي ، ناکامي ، لانجې او بې اتفاقي په کلکه سره ټکوي داسې حالت نه غواړي چې د اسلامي امت د تیتوالي او له منځه تللو لامل او بیا په ورو ورو سره یې د ذلت او سپکاوي خواته کش کړي .

په اوسنې وخت کې ټولې کفري نړۍ او دشیطانانو مشران چې په سر کې یې امریکا او برتانیه او ددوی ملګري را ځي سره یو شول ترڅو د اسلام او مسلمانانو ( طالبانو ) او په نورو اسلامي هیوادو نو باندې د تندلارۍ او ترورستی تر پردې لاندې جګړه پیل کړي او دې ته د ترورستۍ په ضد جګړه وایي .

په موږ ټو لو مسلمانانو د نړۍ په هر ګوټ کې چې یو فرض دي چې د خپل توان او طاقت په اندازه د خپلو مجاهدو ورونو سره مرسته او کومک و کړو په هر ډول چې وي لکه: په مال ، ځان او ژبې سره مرسته او کومک تر سره کړو.

الله پاک فرمایي : انْفِرُواْ خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُواْ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿41﴾ 15

---

[15] - سورت التوبه آیت 41.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : ځئ تاسې ( غزاته ) حال داچې سپک او سئ او درانه او جهاد کوئ تاسې په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په لاره د الله جل جلاله کې ( ددین د ترقۍ لپاره ) دغه تګ غزاته خیر او بهتر دي تاسې ته که یئ تاسې چې پوهیږي ( په خپله ګټه او تاوان ) .

## دویم مبحث: د کمزورو مسلمانانو مرسته

د کمزورو او ضعیفو مسلمانانو د مرستې څخه ځان سپمول په هیڅ ډول روا ندي او داد ذلت ، خوارۍ او ظلم بربنډ انځورونه ښه بیلګه ده .

د مسلمانانو په مقابل کې د کافرانو سره مرسته که هر ډول وي ، دا نفاق او ددین څخه مرتد کیدل دي .

الله پاک فرمایلي دي : بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿138﴾ الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ العِزَّةَ لِلّهِ جَمِيعًا ﴿139﴾ 16

ژباړه : زیرئ ورکړه ( ای محمده ) منافقانو ته په دې چې بیشکه شته دوی ته عذاب درد ناک هغه کسانو ته چې نیسي دوی کافران ، دوستان (خپل ) بې له مؤ منانو ، آیا لټوي دا (منافقان ) په نزد ددې ( کفارو ) عزت پس بیشکه ( دنیوي ا و اخروي ) عزت خاص الله لره دي ټول .

الله پاک فرمایلي دي : وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ... ﴿51﴾ 17

ژباړه : او هرچاچې دوستي وکړه له دوئ سره ، له تاسې ځینې نو بیشکه چې دي له همدوئ ځنې دي ، یعني د دوی په ډول کافر دی ، پدې کې دعلم څښتنان اخلاف نلري .

په ډیر ټینګار سره تاسو د مسلمانانو په مقابل کې د کافرانو سره د مرستې څخه ویروم داکه هر ډول مرسته وي ، ځکه چې دا کفر ، منافقت ،دزړونو مرض او فسق دی ، د کفر شرطونو څخه داندي چې د کافرانو سره ملګرتیا د هغوئ ددین سره مینه او په هغه باندې رضا کیدل خو دا شرط کوم ارزښت نلري او هیڅ شی دي ، ځکه چې د کافرانو ددین سره مینه او په هغه باندې راضي کیدل د امت په اجماع سره کفر دی پرته له دې چې د مسلمانانو په مقابل کې ورسره مرسته وکړي او داد کفر بل ډول دی.

که چیرې د کافرانو سره مرسته کوونکی پدي ګو مان وي چې دی ددین سره محبت لري او کافرانو او مشرکانو سره کینه لري او کرکه ترې کوي .

---

[16] - سورت النساء آیت 38 ، 39.

[17] - سورت المائدة آیت 51.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځواب کې ورته وایو : چې ډیر د کافرانو او مرتدانو څخه داسې وو چې حق یې پدې نه پریښود چې د هغه څخه یې کر که کوله او نه پدې چې د خپل کفري دین څخه نفرت درلود بلکې د ځینو مادي ګټو په خاطر یې دا دنیایي ګټې په دین باندې غوره کول .

الله تعالی فرمایي : ذَلِكَ بِأَنَّهُمُ اسْتَحَبُّواْ الْحَيَاةَ الْدُّنْيَا عَلَى الآخِرَةِ وَأَنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿107﴾ 18

ژباړه : داد لوی اخروي عذاب په سبب ددې دی چې دوی غوره کړی دی ژوندون یو خسیس پر ( اعلی ژوندانه وه ) آخرت ، او بیشکه الله نه ښئي لاره ( داستقامت ) قوم کافرانو ته .

په صحیح مسلم کې د علاء بن عبد الرحمن له لارې کوم چې دخپل پلارڅخه او هغه د حضرت أبوهریرة رضی الله عنه څخه روایت کوي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ: «بَادِرُوا بِالأَعْمَالِ فِتَنا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ. يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِناً وَيُمْسِي كَافِراً. أَوْ يُمْسِي مُؤْمِناً وَيُصْبِحُ كَافِراً. يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيا . 19

ژباړه : د هغه فتنو له راتلو مخکې نیک عملونه وکړی چې د تیارې شپې د ټوټو په څیر به را رواڼې وي یو څوک به سهار مؤمن او بیګاه به کافر وي ، او بیګاه به کافر سهار به مؤمن وي خپل دین به په دنیایي ګټو خرڅوي

هغه د ظلم او تیري څخه ډکه فتوی چې د ځیني شکست خوړونکو او ناکامو خلکو له خوا صادره شوې ده په کومه کې چې راغلي دي : هغه عسکر چې ځانونه مسلمانان بولي د امریکایي حکومت په ملتیا د افغاني مجاهدینو سره په جګړه کې د ګډوالي جواز ورکوي او رواېي بولي ، په حقیقت کې دا د اسلامي فقهې ، پوهې او د ایمان د احساس سره هیڅ تړاو نلري او نه په ښکاره د فقهي او اصولي قاعدو او اساساتو بناده او د د مؤمنانو د لارې څخه مخالفه ده ځکه چې ټول مسلمانان پدې متفق دي چې چا د مسلمان په مقابل کې د کافر سره مرسته وکړه نو دا د اسلام د نوقضو ( ماتوونکو) څخه د یوه ماتوونکي مرتکب شو ، او دا بهانه چې دا په زور سره منځته راغلي ، صحیح نده ځکه چې د مقتول وینه د قاتل د وینې څخه بې ارزښته او کم اهمیته نده ، او نه د قاتل وینه د مقتول د وینې څخه غوره او ارزښتناکه ده .

---

- سورت النحل آیت 107. [18]
- صحیح مسلم نمبر 118 . [19]

(c) ketabton.com: The Digital Library

- فقهاء پدې متفق دي که چیرې په یو سړي زور راو ړل شي چې فلانۍ مسلمان سړۍ چې هیڅ ډول ګناه و نلري ووژني نو په ده یې وژل حرام دي .

د مسلمان د پاره دا نشته چې د نورو د وینو تویولو لپاره خپل ځان د وژلو څخه وساتي .

الله پاک فرمايي : وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ ...﴿151﴾ 20

ژباړه : او مه وژنۍ تاسې نفس ، هغه نفس چې حرام کړي دي الله ( وژل ) یې ، مګر ( وژنې یې ) په حقه سره

په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي : وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿93﴾ 21

ژباړه : او هغه څوک چې مړ کړي کوم مؤمن په قصد سره ( او د مسلمان دغه قتل روا هم و ګڼي ) نو جزا دده دوزخ دی ( په داسې حال کې ) چې تل به وي دی ( دغه حلال ګڼونکی د قتل ) په هغه دوزخ کې او غضب ( قهر) کړی دی ، الله په ده باندې او لرې کړی دی ( الله ) دا ( قاتل ) له خپل رحمت څخه او تیار کړی دی ده ته ، عذاب ډیر لوئ .

دا مسئله مې په بل ځای کې راوړې ده او مهمو مسئلو ته مې پدې باب کې اشاره کړې ده .

اوس د یو قیمتي او ارزښتناک کتاب په وړاندې چې نوم یې دی :

« د هغه چا په وړاندې چې د امریکایانو سره مرسته کوي د کفر څرګند دلیل دی »

پدې بحث کې مسلمانان ویروړلي شویدي چې د یهودو ا و نصاراؤ سره د مسلمانانو په مقابل کې مرسته و نکړي ، خپل حواس مې دیته متوجه کړي او ټولې هڅې مې په کار اچولې دي ترڅو ددې مسئلې حکم بیان کړم– او کوښښ مې کړی تر څو د مخکینیو امامانو او وروستنیو ټولو څرګندونې را ټولې کړم ، او مسلمان د خپل دین څخه پوره پوه ، او زیات معلومات ترلاسه کړي .

او پدې کې هیڅ اختلاف نشته چې د مسلمانانو په مقابل کې د کافرانو سره مرسته کوونکۍ مرتد دی .

---

- سورت الانعام آیت 151. [20]
- سورت النساء آیت 93 . [21]

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې ارزښتناک علمي بحث کې ګڼ‌شمېر موضوعات او غوره ګټې او لوېې معناګانې ښودل شوې دي په ځانګړي توګه د واقعي مسلمانانو سره مرسته آن تردې چې د منافقینو او بد بختو خلکو له پلوه د انصاف او عدل په نظر یې لیدنه او دامرسته او کومک د جهاد د بابونو څخه یو باب او دایمان له نښو څخه یوه نښه ده .

دغه مسئله می د قیاس په برخه کې راوړې ده او پدې سره مې دلیلونه راوړي چې د مرسته کوونکي او ساتونکي حکم داصلي کارکوونکي په څېر دي او دایوه اتفاقي مسئله ده چې په اجماع سره ثابته شوې ده .

وروسته له دې د څرګندو دلیلونو دشتون په صورت کې زیات څه نه وایم یوائې د دلالت سببونه ټول په یو ځای راوړم ، او هغه داچې کوم امریکایان چې ځانونه مسلمانان بولي او دوی د امریکایې لښکر سره د مسلمانانو په ضد جنګیږي په دوی داد کفر او ردت حکم ښه د تطبیق وړ دی ترهغه چانه چې یوائې په مال ، نظر او یاځه نورو ډولونو مرسته ورسره کړې وي او په جنګي مرکزونو او لښکرو کې یې ورسره ګډون نه وي کړی او نه یې دامریکا تابعیت اخستی وي .

ددلالت وجه یې داده : چې داقیاس ډیر غوه او پرځای دی او یاه مفهوم موافقت ترې مراد دی او یاداسې ورته وایي دا ترهغې نه ډیر غوره دی .

باید ووایم : د کافرانو تابعیت  اخستل په خپله خوښه او رضاسره پرته له کوم زور او بیا ددغه کفري تابعیت په غوښتنه د کافر هیواد او دهغه له وګړو څخه دفاع ا و ساتنه او همدارنګه نور ډول ډول قوانین قبلول د اټو ل کفر دی، پدې کې هیڅ ډول تأویل او ناپوهې ځای نلري ځکه چې دا په شرعي او دیني چارو کې اطاعت دی او همدارنګه په حراموالي او روا والي کې اطاعت او منل دي نو دوی پدې کارسره دا کفار خپل معبودان او خدایان ونیول او پدې کې هیڅ عذر نلري .

الله پاک فرمایي : اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ.. 31﴾ 22

ژباړه: نیولي دي د غو کتابیانو عالمان خپل او عابدان خپل خدایان بې له الله ، داچې متابعت یې کوي په تحلیل او تحریم کې.دعدي بن حاتم رضی الله عنه مشهور حدیث دی چې: الله پاک فرمایي : اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ.. 31﴾ 23

---

22 - سورت التوبه آيت31.

23 - سورت التوبه آيت31.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: نیولي دي د غو کتابیانو عالمان خپل او عابدان خپل خدایان بې له الله ، داچې متابعت یې کوي په تحلیل او تحریم کې.

شیخ أبابطین پدې حدیث د زیاتونې په وخت وویل : الله پاک یې بدي بیان کړیده او مشرکان یې بللي دي سره ددې چې دوی نه پوهیدل چې ددوی داکار دوی ته عبادت دی او هیڅکله په ناپوهی سره معذور ونه بلل شول .24

## دریم مبحث: په عسکری خدمت کی د شمولیت حکم :

په عسکري خدمت کې ګډون په کفرکې ورسره اطاعت دی.

الله پاک فرمایلي دي : إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَى لَهُمْ ﴿25﴾ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴿26﴾ 25

ژباړه : بیشکه هغه کسان چې بیرته ګرځیدلي دي ( له ایمانه ) پرشاؤ پس له هغې څخه چې ښکاره شوي ده دوی ته سمه لار،شیطان ښائیسته کړي دي دوی ته ( ګناهونه ) اومهلت ښکاره کړی دی ،شیطان دوی ته ،دغه ( مهلت دوی ته په سبب ددې دی چې) بیشکه دوی وویل هغو هغو کسانو ته چې بدیې ګاڼه په (قرآن) چې رالیږلئ دی الله ژربه حکم و منو ستاسې( او فرمانبرداري به وکړو) په ځینوکارونوکې(چې مرسته ) ده په جنګ کې .

او هغه امرچې دوی په کې د کافرانو اطاعت وکړ هغه د مسلمانانو په مقابل کې د عسکري خدمت او وطنوالئ په نامه جګړه کول دي .

او بل داد الله متعال فرمان دی چې وايي : وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ (26.121

ژباړه :که تاسو ددوی اطاعت وکړنو بیشکه تاسو به هم مشرکان شئ .

دغو په نامه مسلمانو عسکرو د مردارې په حلال ګرځولوکې د کافرانو تابعداري وکړه او په حلال والي دهغه څه کې چې الله پاک حرام ګرځولي وو ، او په امریکایي لښکر کې د غو مسلمانو عسکرو د خپلو مشرانو

---

-الدررج10 ص 393-394. [24]
-سورت محمد آیت 25-26. [25]
-سورت الانعام آیت 121. [26]

(c) ketabton.com: The Digital Library

تابعدارۍ وکړه چې مسلمانان ووژني کوم چې د امريکايي قانون مخالف دي نو امريکايي قانون او دامريکا په تابعيت لرونکي لازم دي چې دخپل هيواد څخه په ساتنه او دفاع کې مرسته وکړي .

آيا ناپوهی او تأويل عذر کيدای شی ؟

-او کوم چې د تأويل او ناپوهۍ په هکله ده چې ناپوهي کوم وخت عذر ثابتيدای شي دادهغه چا په اړه چې د مسلمانانو په منځ کې او سي او داسلامي او عربي هيوادونو په حدودو کې استوګنه لري او دهغه کافرانو سره چې هم دلته اوسيږي مرسته او کومک کول د وړاندې دليلونو په اساس همدا حکم لري .

اودامسئله پدې وروستيو وختو کې ډيره يادېدله او زياتې پوښتنې راڅخه وشوې

د کافرانو ددوستۍ او مرستې په اړه چې آياتأويل او ناپوهې عذر کيدای شي او کنه ؟

ددې مسئلې ځواب په لاندې ډول دی :

1-د دليلونو څخه د هغو آياتونو او حديثو نو عامې معنا ګانې دي چې دچا په کفر دلالت کوي دادی: څوک چې په طاغوت باندې کفر نه اختياروي او بدې ورسره نه کوي ، د کافرانو او مشرکانو سره د ښمني نه کوي لکه دا قول د الله پاک چې فرمايي : وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ ...﴿36﴾ 27

ژباړه : اوخامخاپه تحقق ليږلي( پورته کړي ) وو موږپه هر(پخواني) امت کې يو رسول ( چې ووايي دوی ته ) چې عبادت کوئ (يوائې) د الله او ځان ساتئ تاسې له شريرانو ( باطلو معبودانو څخه) .

بل دافرمان د الله پاک چې وايي : لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِۖقَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّۚ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ (256 28

ژباره : پس هرهغه څوک چې کافر(منکر) شو له ( عبادت د شيطان) او بتانو او ايمان يې راوړ( يقين يې وکړ) په ( وحدانيت ) د الله باندې نو په تحقيق سره ئې ټينګه نيولې ده ،کړی ( رسۍ) .

بل داقول د الله پاک چې فرمايي : قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءاؤا مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاء أَبَدًا ...﴿4﴾ 29

---

[27] -سورت النحل آيت 36.
[28] - سورت البقره آيت 256.
[29] - سورت الممتحنة آيت 4.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : په تحقيق سره تاسې لره ( ای مؤمنانو ) طريقه ښه ( چې اقتداء پسې کولۍ شي ) په ( قول او فعل ) د ابراهيم کې او په ( قول او فعل ) دهغه چاکې چې له ده سره ؤ ( له مؤمنانو) کله چې وويل ددغه ابراهيم او اتباعو يې مشرکانو د قوم د دوی ته چې بيشکه موږ جلا ، بېزاره يو له تاسې څخه او بېزاره يو له هغه څيزه چې عبادت يې کوئ تاسې يې له الله منکران شوي موږ( په باطل دين ) ستاسې باندې او ښکاره شوې ده په منځ زموږ ا وستاسې کې عداوت د ښمنې او بغض حسد ابدي هميشه د تل لپاره

او ددې حديث شريف عامه معنی چې فرمايي : عن طارق بن أشيم الأشجعي رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم : مَن قالَ: لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَكَفَرَ بما يُعْبَدُ مَن دُونِ اللهِ، حَرُمَ مَالُهُ وَدَمُهُ، وَحِسَابُهُ علَى اللَّهِ. وفي رواية: مَن وَحَّدَ اللَّهَ... ثُمَّ ذَكَرَ، بمِثْلِهِ. 30

ژباړه : چاچې دا کلمه تو حيد وويله او پرته له الله پاک څخه د نورو باطلو معبودانو څخه منکر شو نو په نو په خلکو يې مال او ځان حرام شو ، او څوک ناحقه تيرئ پرې نشي کولای ، او حساب يې دالله پاک سره دی ، په بل روايت کې راغلي دي : چاچې د الله پاک توحيد ومانه ، بيايې حديث ذکر کړ .

2-د مرتدانو په جګړه کې په يقيني ډول ځينې عوام خلک هم وو او ځينې دوکه شوي هم وه چې داصلې مسئلې څخه بې خبره پاته وو او دمرتدانو په کتار کې و جنګيدل ملګري او مرسته يې ورسره وکړه ، ددې سره سره صحابه کرامو د هغه چا ترمنځ توپير و نکړ چې په يوهه او قصد يې د مسلمانانو په مقابل کې جنګ کړی وو ، اوهغه څو ک چې په ناپوهۍ او تأويل سره په جنګ اخته وو ، بلکې د ټولو په وړاندې يې يو ډول چلند ترسره کړ هغه : ددوی وژل او کافر ورته ويل ، ښځې يې د کنيزوپه ډول راوستل او ماشومان يې د غلامانو په څير بيول او پدې ګواهي ورکول چې مړۍ يې ددوزخ په اورکې دی ، همداوينا د حضرت ابوبکر الصديق رضی الله عنه څخه په صحيح سند سره راغلې ده لکه څنګه چې امام محمد بن سليمان رحمت الله عليه د مسيلمة الکذاب او نورو مرتدانو داتباعو په هکله ويلي دي : علماؤ پدې اتفاق کړی چې دوی مرتدان دي ، اګر که هغوی پرې پوه هم نه وي .31

3- هغه کسان چې دبدر په غزا کې د قريشو تربيرغ لاندې د مسلمانانو مقابلې ته راووتل هغوی ويل چې موږ په زور را وستل شوي يو لکه څنګه چې ځينې علماؤ ويلي دي ، عباس بن عبد المطلب رضی الله عنه هم همداسې دعوی وکړه ددې سره سره دعباس رضی الله عنه دغه دعوی رد کړل شوه او دظاهري حالت ته

---

- صحيح مسلم نمبر 12 ، حديث صحيح دی . [30]
-الدرر ج 8 ص 118 . [31]

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کتلو يې چلند ورسره وکړ ، په هغه صورت کې چې په زور بيول و نه منل شي او دايو قوي عذر دی ، نو څنګه به تأول او ناپوهي عذروبلل شي چې داداصل څخه يو کمزورۍ او ضعيف عذر دی .؟

4عبد اللطيف بن عبد الرحمن آل الشيخ د ابن تيمية رحمت الله عليه د وينا په وضاحت او څرګندولو کې ويلي دي : هغه څيزونه چې هغه د الله پاک د يو والي ( توحيد) او په پيغمبر صلی الله عليه وسلم باندې دايمان راوړلو ماتوونکي ( نواقض) وي نو ابن تيمية رحمت الله عليه په ډير ځايونو کې دداسې کارونو کوونکو ته کافر ويلي دي ، او د توبې د غوښتلو څخه وروسته يې د وژلو په ښکاره سره ويلي دي او ددوی ناپوهۍ ا وجهل ته يې عذر ندی ويلئ . 32

ددلالت وجهه يې داده : د کافرانو سره دښمني او دهغوئ بد ګڼل د مسلمانانو سره دوستي د توحيد د مسئلو څخه دي او د دې مسئلو عکس او ضد يې د توحيد د ماتوونکو( نواقضو ) څيزونو څخه بللی دی او پدې اړه هيڅوک په تأويل او ناپوهۍ سره معذور نه شميرل کيږي ، لکه څنګه چې ابن تيمية رحمت الله عليه ويلي دي .

5-عبد الرحمن بن حسن آل الشيخ ويلي دي : علماؤ پدې موضوع کې مستقيم او برابر منهج په مخکې نيولئ او غوره کړی يې دی ، د مرتد باب يې ذکر کړی دی او هيڅا ددوی څخه داندي ويلي چې چا د کفر ويناوکړه او ياپې د کفر فعل وکړ او داکس نه پوهيده چې دا څيز د توحيد او رسالت د کليمې سره مخالف دی ، نو دی په ناپوهۍ سره نه کافر کيږي بلکې دلته ناپوهي عذر نه دی او داکس کافر دی .33

ددلالت وجهه يې داده : د مسلمانانو په مقابل کې د کافرانو ملګرتيا د هغه څيزونو څخه ده چې د شهادت دکليمې سره ضد او مخالفه ده ، نو تأويل او ناپوهي عذر ندی او تأويل هم د ناپوهۍ او جهل يوه څانګه ده .

6- شيخ سليمان بن عبد الله ويلي دي : که څوک د توحيد کليمه ووايي او دهغې په معنی او غوښتنه چې د توحيد منل ، د طاغوت نه منل او شرک پريښودل دي و نه پوهيږي نو په اجماع سره دا کليمه کومه ګټه ورته نه رسوي .34

ددلالت وجه يې داده : د کافرانو سره د مسلمانانو په مقابل کې ملګرتيا په طاغوت د ايمان راوړلو په معنی ده او دا په الله جل جلاله د ايمان ضد ده .

---

-منهاج التأسيس ص 101، الدرر ج10 ص 432-433. [32]
-الدرر ج 11 ص 479. [33]
- التيسير د شيخ سليمان بن عبد الله ليکنه ص ١٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

7- حسين او عبد الله د امام محمد زامنو ويلي دي :چاچې و‌ويل زه له مشرکانو سره دښمني نه کوم ، ياپې دښمني ورسره کوله خو کافرېي ورته نه ويل ، او ياپې ويل زه د هغه چا مقابله نه کوم چې لااله الاالله کليمه يې ويله اګر که د کفر او شرک کارونه يې کول او ددين سره يې دښمني کوله ، او ياپې ويل زه د ګومبزو مخالفت نه کوم يعني : د هغه ګومبزو چې به قبرونو جوړې شوې وې نو دغه شخص مسلمان ندی بلکې د هغو په ډله کې دی چې الله پاک يې په هکله دا فرمان راليږلئ : ...وَيقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلًا ﴿150﴾أُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا ...﴿151﴾ 35

ژباړه : چې ايمان راوړو پر ځينو او کافران کيږو پر ځينو ( د نورو رسولانو ) او اراده لري دوی چې ونيسي په منځ ددې ( د کفر اواسلام کې ) يوه لاره دغه ( تفريق کوونکي ) هم دوی کافران دي په حقه سره .

الله پاک د مشرکانو دښمني او دهغوی پريښودل او کافر ګڼل يې پر موږ لازم ګرځولي دي .36

عبد الرحمن بن حسن ويلې دي : د توحيد د ډلې لپاره تو حيد نه پوره کيږي ترڅو چې د مشرکانو څخه ځان جلا نه کړي او دهغوئ سره د ښمني و نه کړي . 37

څوک چې د کافرانو په څنګ کې و جنګيدل د هغوئ څخه نه جلا کيږي بلکې د کفر نوم نه ترې بيليږي .

ددلالت وجه يې داده : چاچې د عيسويانو سره ملګرتيا او مرسته وکړه نو دغه شخص د عيسويانو څخه شميرل کيږي ، ځکه چې دښمني يې ورسره ونه کړه او بد يې ونه ګڼل بلکې ظاهري حالت داوه چې د عيسويانو په مرسته خوښ وه ، نو ځکه يې ورسره کومک وکړ ، پدغه مسئله کې په زور اړ کړی شوی هم معذور ندی نو د تأويل کوونکی او ناپوه په اړه ستا څه خيال دی هغه چې د مسلمانانو په منځ کې او سيږي بلکې دغه کس ددين څخه مخ اړه وونکی او منافق دی .

8- په آخر کې : ملګرتيا او دوستي د توحيد د اساساتو څخه ده او دا دبيزارئ او برائت د لويو اصولو او دطاغوت د نه منلو څخه ده او دابراهيمي ملت لويې قاعدې ګڼل کيږي او هغه د کافرانو بد ګڼل او ورسره دښمني کول دي ،نو پدې اساس د مسلمانانو په مقابل کې د کافرانو سره مرسته او کومک په دوو خطر ناکو څيزونو دلالت کوي :

- سورت النساء آيت 150. 35
- الدرر ج 10 ص 139- 140 . 36
- الدرر ج 11 ص 434 . 37

(c) ketabton.com: The Digital Library

أ – د مؤمنانو سره د دوستۍ نشتوالی : پدې دلیل چې د مسلمانانو د وژلو ، دلیل کولو او قوت ختمولو په خاطر د کافرانو سره مرسته کړی .

ب – د کافرانو سره ددښمنۍ نشتوالۍ : ځکه چې د کافرانو سره مرسته د هغوی سره ددوستۍ ، احترام ، عزت ، کومک کولو پوره دلیل دی ، چې پدې کې د مسلمانانو خواري ، سپکوالۍ او د قوت له منځه تلل یې په کې نغښتي دي ، نو پدې سره هغه دواړه اصلونه له منځه لاړل ، هغه اصلونه چې په تأویل او ناپوهۍ سره یې څوک معذور کیدای نشي .

شیخ ابابطین د ابن تیمیه رحمت الله علیه څخه نقل کړی دی چې وایي : هغه ښکاره او ظاهر څیزونه چې خاص او عام مسلمانان پرې پوهیږي چې داسلام ددین څخه دي ، لکه یواځې د یو الله پاک په عبادت امر ، د یهودو او نصاراوو او مشرکانو سره دښمني ، د فحشاء ، سود ،شرابو او قمار وهلو حراموالی او داسې نور ، نو پداسې مسئلو کې تأویل او ناپوهي عذر ندی او کوونکی یې په مطلق ډول کافر ګڼل کیږي .38

دایو ښکاره او څرګند ثبوت دی ، زموږ په وړاندې د ډیرو مهمو او ارزښتناکو دلیلونو څخه دی چې د یهودو ، عیسویانو او مشرکانو سره دښمني د هغه څرګندو او واضحو مسئلو څخه ګڼل کیږي چې په ناپوهۍ او تأویل سره یې څوک معذور نشي ګڼل کیدای دهغه چا په برخه کې چې په عربي او اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو په منځ کې استوګنه لري .

د ابن تیمیة رحمت الله علیه څخه یې نقل کړی دی وایي : کوم کار چې پوره ښکاره او واضح وي او د خبرونو او اوامرونو پورې تړاو ولري ددین اصل او اساس دی نو هیڅوک د هغه په هکله معذور کیدای نشي .39

هغه چاچې د تأویل او ناپوهۍ په اړه دعذر ګڼلو په هکله فتوی ورکړې پدې چې د مسلمانانو په منځ کې استوګنه لري او بیا د مسلمانانو په مقابل کې د کافرانو سره ملګرتیا او مرسته وکړي معذور ندی پدې اړه د لاندینیو علماؤ نظر دی :

أ- حافظ ابن کثیر رحمت الله علیه د الله جل جلاله ددې قول په اړه ویلي دي چې فرمایي : فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ...﴿52﴾ 40

---

- الدرر ج 10 ص 272- 273 پورې په لنډيز سره . [38]
- ادرر ج 10 ص 388. [39]
- سورت المائده آیت 52 . [40]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : نو وبه وينې ته هغه کسان چې په زړونو ددوی کې مرض رنځ ( نفاق ) دی چې ځغلي به په (دوستۍ) ددوی کې وائي به دوی ( په عذر کې چې ) ويريږو له دې نه چې و به رسيږی موږ ته کومه حادثه .

په ج 2 ص 69 کی دالله پاک ددې قول په اړه وايي چې: فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ...

ژباړه : نو وبه وينې ته هغه کسان چې په زړونو ددوی کې مرض رنځ ( نفاق ) دی.

کوم شک ، شبهه او نفاق دی ، « يُسَارِعُونَ فِيهِمْ » چې په چالاکۍ سره ځغلي دوستی او مينې د کافرانو ته په ظاهره او په پټه کې ، « نَخْشَى أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ » ژبه اړوي د کافرانو په دوستی کې چې دوی ويريږي له دې خبرې څخه چې د مسلمانانو په مقابل کې به د کافرانو د بريالیتوب او کامیابۍ کوم کار د هيلې په خلاف را منځته شي بيابه ددوی لپاره د خلاصون کومه لاره د يهودو او عيسويانو سره موجوده وي او دوی ( منافقان ) ته به ګټه ورسوي .

## څلورم مبحث: د علماوو نظريات

ج – شيخ سليمان او شيخ حمد بن عتيق دواړو په هغه پيښه کې کتابونه وليکل او فتوا يې ورکړه کله چې د مشرکانو لښکرو په عربي جزيرې او نورو ښارونو يرغل ور وړ ، د عربي جزيرې ځينو قومونو ددې لښکرو سره مرسته وکړه بيا دوی ددې مرسته کوونکو په اړه دکفر او مرتد کيدو وويل او په ناپوهی او تأويل سره يې معذور ونه بلل .

د- شيخ احمد شاکر رحمت الله عليه دهغو مسلمانانو په اړه چې د کفر او ارتداد فتوی يې ورکړه او د انګريزانو سره يې مرسته وکړه او دمسلمانانو په منځ او اسلامي نړۍ کې اوسيدل، په اړه يې شيخ احمد شاکر رحمت الله عليه وويل : د انګريزانو سره مرسته هر ډول چې وي لږ،وي او که ډيره دايو صريح او ښکاره کفر او څرګند ردت دی ، پدې کې هيڅ ډول عذر نه قبليږي او تأويل کومه ګټه نه رسوي .

ددې علماؤ يادونه پدې معنی نده چې په مسئله کې کوم اختلاف دی او يا ځينې نور داسې دي چې داسې وينا نه کوي او يا چوپ پاتې شوی دي ؟ مسئله داسې نه ده ؟ بلکې مسئله اتفاقي ده ، د اجماع د ځينو غړو يادول اجماع قوي کوي ، نه داچې اجماع ماتوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم : د غوره والي قياس ( قياس الأولى )

هغه د موافقت مفهوم كوم چې ددې څخه غوره دی ، دداسې څيزونو په راوړلو چې هغه ددوستۍ ، دښمنۍ او طاغوت د كافر كيدو د أصل څخه څه كم دی خوبيا دهغه ناپوه او تأويل كوونكی لپاره چې د مسلمانانو په منځ كې موجود وي په عربي او اسلامي نړۍ كې او سيږي عذر نشته او داپه لاندې ډول دي :

1-امام شافعي رحمت الله عليه ويلي دي : علم په دوه ډوله دی :

- عام علم دی : چې پرته له هغه چا څخه چې په عقل يې ناپوهي زياته وي نورو ټولوته رسيږي لكه : پنځه لمونځونه ، د الله پاک لپاره په خلكو روژه نيول ، د بيت الله شريف حج د هغه چا لپاره چې وس ولري ، او دمالونو زكات وركول ، او كوم چې الله پاک حرام گر ځولي دي لكه : زنا ، قتل (وژنه ) ، غلا، او شراب خوړل . او ځينې نور اعمال چې الله پاک په خپلو بندګانو باندې لازم كړي دي چې پرې پوه شي او عمل پرې وكړي ، او دخپلو ځانونو او مالونو څخه يې وركړي او دهغه څه نه ځانونه وساتي چې الله پاک پرې حرام كړی دي ، او دا ډول علم په ليكلي شكل موجود دی ، د الله پاک په كتاب كې په عام ډول شته بيايې عام مسلمانان د عامو مسلمانانو څخه د مخكينيو خلكو څخه نقل كوي ، د پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه يې حكايت كوي ، د هغه په نقلولو او واجب ګرځولو كې هيڅ اختلاف نلري ، دا هغه علم دی چې پدی كې د دينا غلطي او تأويل امكان نلري او نه اختلاف په كې روا دی .41

ددلالت سبب يې دادی : دعامو خلكو علم هغه دی چې عام وګړي يې پيژني او هغه چاته چې د عامو وګړو او مسلمانانو په منځ كې استوګنه لري د نه پيژندلو هيڅ عذر يې نشته او له دې څخه ددين د اصل او اساس پيژندل دي چې هغه توحيد ، د مسلمانانو سره دوستي او په طاغوت باندې ايمان او تصديق نه كول دي .

2- دالمغني كتاب ليكوال د زكات په كتاب كې د هغه چا په هكله چې د زكات څخه انكار لري وايي : كه چيرې په اسلامي هيواد كې د عالمانو په منځ كې مسلمان لوی شوی وي او بيا دزكات څخه انكار وكړي نو دامرتددی او او دمرتدانو احكام پرې تطبيق كيږي .

ابن ابی عمر په شرح كبير كې د لمانځه څخه د انكار كوونكي په هكله وايي : او كه داسې وي چې دمسلمانانو په منځ كې په ښارونو كې لوی شوی وي ، او پدې باندې پوهيږي ، نو د ناپوهۍ دعوی يې نه قبليږي او كافر بلل كيږي ځكه چې د كفر دليلونه يې څرګند دي ، كه چيرې دا مسئله په زكات او لمانځه كې وي او عذر يې

41 - الرسالة ص 357-359 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه منل کيږي نو څه ګومان کوي په هغه څه کې چې د لمانځه او زکات څخه او چت او ددين اساس شمېرل کيږي چې هغه توحيد ، د مسلمانانو سره دوستي او په طاغوت کافر کيدل دي .

3- ابن تيمية رحمت الله عليه د صحابه کرامو او امامانو پدې مسئله کې اتفاق نقل کړی چې څوک د ظاهرو متواترو فرضونو څخه لکه لمونځ ، روژه ، او حج څخه منکر شول او يا د ظاهرو متواترو حرام کړی شوو څيزونو لکه د ټولو بدو او فاحشو کارونو څخه منکر شو او يا د ځينې ظاهرو متواترو مباحو څيزونو څخه لکه : د غوښې نه منکر شي نو دا شخص کافر او مرتد دی تو به د وباسي او که توبه يې ونه ايستله و دې وژل شي ، او که دا کفر يې پټ کړنو داشخص زنديق او منافق دی . 42

- داسلام د څلورو ارکانو څخه په انکار سره معذور نه شمېرل کيږي نو څرنګه به داسلام د لومړې رکن څخه د انکار په صورت کې معذور وبلل شي ؟

شيخ محمد بن سليمان ويلي دي : ابن تيمية رحمت الله عليه څوک د ظاهرو مسئلو څخه په انکار کولو معذور نه شميري . 43

4- ابن تيمية رحمت الله عليه په شرح العمدة کې ويلي دي : څوک چې د لمانځه څخه د ناپوهۍ په پلمه منکر شو نو لمونځ د ورته وښودل شي لکه :څو ک چې نوی مسلمان شي او څوک چې د ښار څخه لرې په اطراف کې لوئ شو ځکه چې اطراف ( بانډه ) زياتره د ناپوهۍ ځای دی نو هم د لمونځ ورته وښودل شي او که د ضد او عناد له وجهې يې ترې انکار وکړنو دی کافر شو .

ابن تيمية رحمت الله عليه ويلي دي : د اسلام په پنځو بناوو کې دايو منل شوی اصل او اساس دی او په هغو ټولو ظاهرې اتفاقي احکامو کې هم ، او هغه څوک چې په اسلامي چاپيريال کې لوی شوی وي اوداسې وښودل شي چې دغه احکام ورته رسيدلي دي نو بيا داخبره چې پرې نه پوهيږي نه منل کيږي ، دا قول کتې مټ ليکل شوی دی .

- فتاوی ج 11 ص 405 [42]

-الدرر ج 9 ص 405. [43]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددلالت وجه يې په مخکيني مسئله کې له ورايه ښکاريږي .

شيخ ابابطين د ابن تيميه رحمت الله عليه څخه داسې نقل کړی دی : چې د ابن تيميه رحمت الله عليه وينا پدې دلالت کوي چې ددليل پوهيدل په هغه څيزونو کې اعتبار لري چې ډيرو وګړو ته يې حکم څرګند نه وي مګر د توحيد او رسالت په برخه کې څه خبر نشته ، يعني ددې پوهيدل پرهرچا فرض دي . 44

دريم : په مشابهت باندی د قياس کولو دلالت٠( يعني ددې حکم څه شی دی ) : چې دا په تأويل نه کولو پورې تړي .

ورته وايو : چې د مسلمانانو سره مرسته نه کوي ، محبت ورسره نه لري ، بلکې دښمني ورسره کوي او بد يې تړې راځي آيا دا کس مسلمان کيدای شي ؟ او په تأويل سره معذور ګڼل کيدای شي ؟

که چيرې ځواب په نه سره وي نو عکس او ضد يې هم په حکم کې همداسې دی ، همدارنګه د کافرانو سره مرسته او کومک او محبت لرل دي چې په تأويل معذور کيدای نشي ، ځکه چې دوستي او دښمني سره ضد دي يوځای کيدای نشي اونه يوه د بلې په ځای راتلای شي .

ابن تيميه رحمت الله عليه د الله پاک د لاندې قول څخه وروسته داسې ويلي دي : تَرَى كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿80﴾ وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِالله والنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاء ...﴿81﴾ 45

ژباړه : نه به وينې ډير له دوی چې دوستي به کوي له هغو کسانو سره چې کافران شوي دي ( بيا قسم دی ) چې خامخا بد ؤ هغه شی چې پخوا ليږلي ؤ دوی ته ځانونو ددوی ( چې هغه شی موجب ؤ ) ددې چې په غضب شو الله پردوی او په عذاب کې دوی به تل وي ، او که وی دوی چې ايمان يې راوړی وی ( دزړه نه ) پر الله او نبی ( محمد يا موسی ) او په هغه کتاب چې نازل شوی دی ده ته نو نه به وو نيولي دوی دا مشرکان دوستان .- شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه وايي : دغه ياد شوی ايمان ددوی دوستي له منځه وړي او نفی کوي يې ايمان راوړل او دکافرانو سره دوستي په يوه زړه کې نه سره يو ځای کيږي او داپدی دلالت کوي چاچې له کافرانو سره دوستي وکړه نوهغه لازم ايمان يې په الله پاک باندې او دهغه په پيغمبر باندې او دهغه په رالېږل شوی کتاب باندې ترسره او ښکاره نه کړ . 46

- الدرر ج 10 ص 368. 44
- سورت المائده آيت 80، 81 . 45
- فتاوی ج 7 ص 17. 46

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې ډول د الله پاک سپيڅلی فرمان دی چې : « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ... ﴿51﴾ 47

ژباړه : اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی ( مؤمنانو) مه نيسی تاسې يهودان او نصرانيان دوستان ( چې له دوی سره موالات او مودت وکړی) ( دوی يو تربله ) ځينې دوستان دي د ځينې نورو ( ځکه چې ټول سره په کفر کې شريک دي او ټول تاسوته يو دي ) او هرچاچې دغسې وکړه له دوی سره له تاسې ځينې نو بيشکه چې دی هم له دوی څخې دی .

بيشکه الله پاک پدې آياتونو کې وښودل چې دکافرانو سره دوستي کوونکۍ مؤمن او مسلمان ندی ، او الله پاک خبر ورکړ چې د کافرانو سره دوستي کوونکۍ د همدوی له ډلې څخه دی او د قرآن کريم ځينې آياتونه د ځينې نورو تصديق او رښتياوالی کوي .

حافظ ابن القيم رحمت الله عليه وايي : الله تعالی حکم کړی دی چاچې له چاسره دوستي غوره کړه په تحقيق سره داکس له همغو څخه دی او ايمان يې نه پوره کيږي مګر دا کافرانو څخه په بيزاری سره ، دوستي دد ښمنۍ ضد او عکس ده ، هيڅ کله دوستي او دښمني نه سره يو ځای کيږي .48

-امام مناوی رحمت الله عليه د زمخشری رحمت الله عليه نقل کړی چې هغه ويلي دي : ددوست دوستي او ددښمن دوستي يې يو دبل سره ضد او عکس دی .49

-امام بيضاوی رحمت الله عليه وايي : د دوو دښمنانو دو ستي نه سره يو ځای کيږي .

څلورم : هغه تاريخي پيښې چې دهغه په کافرکيدو باندې راوړل شوی دي ( يعني د کافرانو سره يې مرسته کړې وه ) .

ددلالت وجه يې داده : دوی دا کيسې د معلومو کسانو په هکله ذکر کړې دي ځکه چې دچا په هکله چې پوښتنې کيدلې هغوی معلوم خلک وه او دهغوی په کفرېې فتوی ورکړه او جدايي او بيلتون يې په کې راوست او معين کول يې پدې دليل دي چې ناپوهي او تأويل عذر نشي کيدی او که په منځ کې يې څه توپير موجودوی نو پرته له تفصيل او بيان څخه به يې په معلوم کس داحکم تطبيق کړی وای ، ظلم ، تيرې او دحد څخه تيريدنه وه ، په همدې ډول د توبې ايستلو غوښتنه دهغه چا په هکله چې وويل شي توبه وباسي ، دا ديو نوم

---

- سورت المائده آيت 51. 47
- احکام أهل الذمة ج 1 ص 242. 48
- فيض القدير ج 6 ص 111. 49

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایښودلو لکه مرتد کیدل او داسې نور د څیزونو د واقع کیدو دلیل دی اوداسې ویل پرته له معلوم شخص څخه بل چاته نه ویل کیږي .

پنځم : په آخرکې هغه چاته ویل کیږي چې دکافرانو سره ملګرتیااو مرسته یې د مسلمان لخوا په ناپوهۍ او تأویل سره عذر بللئ دی ، ته باید دلیل راوړې ځکه داکار د اصل او عموم مخالف دی ، پدې ډول شبهې سره بله خطر ناکه شبهه هم شته هغه داچې دکافرانو سره مرسته یې په عقیده پورې تړلې اوهغه داچې ترڅو یې اعتقاد ، باور او یقین رانشي نه کافر کیږي او دا « ارجاء» ده اوبس . ۰( یعني : ارجاء هغه ته وایي چې عمل په ایمان پورې تړلئ نه بولي ) .

حکم او یاکوم څیز چې په عمل پورې وتړل شي او امر په دلیلونو کې ښکاره او څرګند وي بیا اعتقاد ته واړول شي همداد خبیثې او کرغیړنې ارجاء اصل او اساس دی .

دنویو مرجئه ؤ شبهه داده : د اسلام تر بدګڼلو او ددوی تر کفر پورې د مرستې تړل .

نوواېي : چاچې د کافرانو سره پدې مرسته وکړه چې داسلام څخه یې بد راتلل او نفرت یې تری کاوه ، او یایې د کافرانو سره ددوی د کفر په خاطر مرسته وکړه همدا کس کافر کیږي او له دې پرته نه کافر کیږي .

دایوه باطله او ناروا خبره ده او دشرعي نصوصو سره په ټکر کې ده ، الله پاک فرمایي :مَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ...﴿51﴾ 50

ژباړه : او هرچاچې دوستي وکړه له دوی سره له تاسې ځینې نو بیشکه چې دی هم له دوی ځنې دی .

ددلالت وجه یې داده : دحکم ارتباط او تړاو یې ترفعل پورې ورکړ چې هغه دکافرانو سره دوستي ده او دوستي ښکاره فعل ته وایي او ارتباط ورکول تر عقیدې پورې په عام ډول او یاد ځینې معلومو او معینو مسئلو په ډول لکه : د اسلام سره بغض او نفرت او یا دکافرانو د کفر په سبب او داسې نور داهغه تړاو دی چې الله پاک پرې تړلې ندي .

دوهم دلیل: هغه چې تیر شول د عباس رضی الله عنه او څو نورو کسانو دمسلمانیدو څخه وروسته د بدر په غزاکې چې د مسلمانانو په ضد یې په جګړه کې برخه اخستې وه نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ددوی

---

50 - سورت المائده آیت 51.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه د تفصیل غوښتنه ونه کړه چې آیا په زړه کې د هم همداسې دي او همدا عقیده لري یانه ؟ بلکې حکم يې په ظاهري عمل پورې وتاړه او ورته ويې ويل : زموږ حکم ستا ظاهرته ګوري .

دریم دلیل : علماؤ دغه مسئله په مطلق ډول په ډیر و ځایونو کې ذکر کړی ده چې را غونډول يې ګران کار دی ، او ټولو په اتفاق سره دا مسئله په اعتقاد او باور پورې نه ده تړلې ، او نه به يې دهغه چاڅخه چې همداسې کاريې کاوه دا پوښتنه کوله چې ستا باور او اعتقاد څه ډول دی، په حدیث شریف کې راغلي دي :

عن أم المؤمنین عائشة رضی الله عنها عن النبی صلی الله علیه وسلم قال : مَن أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هذا ما لیسَ فِیهِ، فَهو رَدٌّ . 51

ژباړه : دام المؤمنین عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : چاچې زموږ په دین کې یو نوی کاروکړ چې په دین پورې يې تړاو نه درلود نو دا کار نه منل کیږي .

بلکې داهغه بدعت دی چې ننیو مرجه ؤ ته د پرونیو مرجه ؤ څخه په میراث پاتې دی .

که مسلمانانو د قوي اوزبر ځواکو کافرانو څخه مرسته اوکومک غوښتی وای او هغه کافران چې په ډاګه غالب او د توان او قوت څښتنان دي او بیا د مسلمانانو په مقابل کې و جنګیږي ، پدې نیت نه چې د اسلام څخه نفرت کوي او بد يې ایشي او نه د کافرانو دکفر په خاطر او نه دکوم بد نیت او ناوړه اعتقاد او باور په خاطر ، بلکې د کافرانو سره د یو نیک کار د سرته رسولو لپاره يې ترې مرسته و غوښته نو دا کار او مرسته غوښتل او ملګرتیا ده ، په ځانګړي ډول که ددې سره د کافرانو ثناء اوصفت هم یو ځای شي ، لکه چې ووايي دا کافران ډیر عادل او باانصافه خلک دي ، لکه نن ورځ چې دامریکا په هکله هم ویل کیږي ، امریکایان د عدل اوانصاف څښتنان دي ، په نړئ کې دظلم اوتیري د له منځه وړلو او عدل راوستلو بیرغ يې پورته کړئ دی اوداسې نور !

شیخ محمدبن ........ وايې : که چیرې فرض کړو چې د المغرب ( لویدیځ ) پاچا د خلکو په مالونو او ښارونو باندې دیرغل په درشل کې ډیر لوی ظلم وکړ او ددې سره سره بیا دا خلک ددې څخه ویریدل چې سیمه اوهیواد به يې په ظلم او تیري سره ونیسي او پدې پوهیدل چې داروپا له مرستې پرته د پاچا مقابله نشي کولای او پدې پوه شول چې اروپایان مرسته ورسره نه کوي ترڅو چې ووايي موږ ستاسو سره په دنیایې او دیني چارو کې موافق یو او ستایو دین حق اوربښتیا دی او دپاچا دین باطل دی او په ډاګه سره يې داخبره

- صحیح البخاری نمبر 2697 ، صحیح مسلم نمبر 1718 . [51]

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکرار کوله سره ددې چې دامسلمانان د اروپايانو په دين کې داخل شوي نه وو او نه يې په عملي ډول اسلام پرېښئ وو مګر کله يې چې په ډاګه سره خپله وينا واوروله او مقصد يې د ځان څخه د ظلم دفع کول وو، نو آيا پدې کې به څوک شک ولري چې دا خلک د کفر او ارتداد څخه په اوچته توګه مرتد شول ، کله يې چې وويل : د پاچا دين باطل دى او دوى پدې پوهيدل چې دپاچا دين حق دى اوښکاره يې کړه چې د اروپايانو دين صحيح او رښتينى دى .52

-هدف يې د پاچا د ظلم او تيري دفع او مخنيوى وه ، مګر له اروپايانو څخه يې مرسته او کومک وغوښت او پدې سره يې صفت وکړ چې تاسو دعدل او انصاف خاوندان او دديموکراسى بنسټ ايښودونکي ياست (همداد لويديځ دين دى ) ، ددوى په کافر کيدو سره اتفاقي فيصله وګوره معنى داچې پرته له اختلاف څخه کافر دي .

همدارنګه يې ويلي دي : آيا ته دشام خلک وينې ( معاويه رضى الله عنه او پيروان يې ) ، که چيرې دعلى رضى الله عنه مخالفت دهغو افراطيانو سره چې على رضى الله عنه په اور سره وسوځول اړکړي واى نو دشام خلکو به داکار نه واى کړى ، او دمشرکانو څخه عذر غوښتنه او دهغوى سره جګړه نه کول ، نو پدې صورت کې به يوکس دصحابه کرامو څخه دهغه په کفرکې چې دې ډلې ته ورتلل شک ا وشبهه نه وه لرلې اګر که يې د خپل اعتقاد څخه بيزاري او برائت هم ظاهر کړي واى ، بلکې دحضرت معاويه رضى الله عنه پلو ته ځکه ورغلل او نظر يې تائيد کړ چې دحضرت عثمان رضى الله عنه د قاتلانو څخه د قصاص او انتقام اخستلو په بنا سره وه ، نو پدې مسئله کې فکر ا وسوچ وکړه اوپدې کې نور د شک ځاى نشته ، مګر دهغه لپاره چې الله پاک يې امتحان اوازميښت غوښتئ وي .53

دنظر اوقياس له وجهى پدې دلالت کوى چې : دا روا ندي چې په موږ باندې واقع شوى ظلم او تيرئ په کفر او نفاق سره لرى کړو ، دا ښکاره او په ډاګه خبره ده ، که چيرې مثلاً ظلم منځته راغلئ وي ( او دا صحيح وي چې ظلم دى ) په زياته پيمانه ويل کيداى شي چې : داضرورت دى ، او ضرورتونه پخپل شرط سره حرام څيزوه روا کوي ، مګر کفر او مرتد کيدل نه روا کوي . پدې تيره شوې وينا داهم دليل دى چې الله پاک فرمايي : ...وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ...﴿217﴾ 54

ژباړه : او فتنه ( له دين ځخه د خلکو ايستل ) ډيره لويه ګناه ده له جنګ څخه .

---

52- تاريخ نجد ص ۲۶۷.

53- تاريخ نجد ص ۲۳۸.

54 - سورت البقره آيت ۲۱۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او الله جل جلاله په بل ځای کې فرمايلي دي :... وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ...﴿191﴾ 55

ژباړه : او فتنه ( شرک او له دين ځيني اړول ) ډير سخت دي له وژلو څخه .

حافظ ابن کثير رحمت الله عليه ددې مبارک آيت په تفسير کې فرمايلي دي کې : ابو العاليه ، مجاهد ، سعيد بن جبير ، عکرمه ، حسن بصري ، قتاده ، ضحاک ، او ربيع بن انس رحمهم الله تعالی ويلي دي : د الله پاک سره شريک نيول د وژلو په پرتله زياته ګناه لري .

دامريکا کفر او د اسلامي شريعت د پلي کوونکو له منځه وړل ډير سخت دي د بې ګناه خلکو له وژلو څخه لکه چې ويل کيږي !!!!

ابن تيميه رحمت الله عليه ويلي دي : بيشکه له الله پاک سره شريک نيول په ناپوهۍ سره په الله پاک باندې ناحقه خبرې پورې کول ، ښکاره او پټې ګناه او فحشاکول ، ظلم او تيرئ ترسره کول ، پدې کې هيڅ ډول مصلحت او ګټه نشته ، نو څنګه وايي چې د علمانيت ( لادينۍ ) سره يو ځای کيدل ګټه لري ؟56

په بل ځای کی ابن تيميه رحمت الله عليه وايي : هغه څه چې په هر چا او هر حالت کې حرام دي او هيڅ روا والئ په کې نشته هغه بد کارونه دی لکه : ظلم ، د الله پاک سره شريک نيول ، په الله پاک باندې په ناپوهۍ سره ناحقه خبره تړل دي .57

ابن تيميه رحمت الله عليه ويلي دي : ځينې هغه حرام څيزونه دي چې شريعت په قطعي او پريکنده ډول سره حرام ګرځولي او هيڅ څيز يې نه د ضرورت په وخت کې او نه پرته د ضرورت څخه روا کړې دي لکه : شرک ، بد او ناروا کارونه ، په الله پاک باندې په ناپوهۍ سره ناحقه خبره تړل ، او سوچه ظلم ، داځلور څيزونه د الله تعالی پدې فرمان کې بيان شوي دي : قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُواْ بِاللّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَن تَقُولُواْ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ﴿33﴾ 58

ژباړه : ووايه ( ای محمده ! دوی ته ) بيشکه هم داخبره ده چې حرام کړيدي رب زما فواحش ( کبيره ګناهونه چې موجب د لوی عذاب دی ) هغه چې ظاهر وي له هغو څخه او هغه چې باطن وی ( نو حرام کړي ئې دي ) «ګناه صغيره چې حد نه لري » او ( حرام کړي ئې دي ) ظلم په ناحقه سره ( بل داچې شريک و نيسئ تاسې

---

- 55 - سورت البقره آيت ١٩١.
- 56 - مجموع الفتاوی ج ١۴ ص ۴٧٧.
- 57 - مجموع الفتاوی ج ١۴ ص ۴٧٧.
- 58 - سورت الاعراف آيت 33 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په الله پورې ) هغه شی چې نه دی نازل کړی ( ليږې ئې الله ) په ( شريکولو د) هغه باندې هيڅ برهان ( علمي سند ) ( بل داېې حرام کړي دي چې ) وواېې تاسې پر الله هغه خبر چې تاسې نه پوهيږی « پرې » .

دغه څيزونه حرام دي په ټولو آسماني شريعتونو کې او ددې دحرام والي لپاره الله پاک ټول پيغمبران راليږلي دي او هيڅ څيز يې روا ندي په هيڅ وخت او هيڅ حالت کې له همدې سببه پدې مبارک آيت کې نازل شول

نو دکافرانو سره دوستي په هروخت کې حرامه او روا ده هيڅ ضرورت يې رواکولای نشي ، لکه څنګه چې ځينې يې د رواو الي دعوی کوي .

په پای کې : زه خپل مسلمان ورونه د نړی په هر ګوټ کې چې دي ختيځ او يا لويديځ ورته وايم چې د طالبانو د اسلامي حکومت سره مرسته او کومک وکړي .- الله پاک د دا اسلامي حکومت برياليٰ کړي – مرسته ورسره وکړئ په کوم څيز چې وسه لرئ په مال ، ځان ، نظر ، مشورې ، فتوی د اسلامي حکومت د علماؤ څخه او دقلم خپرندويه وسيلو ، ميډيا ، او هرڅه چې وي په مسلمانانو فرض دي چې د طالبانو سره مرسته وکړي د خپرندويه وسيلو څخه په ګټه اخستنې سره ، د انټرنټ په وسيله سره بايد ټولنې او اتحاديې هم پدې عنيي فرض کې برخه واخلي ، او همدارنګه الله پاک ته دعا ، عاجزي کول په دغه لوی امتحان کې چې الله پاک يې برياڵي کړي ، زموږ او دوی ګډ دښمن تباه او هلاک کړي ، او بايد ټول مسلمانان د طالبانو سره په لټئ او مرسته نه کولو کې د الله پاک څخه وويريږي او خپل مسؤليت ته متوجه شي .

الله پاک فرمايلي دي : وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ ﴿72﴾ [59]

الله پاک فرمايلي دي : وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ .[60]

ژباړه : اوڅه مانع دی تاسې ته چې جنګ نه کوئ تاسې په لاره د الله کې ( ددين د ترقئ لپاره ) او په ( خلاصولو) د ضعيفانو کې چې سړي دي او هلکان دي .

په حديث شريف کې راغلي دي : عن عبد الله بن عمررضی الله عنهما عن النبی صلی الله عليه وسلم قال : المسلمُ أخو المسلمِ ...61

- سورت الانفال آيت 72 . [59]
- سورت النساء آيت 75 . [60]
- صحيح البخاري نمبر 2442 او صحيح مسلم نمبر 2580 په لږ اختلاف سره . [61]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : مسلمان د بل مسلمان ورور دی .

نن ورځ جهاد فرض عین دی په هغه چاچې وکړای شي او وس ولري ، او هغه آیاتونه چې د جهاد په باب کې د امر په صیغه سره راغلي دي ډیر زیات او مشهوردي ، ددې څخه د الله پاک دا فرمان دی چې : كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ... 62

داصلیبې جګړه ده پدې کې اسلام هدف ګرځول شوی دی دا که په هرځای کې وي په ځانګړي ډول مجاهدین او هغه کسان چې ددین چارې یې په لاس دي او دکافرانو مقابله کوي که دوی هرڅوک او دهرتابعیت لرونکي وي نو باید ټول د دین داصل او داسلام د شتون څخه په ټینګه دفاع وکړو .

مجاهدین نن ورځ د اسلام څخه دد فاع او ساتنې یوټولئ او ډله ده ددوی عزت او سرلوړي د اسلام عزت دی او ددوی ذلت خواري او خدای مکړه له منځه تلل داسلام لپاره یو لوی خطر ګڼل کیږي سره ددې چې الله پاک خپل دین ته کامیابي ورکوونکئ دی او یوه ډله ددې امت څخه شته چې بریالئ او کامیابه ده او الله پاک خپل دین ساتي ، د طالبانو اسلامي امارت د نن ورځې دروازه شمیرل کیږي او ددې دروازې ماتول د مسلمانانو لپاره یوه لویه ماته ده .

اې ورونو: د الله پاک څخه وویریږئ ، د الله پاک څخه وویریږئ ملاوي وتړئ او خپل وس وکړئ .

الله جل جلاله فرمایي : وان تتولوا یستبدل قوما... امثالکم .

---

- سورت البقره آیت 216. 62

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم فصل : داسلام په وړاندې صلیبي یرغل :

پدې فصل کې به هغه څه ثابت کړم چې دامریکا په مشرئ یرغل یو صلیبي جنګ دی چې موخه یې اسلام ته ضربه ورکول دي او دافصل مې په درې مبحثونو ویشلئ دی :

### لومړی مبحث : د امریکا په اړه یو څه معلومات :

دامریکا د فساد بیانول ډیر تفصیل ته ضرورت لري زه به د امریکا په دوو اړخو نو رڼا واچوم :

1-د امریکا په دننه کې فساد . 2- د امریکا له خوا په نوره ځمکه کې فساد .

لومړی اړخ یې : د امریکا په دننه کی فساد : امریکا د کفر او الحاد د سر حیثیت لري ، د فساد او بد اخلاقئ بنیاد دی ، د بربنډ والي ، زنا او بې ستری ، بدیو او ناروا چارو ترسره کولو ځای دی ، شیطان دا ملک ( امریکا) خپله ځاله ګرځولې ده او دلته ې خپله ګونبزه او چته کړی ده ، د نړی دهغو هیوادو نو څخه ده چې زیات د جنسي تعرض ځایونه لري دهلکانو سره د لواطت [63]د ښځو په خپل منځ کې د زنا ( سحاق ) د بربنډ والي مرکزونه. [64]

، د بدکارئ ( زنا) څخه د ښځو حمل ، د حرامیانو زیږیدنه ، د محرمو ښځو لکه مور ، خور ، میره ، لور ، عمه ، خاله سره زناکول ، اخلاقي جرمونه ، د بد اخلاقئ او فحشاء فضایي چینلونه ، د شرابو څښل ، د فسق ، رقص ( نڅا) ، قمار ، او بې لاریو مرکزونه ځینې هغو شمیروته به اشاره وکړو چې ماېې یادونه وکړه ، سره ددې چې دا شمیرنې مخکینئ هم دی :

1- په امریکا کې شل ملیونه خلک په زنا ، لواطت ( په جنسې بې لاریو اخته دي .[65]

2-په امریکا کې هر کال 5000 ماشومان پلورل کیږي .[66]

3-تقریبا دریمه برخه ماشومان د زنا څخه تولد کیږی . [67]

---

[63] - دا په ډیرو هیوادو نو کې قانونی شو چې د همجنس ګرایانو په نوم و نومول شو .( په امریکا کې د بایډن په دور کی یې قانونې بڼه غوره کړه)

-د ښځې او خاوند بې اعتمادي ، مارکیټ کی د زنا ځای ، په ټولګې کې د همصنفیانو ترمنځ زنا ، شاګرده د استاذ او ماموره په دفتر ، مریضه د معالج داکتر سره ، په اجتماعي ډول زنا .......... لنډه داچې یو پست ترینه ټولنه د ځمکې په سر امریکاده . د شیهد سید قطب یو تألیف دی په : امریکا التی رأیتها . دا په هغه وخت کې اوس خو بالکل بدحال دی ، زما یوه خور مریضه ده د پېښې د هډوکي تکلیف لري بیا مې خپل والد صاحب چې یوعالم او دروسانو سره د جهاد په وخت کې د مجاهدینو قاضی هم وه په 1990 میلادی کال کی دامریکا پټس بورګ ایالت ته د خپلې لور چې زما خورده لاړ څلور میاشتی یې تیرې او دعلاج په پای کې ډیرو افغانانو ورته ویل قاضی صاحب دلته پاتې شه فامیل به دې هم راو غواړو ده به ورته ویل:« داد انسانانو د اوسیدو ځای ندی » همدا صحیح خبر ده چې امریکا د انسانانو د اوسیدو ځای ندی .... [64]

[65] - مجتمع مجله 110/35

[66] - مجمتمع مجله 49/ 44.

[67] - مجمتع مجله 14/10

(c) ketabton.com: The Digital Library

4-یوازې هغه مراهقې نجونې چې دزنا څخه حمل اخلي هر کال د نیم میلیون څخه زیاتې وي .[68]

5-د قانوني ستنې ( سقط ) په وسیله د 15 میلیونو څخه زیات ماشومان وژل کیږي .[69]

6- سان فرانسسکو ایالت د لواطت پلازمینه یادیږي ، د ښار څلورمه برخه پارلیماني غړي د همدغه ځایه ټاکل کیږي .[70]

7-پدې کې 100 میلیونه د شرابو څښونکي دي [71]

8-په امریکا کې د شرابو جوړولو شرکتونه 24 میلیارده ډالرو څخه زیات عائدات لاسته راوړي .[72]

جرمونه یې دحساب څخه وتلي چې ځنې یې دادي :
1-د امریکا حکومت د شمیرنې مطابق چې په 2000 عیسوي کال کې یې ترسره کړې تقریبا 26 میلیونه جرمونه یې په شمیرې سره منځته راغلي دي .

2-د 1999 عیسوي کال د جرمونو شمیرنې یې په لاندې ډول دي :

۱-په هرو 3 ثانیوکې د یو چا په ملکیت تعرض .

۲-په هرو 15 ثانیو کې غلاکول .

۳- په هرو 24 ثانیو کې بدني تعرض .

۴- په هرو 22 ثانیو کې یو ناوړه عمل .

۵- په هرو 24 ثانیو کې د چاوژل .

۶ – په هرو 6 دقیقو کې په زور سره د چا تښتول .

کوم څه چې ما دلته یاد کړي ددې کافر هیواد د فساد په ښودلو کې ډیر لږدي .

---

[68] - مجتمع مجله 648/ 53
[69] - امجتمع مجله 625/ 35.
[70] - مجتمع مجله 637/ 32.
[71] - مجتمع مجله 42/199.
[72] - مجتمع مجله 157-30.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې مسلمانه وروره : که ته پوه شې چې الله پاک دلوط علیه السلام د قوم په هکله فرمايلي دي : أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ ...﴿29﴾ [73]

ژباړه : آياتاسو خامخا راځئ سړيوته ( دلواطت لپاره ) او قطع کوئ ( شکوئ) لاره ( او دخلکو مال اخلئ ) او راځئ تاسې په مجلسونوکې منکر ( ناکارو کارونوته).

او هغه ډېر څه چې ما دلوط علیه السلا م دقوم په هکله د بديو او اخلاقي فساد څخه ومونډل چې هغوئ پرې اخته وو.

امام ابن عساکر رحمت الله علیه پخپل سند سره ددمشق په تاريخ کې د ابو أمامه څخه نقل کړي دي چې وايي : د لو ط علیه السلام په قوم کې لس بدعادتونه وو چې په همدې مشهوروو. چې له دې لسو څخو يو لواطت کول وو . [74]

نو که چيرې د لوط علیه السلام د قوم د غه لس بد عادتونه په فلکي شميرنې سره د امريکا د فساد سره په پرتله کړی نو لوی توپير به درته په ډاګه شي د امريکا فساد د لوط علیه السلام د قوم د فساد څخه په څو ځلې زيات دی .

که پدې سره پوه يئ چې الله پاک د لوط علیه السلام قوم ته داسې عذاب ورکړ چې هيڅاته يې هم ندئ ورکړی ، نو الله متعال فرمايلي دي : قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿32﴾ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن طِينٍ ﴿33﴾ مُسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ ﴿34﴾ [75]

ژباړه : وويل دوی بيشکه موږچې يو راليږلي شوي يو طرف ديو ګناهګار ( کافر) ته لپاره ددې /چې وليږو په هغوئ باندې تيږې ( ګټې ) له ختو ( پخو شوو په اور لکه پخې خښتې ) / نشانه داره کړی شوي ( په نامه دهغه چاچې پرې وشتل کيږي ) په نزد درب ستا لپاره د مسرفانو له حده تيريدونکيو ( په کفر او فجور کې دپاره د هلاک کولو ) .

اوهمدارنګه الله پاک فرمايلي دي : فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ﴿82﴾[76]

---

[73] - سورت العنکبوت آيت 29.
[74] - ج 5 ص 321.
[75] - سورت الذاريات آيت 32-34.
[76] - سورت هود آيت 82.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : نو څه چې راغئ امر ( حکم ، عذاب ) زموږ نو وګرځاوه موږ پورته طرف ددې ( ښار) ښکته طرف ته ( يعني نسکوږ موږ پر دوی دا ښارونه ) او واورول موږ پردغو ښارونوباندې کاڼي له ختو جوړ شوو په او ر يخو شوو لاندې باندې ( پر له پسې ) .

او الله پاک فرمايلي دي : وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿37﴾[77]

ژباړه : او خامخا تحقيق سره غوښتي ؤ دوی له دغه ( لوط څخه ) ميلمانه د هغه ( بد کارته ) نو محو ړندې کړې موږ سترګې ددوی پس ( وفرمايل الله دوی ته په ژبه د ملائکو چې ) وڅکئ تاسې ثمر د عذاب زما او ويرولو زما .

او همدارنګه الله تعالی فرمايلي دي : فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ ﴿73﴾ [78]

ژباړه : نو ونيول هغوئ لره غږ هيبتناک ( دجبريل) حال داچې داخليدل دوی په وخت د لمر کې .

الله  جل جلاله د لو ط عليه السلام قوم د خپلو بدو اعمالو په سبب په عذاب کړ.

نو ستاڅه خيال دی چې د امريکا د څومره لوی عذاب مستحقه او وړ ده ؟

آيا داسې هيواد لکه امريکا ددې وړده چې يومؤمن او مسلمان د پرې وژاړي ؟

نه هيڅکله ، ځکه چې عذاب د عمل له جنسه ده .

دو هم اړخ يې : په نړئ کې د امريکا فساد :

که  چيرې د امريکا فساد او فتنه پخپله د امريکا په دننه کې وای نو دابه هم په الله پاک د ډير لوئ عذاب وړ ګرځيدلئ وای ، نو دا الهي عذاب به څومره زيات او سخت وي چې فساد يې نورې نړئ ته هم سرايت وکړ او په ټوله ځمکه کې يې فساد خپور کړ، په ډيرو ټولنو کې کوم اخلاقي فساد او اباحيت چې منځته راغلئ ترشا يې  د امريکا هيواد دی .

1-بانکوک د تايلند هيواد پلازمينه په نړی کې د جنسي تعرضونو پلازمينه ده دامريکايې عسکرو شتو ن پدغه هيواد کې اخلاقي فساد او اباحيت اصل او اساس دی . [79]

---

- سورت القمر آيت 37. [77]
- سورت الحجر آيت 73 . [78]
- مجتمع مجله 248/ 8. [79]

(c) ketabton.com: The Digital Library

2-په نړۍ کې د بدو او خبيثو فلمونو( سکس) لويه صادره وونکی «هوليود» چې دسينما پلازمينه  بلل کيږي په امريکا کې واقع ده .

3-دجنسي اړيکو د تفصيل او څېړنې په اړه امريکا د زياتو فضائي چينلونو لرلو په وجه په نړی کې د ټولو هيوادونو په سرکې راځي ، په انټرنټ کی د اباحيت او فحاشۍ زياتې څپې لرونکی هيواد امريکاده.

۴-په امريکا کې د شرابو او سګرټو لوی صادره وونکي شرکتونه په امريکاکې دي .

۵-د اسلحو لويې فابريکې چې انسانان پخپلو منځونوکې پرې وژل کيږي په امريکاکې دي .

پرته له دې په ټولنو کې د بې حيايۍ ا وفساد د خپرولو ټولې وسيلې د امريکا په هيواد کې دي .

د نورو انسانانو په اړه چې مسلمانان هم ندي زيات جنايتونه يې کړي دي چې ځينې يې دادي :

۱-امريکا د اصلي او سيدونکو ( سرو هندوانو) په مليونونو کسان له منځه يوړل چې په ځينې شميرو کې د سلو مليونو څخه زيات ښودل شوي دي .

۲-دغلامانو په سوداګرۍ کې يې زيات ښهرني اوسيدونکي چې افريقايان وو له منځه يوړل ، چې شمير يې مليونونو تنو ته رسيږي .

۳-په 1944 عيسوي کال په دوهم نړيوال جنګ کې په يوه شپه کې 334 امريکايې الوتکو د بمبارد په وسيله د چاپان د پلازمينې ( توکيو) 16 ميله مربع مساحت په سوځوونکو بمونو سره په اور لولپه کړه او سل زره کسان يې ووژل ، يو مليون تنه يې بې کوره کړل .يو امريکايي جنرال په ډيره خوښۍ سره کتل چې چاپاني نارينه ، ښځې او ماشومان په اورکې سوځيدل چې تردې چې ټول مړه شول ، او ګرمې ډيره زياته وه تردې چې اوبه په جوشيدو راغلي او ټول او سپنيز ساختمانونه ويلې شول او خلک داور په لمبو کې لولپه شول ، 64 جاپانې ښارونه تريرغل لاندې راغلل داپرته له هيروشيمااو ناګاساکي ښارونو پرته چې دداسې يرغل موخه اوهدف وګرځيدل په ځينې اټکلونو د 400 زرو تنو وژل کيدل يې ښه انځور وړاندې کوي .

4-د 1952 او 1973 عيسوي کلونو ترمنځ په اوسط ډول امريکا لس ميليونه چينايې ، کوريايې ، ويتنامي ، لاووسي او کمبوديايې وګړي ووژل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د 1752 میلادي کال په نیمایې کې د ویتنام هیواد جګړه پیل شوه چې : په دغه جګړه کې 160 زره تنه یې ووژل.، 700 زره تنه یې تعذیب او بد رنګ کړل،د 3000 تنو څخه یې په ژوندونې کولمې وایستلې او او ګیډې یې وڅیرلې ،4000 تنه یې په اور سره و سوځول تردې چې په همدې سوځولو مړه شول ،په زهرجنو کیمیاوي موادو سره په 46 کلیو یرغل وکړ.

6-په 1972 میلادی کال د عید د لمانځلو په درشل د امریکا د بمبارد په نتیجه کې چې په «لهانوی» او « هایوونغ » کې یې ترسره کړ د 30 زرو څخه زیات ماشومانو ته یې په دائمي کوښوالي مبتلااو اخته کړل .

۷-امریکایې روزل شوي لښکر په « ګواتیمالا» هیواد کې د 150 زرو څخه زیات بز ګران د 1966 او 1986 میلادي کلونو تر منځ ووژل .

مګر د امریکا جنایتونه د مسلمانانو او هغو کسانو چې په نوم مسلمانان وه ډیر زیات دي که یې په تفصیل سره راوړو نود خپلې موضوع څخه به بل پلو ته تللي وو ، مګر لږو شمیرو ته اشاره کوو چې دا پخپله هغه څه څرګندوي چې ددې ترشادي :

۱- په عراق باندې د امریکایې بمبارد له امله او دهغه ظالمو اقتصاد ي بندیزونو په وجه چې لسو کالو څخه راپدیخوا او تراوسه هم دوام لري یو میلیون عراقي ماشومان یې ووژل .[80]

۲- د انسولین د نشتوالي په عراق کې په زرګونو تې رودونکي ماشومان په عمري ړوندوالي اخته شول

3-په عراق کې داقتصادي بندیز او امریکایې بمبارد له امله د نارینه عمرونه ترشلو او دښځو عمرونه تر 11 کلونو راښکته شول .

4-دامریکا له خوا په عراق کې د وړانګو د خپریدو په سبب د نیم ملیون څخه زیات کسان ووژل شول .

5- په امریکایې وسله باندې په زرګونو فلسطیني ماشومان ، ښځې او سپین ږیري ووژل شول .

6-همدارنګه په زر ګونو لبنانیان او فلسطیني مهاجرین په هغه عام وژنه کې له منځه لاړل چې دامریکا په مرسته اسرائیلو ترسره کړه .

---

80 - په مشر جورج بوش باندې یو عیسوي امریکایي وکیل مدافع دعوی وکړه چې جورج بوش باید اعدام شي ځکه دی جنګي مجرم دی په عراق کي یي زیات شمیر خلک ووژل او هیواد په کنډ واله بدل کړ. التبیان ص 20.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- د 1412 او 1414 هـ کلونو ترمنځ امريکايي عسکرو په زرګونو بې ګناه صوماليايان ووژل .

۸-امريکا په 1419 هـ کال کې په افغانستان او سودان باندې په کروز ميزائلو حمله وکړه چې په نتيجه کې د سودان يوه د دوا جوړونې فابريکه له منځه لاړه ، او د 200 تنو څخه زيات کسان په شهادت ورسيدل.

۹-اسرائيلو دامريکا په مرسته دلبنان د جنوب برخې داشغال په وخت د 17000( اوولس زرو ) تنو څخه زيات کسان ووژل .

10-دامريکا په مرسته په اندونيزيا کې نظاميانو د يو مليون څخه زيات کسان ووژل شول .

11-د امريکا د اقتصادي بنديزونه په درشل کې په افغانستان کې د 15000 تنو څخه زيات ماشومان مړه شول .

داپرته له هغو عام وژنو څخه دي چې دامريکا په مرسته په چيچن ، بوسنيا ، مقدونيا ، کوسووا ، کشمير ، فلپين ، د ملوک په جزيرو ، شرقي تيمور او داسلامي نړی په نورو برخو کې ترسره شوې دي .

که څوک پدې سوګند او ګواهي ورکړي - چې پدې وروستيو کلونو کې- دمسلمانانو کومه عام وژنه ، ياپې شړل ، او ياپې د ځمکې غصب کول ، پرته دامريکاپې لاس وهنې او مداخلې څخه منځ ته ندي راغلي نو زما ګومان دی چې پدې خپل سوګند کې به ګناه کار نشي .

الله پا ک د مسلمانانو مرسته کوونکی دی .

دالله پاک د هغه نعمتونو څخه چې حساب او شمير يې نه کيږي چې ددې کفري اتحاد مشري يې دداسې ظالم هيواد په لاس ورکړه ترڅو لارروښانه او هرڅه واضح وي ، او دحق غوښتونکي او لټوونکي هيڅ پتوالی او شک رانشي ، ځکه چې د امريکا تاريخ په ظلم ، تيري ، خباثت ، فساد او فتنې خپرولو ډک دی ، او دهرچا لپاره يې توره دوسيه ښکاره ده ، اوهمدا لامل دی چې حق به په ډيره زياته روښنايی سره نورهم واضح او څرګند شي ، يواځې الله متعال لره ثناء او نيکي ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم مبحث : د طالبانو په اړه لنډ معلومات

پدې کې شک نشته چې د افغانستان خلک هم دنړۍ د نورو ملتونو په څېر د ډول ډول عقیدو او لارو تلونکي دي ، پدوی کې ناپوه ، اودپوهې پلټونکي ، سنیان او بدعتیان موجود دي ، دا هیواد دکمونستانو له خوا ډیرې ستو نځې ، جګړې او زیات تلکیفونه ګاللي دي ، بیا وروسته د جهادي تنظیمونو خپل منځي جګړې منځته راغلې چې ددې په سبب په زرګونه مسلمانان یا ووژل شول او یا له خپله کوره وشړل شول او داهغه لاملونه وه چې د ټولنې د وګړو په منځ کې یې د جهل او بې علمۍ په خپرولو کې مرسته وکړه ، پدې فصل کې چې د طالبانو په اړه غږیږو ددې دا مطلب ندی چې هلته بدو

اومنکر کارونو وجود نه درلود ، او نه دعوی لرو چې هلته بدعت نه وو ، دا دولت په مختلفو قومونو او توکمونو حکومت کاوه ، بلکې پخپله طالبان هم د مختلفو نظریو او افکارو لرونکي وو ، ځینو یې أهل حدیثو طرف ته میلان درلود ، او ځینو یې تصوف خوښاوه ، ځینې نور یې تند لاري او نور یې بیا معتدل فکر لرونکي وو ، دلته دا نه وایو چې هلته په منهج او نظر کې غلطی نه وې ، بلکې دلته د طالبانو د حکومت هغه صدق او ریښتینولی ته نظر اچوو چې داسلامي شریعت په پلي کولو او په ټول هیواد یې ددې آسماني قانون تطبیق کولو ته کوم پوخ هوډ کړی وو ، هغه څوک چې دکمال او پوره والي لپاره هڅې کوي داسې نه دي لکه هغه څوک چې ددې هڅې څخه په لرې واټن کې وي .

د اصلاح چیغې وهونکي د فساد خپروونکي په څېر نه وي ، د اسلام او مسلمانانو سره دوستي کوونکي د اسلام او مسلمانانو د دښمن په شان نه وي ، ددې زیات تفصیل به ان شاء الله د اوومې شبهې په مناقشه کې راشي .

پدې کې شک نشته چې د طالبانو داسلامي امارت د رامنځته کیدو څخه وروسته د افغانستان د وضعې څارونکي ته په ډاګه ښکاریده چې داسلام بیرغ دهرې ورځې په تیریدو سره په اهتزاز راتله ، او طالبان هم په ټولو اړخونوکې په ښه کیدو وو، اسلامي شریعت یې پلی کړ ، او اسلامي حدود یې قایم کړل ، دلارو امنیت یې ښه کړ ، منکر او بد کارونه یې له منځه یوړل ، د فساد او بد اخلاقۍ زیات اثرات یې ختم کړل ، تردې چې موږ د دښمنانو د ډله ایز و خپرندویو وسیلو له لارې داسې خبرونه اوریدل چې دمسلمانانو زړونه پرې یخیدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لنډه توګه : به د طالبانو د منځ ته راتلو تاريخ او هغه لوې او دوياړه ډک کارونه په ګوته کړم چې داسلامي شريعت د پلي کيدو په لارکې يې وو.

- د 1415 هـ ق کال په لومړيو کې دطالبانو اسلامي تحريک منځته را تللو يواځينۍ لامل دهغه جنايتونو او په ځانګړي ډول د ځينو ښځو تښتول وه چې دلارې په اوږدو کې به منځته راتلل ددې تحريک درامنځته کيدو سبب شو ، البته د خلکو داجنايتونه او پيښې د طالبانو دتحريک د مشر ملامحمد عمر مجاهد په وړاندې ترسره کيدې چې په دی سره به ډير کړيده او زيات درد به يې احساس کولو ،تردې چې ددې وحشت د له منځه وړلو په خاطر يې ځينې طالبان راټول او بيايې پخپله ددې غلو او لاروهونکو د مخنيوي لپاره يې داسلامي حدودو د پلي کولو په نيت وسلې ته لاس کړ ، چې په کندهار او دهغه څلور خواوې يې د فساد خپروونکو څخه پاکې کړې ، تردې چې ددې غلو او لاروهونکو دشړلو ساحه يې نوره هم پراخه کړه ، او ويې کولای شو چې په کندهار کې يوه شرعي محکمه جوړه کړي ، پدې سره غله وتښتيدل امنيت او ډاډ را منځته شو او عام خلک د خپلو ورځنيو چارو مخ بيولو ته راو ګرځيدل بيايې ديته متې را بډ وهلې چې دهيواد نور ولايتونه هم ترخپلې ولکې لاندې راولي پدې ترځ کې يو ولايت په بل پسې د طالبانو په لاس کې وغورځيدل آن تردې چې دهيواد پلازمينه ( کابل) هم په 14/ 5 1417 هـ ق کال سقوط وکړ او په فاتحانه ډول کابل ته ننوتل ، نوکله چې ددې څخه وړاندې د هيواد ختيځ او لويديځ او سهيلي ( جنوبي ) ولايتونه ددوی په لاس کې وو، د يوکال په موده کې په سوله ايز ډول دهيواد د د ۳۱ ولايتونو څخه ۲۰ ولايتونه د طالبانو ترلاس لاندې شول ، په لومړې سر کې دطالبانو ټول فتوحات په سوله ايز ډول وه ځکه چې افغانانو دطالبانومشران دهغوی دعلم په وسيله پيژندل اوددوی سره دهيواد لوی علماء ملګري وو ، دا کار ددې سبب شو چې ټول افغانان دلومړئ شيبې څخه ورسره ملګري شول ، بيايې دهيواد په شمالي برخه خپلو نظامي عملياتو ته دوام ورکړ، دهغوی سره دروسانو اوهندوانو پوره مرستې کيدې –تردې چې د ټول هيواد ٪۴ برخه يې دخپلې ولکې څخه بهر پاته شوه.

-دطالبانو د راتګ څخه وروسته ددوی د مهمو کارونو څخه ددوی ترولکه لاندې په هره لويشت لويشت ځمکه داسلامي شريعت پلي کول وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دطالبانو له فر مانونو څخه :

-د هغه قومونو څخه ټوله درنه او سپکه وسله راټولو ل چې په داخلي شخړو ، او زور ښودنه او د لارو په پرې کولو یې ترې کار اخسته .

-په کابل کی د ملګرو ملتونو له دفتر څخه د نجیب الله اودهغه دورور شاپور احمدزي ایستنه ،کوم چې دپناه ور وړونکو په توګه په کې اوسیدل ، په دوی د مرتد کیدو دحکم پلي کول وو.

-دهغو ټولو بتانو له منځه وړل چې په کابل ښار کې به دهوټلونو په مخکې ایښودل شوې وو، او په ځانګړې ډول د انټرکانټي ننتل هوټل په مخکې به وو.

-ددوی تر ولکې لاندې ټولو ولایتونو کې یې شرعي محکمې جوړې کړې .

-د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت جوړونه او ددغه وزارت پراخه صلاحیتونه درلودل چې په هره موضوع کې به یې مداخلت کاوه اود ډیرو ازرښتناکو کارونو څخه یې ځینې دادي :

-په کافرانو یې جزیه و ټاکله ، اود ذمیانو نوم یې ورته کیښود او پدې سره یې مجبور کړل چې باید خاصې جامې واغوندي ، ترڅو ددوی او نورو مسلمانانو توپیر وشي .

-لمانځه ته یې ځانګړې پاملرنه وکړه او خلک یې دهغې په کولو مجبورکړل ، اودآذان څخه وروسته یې د ټولو تجارتي او او د خلکو د کار ځایونو بندولو امر کاوه .

- د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د کفر او فسق د ټولو نښو د بندولو او له منځه وړلو امر کړی ، په کابل کې د تلویزیون دستګاه و تړله تلویزیوني خپرونې بې بندې کړې د کابل رادیو یې ددې ناولو خپرونو څخه پاکه او د شریعت غږ رادیو نوم یې برې کیښود ، د ساز او سرود ټول مرکزونه او ځایونه یې له منځه یوړل ، د ساز او سندرو کیستې یې منع اعلان کړې او ددې کیستو د انتقال په هڅه کوونکي یې تعزیر و لګاوه ، سینما ګانې یې د سیمینارونو په هالونو واړول .

- د ږیرو خریيل یې منع کړل ، او دخریيلو په ځایونه یې بندیز ولګاوه .

-په ښځو یې بهر ته د تللو په درشل کې حجاب لازم وګرځاوه ، همدارنګه یې دسفر په وخت کې د محرم کس شتون لازمي کړ ، او ټولې ښځینه کارکوونکې یې د اختلاط ( ګډ کارکولو) له ځایونو څخه لرې کړې ، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبهرنيو ښځو ننوتل يې هيوادته ممنوع کړل ، د هغو مجلو او ورځپاڼو ننوتل يې هيواد ته منع کړل چې فساد او فحشاء ته يې لمن وهله .

- د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د مخدره موادو په له منځه وړلو لاس پورې کړ چې په تدريجي ډول يې د 1420هـ ق کال د اوړي تر موسم پورې يې په مکمله توګه کښت بند کړ ، چې پدې ډول د ملګرو ملتونو د مخدره موادو سره د جګړې څانګې په خپل خپاره شوي بيان کې د ډله ايزه خپرندويه وسيلو په واسطه ترديې سرليک لاندې وليکل : « د مخدره موادو څخه پاک افغانستان » پدې کې راغلي وه چې نړيوال کميسيون د مخدره موادو په کښت بنديز د پوره رښتياوالي معلوملو په خاطر افغانستان ته يو پلاوئ وليږه چې په هيواد کې يې د 1171 هغو ځايونو څخه ليدنه وکړه چې دامخدره مواد په کې کرل کيدل ، نو دوی وليدل چې داپه نورو زراعتې محصولاتو بدل شوی دي ، لکه څنګه چې دملګرو ملتونو د مخدره موادو سره د مقابلې څانګې په يو بيان کې چې په 15 اکتوبر 2001 ميلادي کال کې خپور شوی وه وليکل :

د طالبانو تر واکمنی لاندې سيمو کې د افيونو د توليد کچه 94٪ کې راښکته شوې ده ، ملګري ملتونه ددې په زړه پورې بدلون سبب د ملا محمد عمر مجاهد هغه سخت او قطعي فرمانونه بولي چې د افيونو د کښت په اړه يې ترخپلې واکمنی لاندې سيمو کې د هغه دحرام والي په اړه صادر کړی وو.

اودې څانګې داهم ويلي چې دافغانستان څخه چې کوم افيون بهرته وړل کيږي ټول د شمالي ټلوالې دلاس لاندې سيمو څخه په لاس راځي .

-او په موزيمونو کې ټول مخکيني ساتل شوي بوتان يې مات کړل او لوی بوتان يې ونړول په ځانګړي ډول د بودا هغه دوه تمثالونه چې په باميانو کې موجودوه سره ددې چې ټوله نړی ددی کار مخالفه وه ، بيايې هم دالله پاک امر پرځای کړ.

-همدارنګه يې انټرنټ بند کړ ځکه چې دا ډير فسادونه لري .

-او دقبرونو څخه يې ځينې نښې لرې کړې او خلک يې د ځينې هغو شرکي کارونو څخه منع کړل چې ددې قبرونو تر څنګ به يې کول ، د ځينې قبرونو سره يې پردې او جالی ولګولې چې خلک د طواف څخه منع شي او په لوحو يې وليکل : د شرعي او مسنون زيارت ادبونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

-دتعليم په برخه کې يې د نجونو ښوونځې وتړل ځکه دوی ويل : چې ترڅو وخت پيداکړو چې نيکې صالحې او داعتماد وړ معلمانې پيدا او دمسلمانانو د لوڼو دتربيې لپاره ګټورې ثابتې شي ، د يادونې وړ ده چې په ټولو تعليمي مرحلوکې د عقيدې لپاره منل شوی کتاب د امام طحاوي رحمت الله عليه د عقيدې کتاب دی ، د ارزښتناکو او مهمو مضامينو څخه د جهاد او دهغه د فقهې ( د جهاد په احکامو ځان پوهولو) څخه عبارت وه . دطالبانو اسلامي امارت يواځينی رسمي مرجع وه چې دچيچن د مجاهدينو حکومت يې په رسميت و پيژاند او ترخپل وس پورې يې هر ډول مرستې ورسره وکړې او خپله خاوره يې ددوی په واک کې ورکړه چې په خپلو فعاليتونو کې ترې کار واخلي .

دا په لنډ ډول د طالبانو داسلامي امارت د شپږ کلنې دورې کارونه وه چې په افغانستان کې يې سرته ورسول ، نو ددوی او دکفر د سر مشر امريکا حالت سره په پرتله کړي ، په يقيني ډول داسې کارونه د کافر صليبيانو ځالې ړنګوي او همدارنګه د هغو کسانو چې په افغانستان کې د يو اسلامي دولت منځته راتلل نه غواړي ، اړخونه يې لړزوي ، داسلامي شريعت د پلي کولو سره سم يې دوی د اسلامې امارت په مقابل کې د جګړې لپاره خپلې هڅې تندې کړې ،

-د افغانستان په اسلامي امارت يې ظالمانه بنديزونه ولګول چې ددې په سبب 15000 ماشومان ووژل شول

-د نړی ټولو کافرانو د شمال ټلوالې مرستې ته داسلامي امارت په خلاف را ودانګل .

-امريکا په 1419 هـ ق کال په افغانستان باندې کروز ميزائيل وويشتل ترڅو چې د نړيوال صليبي يرغل وخت راورسيد . چې په راتلونکي مبحث کې پرې خبرې وکړو.

## دريم مبحث :د مسلمانانو په خلاف د نړيوال يرغل د صليبي توب دليلونه :

کله چې په امريکا کې په 11 ستمبر باندې کومې پيښې منځته راغلې ، نو د امريکا حکومتي مسؤولو کسانو سمدلاسه په ځينې مسلمانانو باندې تور پورې کړ چې پدې پيښه کې د مسلمانانو لاس دی ، د تحقيقاتو او پلټنې څخه وړاندې د نړی په سطحه يې داسلام له منځه وړلو په خاطر په لوی يرغل لاس پورې کړ چې د تروريزم په خلاف جګړې نوم يې پرې کيښود ددې سره سره چې دکافرانو هدف او موخه د اسلام په وړاندې دريدنه ده ، مګر بل لوري ته ځينې احمق او منافق خلک هم شته چې دکافرانو په ګټه کوښښونه او ويناګانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې دا ويناوې يې د ځينو عوامو خلکو دغوليدو او فريب خوړلو وسيله ګرځي ، له همدې سببه به لاندېني قطعي او واضح دليلونه راوړم چې دايرغل داسلام په ضددی .

اودا دليلونه په دوه ډوله دي :

لومړی : عام دليلونه ، دوهم : خاص دليلونه .

عام دليلونه د شرعي او اوسنی وضعې څخه راوړل شوي دي .

-شرعي دليلونه : الله پاک په ډاګه سر د کافرانو دښمني له مسلمانانو سره ښودلي ده او کافران به ترڅو ورسره جګړه کوي چې داسلام د سپيځلي دين څخه يې مرتد کړي ، او داکافران پرته له دې چې مسلمانان پخپل دين کې داخل کړي ، په بل هيڅ څيز نه راضی کيږي ، او دښمني يې دوامداره ده .

الله پاک فرمايلي : وَلاَ يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىَ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُواْ ...﴿217﴾ [81]

ژباړه : اوهميشه به وي دوی ( کافران ) چې جنګ به کوي دوی له تاسې سره ترهغه پورې چې بيرته وګرځوي دوی تاسې له دينه ستاسې که يې لاس ورسيږي ( او موقع ومومي ) .

او الله تعالی فرمايلي : وَلَن تَرْضَى عَنكَ الْيَهُودُ وَلاَ النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ...﴿120﴾ [82]

ژباړه : او هيڅ کله به راضي نشي له تانه ( ای محمده !) يهودان او نه نصرانيان ترهغه پورې چې متابعت وکړې ته ددين ددوی .

او الله پاک فرمايلي : وَدُّواْ لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ ...﴿89﴾ [83]

ژباړه : دوست ګڼي دوی ( او غواړي دامرتدان دغه) که تاسې « هم » کافران شئ لکه چې کافران شوي دي دوی ) نوشئ به تاسې او دوی ( ګرد ټول سره ) برا بر .

او الله پاک فرمايلي دي : إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُوا لَكُمْ أَعْدَاء وَيَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُم بِالسُّوءِ وَوَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ ﴿2﴾ [84]

---

[81] - سورت البقره آيت 217.

[82] - سورت البقره آيت 120.

[83] - سورت النساء آيت 89.

[84] - سورت الممتحنة آيت 2 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : او که چیرې ظفربرې وومي ( کفار) په تاسې باندې ( نو) شي به دوی تاسې لره دښمنان او اوږد به کړي لاسونه خپل ( په وهلو او وژلو دتاسې ) او ( اوږدې به کړي ) ژبې خپلې په بدی ویلو د تاسې ) سره او خوښوي به دوی ( هغه ) چې کافران شئ تاسې ( لکه چې دوی دي ) .

اوالله تعالی فرمایلي دي : وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ...﴿109﴾ [85]

ژباړه : خوښوي ( او دوست ګڼي ) ډیر أهل د کتاب ځخه ( دا) چې وګرځوي دوی تاسې پس له ایمان راوړلو ستاسې کافران دحسد ( له سببه) چې له ( خبیثو ) نفسونو ددوی ( پیداشوي ) دي ( نه له بل سببه ) وروسته له هغه چې ښکاره شو دوی ته حق ( چې رسول ، قرآن او داسلام دین دی ) .

او الله تعالی فرمایلي دي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوَاْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ ﴿100﴾ [86]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی ( ای مؤمنانو! ) که تاسې حکم ومنئ د یوه فریق دهغو کسانو چې ورکړشوی دی دوی ته کتاب نو بیرته به وګرځوي تاسې وروسته له ایمانه ستاسو کافر .

او الله تعالی فرمایلي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوَاْ إِن تُطِيعُواْ الَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُواْ خَاسِرِينَ ﴿149﴾ [87]

ژباړه : ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی ( ای مؤمنانو! ) که اطاعت وکړئ تاسې دهغو کسانو چې کافران شوي دي نوبیرته به وګرځوي دغه (کفار ) تاسې په پوندو ستاسې ( دکفر خواته ) نو وبه ګرځئ تاسې زیانکاران ( بیابه موکافران کړي ) .

او الله متعال فرمایلي : قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ... ﴿118﴾ [88]

[85] - سورت البقره آیت 109.
[86] - سورت آل عمران آیت 100.
[87] - سورت آل عمران آیت 149.
[88] - سورت آل عمران آیت 118.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : په تحقیق ښکاره شوی دی بغض او دښمني له خولو د دوی نه اوهغه بغض چې پټوي یې سینې ( زړونه ) ددوی ډیر لوی دي ( له هغه چې په خوله یې وایي ) .

اوسنۍ وضعه او حالت هم پدې دلیل دی :

او سنۍ او پخوانۍ تاریخ ته په کتو سره په ډاګه څرګندیږي چې د کافرانو دښمن که یهود دي او یا عیسویان او یانورد مسلمانانو په وړاندې یې نفرت او دښمني پای ته نه ده رسیدلې ، د تیرو شویو پیړیو په درشل کې عیسویانو اووه ( 7) لوی صلیبي یرغلونه یې په کاراچولي دي ، او ددې حملو او یرغلونوڅخه د دریدو څخه وروسته استعماري او ښکیلاک ګر یرغلونه پیل شول ، اوږدو کلونو په تیریدو سره د مسلمانانو زیاتره ځمکې اشغال شوي او لوی فسادونه او او فتنې په کې وشوې ، کله چې دغه نوي یرغلونه یا استعمار لکه چې په دروغو او ظلم سره یې نومولي ، مګر په حقیقت کې نړول اوله منځه وړل دي ، بیا د ملګرو ملتونو ترنامه او سیوري لاندې نوي نوي صلیبي یرغلونه پیل او ټول مسلمانان یې محاصره او په هرځای کې یې ترسخت ګوزار لاندې راوستل چې داد ملګرو ملتونو د تړونونو د پلي کولو ترنامه لاندې پرمخ بیول کیږي ، عراق یې دلسو کلونوڅخه زیات یې په محاصره کې وساته اوداسې سخت ګوزار یې ورکړ چې ددې په درشل کې یې زراعت ، حیوانات اوانسانان له منځه لاړ.

اسرائیلو په فلسطین کې ماینونه وکرل چې په نتیجه کې په زرګونه فلسطیني مسلمانان په شهادت ورسیدل په همدې ډول یې په سودان ، لبنان ، صومال ، افغانستان ، بوسنیا اوهرسک ، کوسووا، مقدونیا ، چیچن ، کشمیر، فطاني ، تیمور او د ملوک جزیرو اوداسې نورې د مسلمانانو له ځمکو څخه په ملیونونو تنه وشړل ، او په ملیونونوېې ووژل ، دا حملې پرته له هغو تنصیري حملو څخه دي چې کلیساوې یې د مسلمانانو په ځمکو کې پلې کوي ، هیڅکله د مسلمانانو سره له دښمنۍ نه لاس نه اخلي ، مکر اوخباثت یې که ځینې وخت لږ څه کمیږي هم مګر له منځه نه ځي .

دوهم ډول : خاص دلیلونه :

هلته ځینې ځانګړي دلیلونه هم شته چې دا په ډاګه سره ښکاروي چې اوسنۍ یرغل په اصل کې د اسلام په ضد صلیبي جګړه ده .

ددې دلیلونو څخه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د امریکا جمهور رئیس پخپله ژبه سره . چې الله جل جلاله وګړاوه . په یو خبرې کنفرانس کې چې دیکشنبې په ورځ په 28/ 6/ 1422 هـ ق دائر شو وویل : دایوه صلیبیي جګړه ده ، ددې کلمې له ویلو څخه یې عذر غوښتلو زیاتې هڅې وکړې مګر وخت تر وخت تیروه .

الله پاک فرمایي : ...قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ...﴿118﴾ [89]

ژباړه : په تحقیق سره ښکاره شوی دی بغض او دښمني له خولو ددوی نه اوهغه بغض چې پټوی یې سینې ( زړونه) ددوی ډیرلوی دی ( له هغه چې په خوله یې وایي ) .

۲- کوم څه چې بوش وویل ، په همدې ډول د بریطانیا برګ سرې تاچر هم وویل ، او دایطالیا صدراعظم برلسکوني ددې پیښې څخه څو ورځې وروسته د اسلام په مبارک دین تور پورې کړ ، ددوی په آند یې یواځینی تند لاري خپل دښمنان نه ښودل ، د برسکونی د وینا ټکي داوو: د اسلام ګڼ ملیتي دین نه دی بلکې عنصریت ته بلنه ورکوي او تند لاري تشویقوي ، نو کله چې دا جمله د تند لارۍ په ضد ده ، او اسلام تند لارۍ ته لمن وهي نو نتیجه یې ښکاره ده ، یعني داصلیبي جګړه د اسلام د مبارک اوسپیڅلي دین په ضد جګړه ده او بس .

۳-دپیښې څخه وروسته بوش د کانګریس په وړاندې خپله بیانیه د ۳۴ د قیقو په اوږدو کې وړاندې کړه د بیانیې په ترځ کې د چکچکو په وسیله ۲۹ ځلې قطع شوه ، د تند لارۍ په ضد یې د یرغل خبرې وکړې او په حقیقت کې یې موخه د اسلام سره مقابله وه ځکه چې ده په هغه شریعت نیوکې وکړې چې طالبانو پلی کړی وه – یعني په طالبانو یې نیوکه نه وه بلکی په شریعت وه . . د ږیرې خریيل یې وغندل ، اوهمدارنګه د حجاب لازمول ، د ساز اوسرود او نڅا باندې بندیز اوداسې نور څیزونه یې د بیان د آزادۍ او د بشر له حقوقو سرغړونه وبلله .

په اصل کې داڅیزونه د اسلام د لارښوونو څخه دي ، دا د محمد بن عبد الله صلی الله علیه وسلم شریعت دی ، د ملا محمد عمر ځانګړی شریعت نه دی نو په همدې اساس دا د طالبانو ځانګړۍ شریعت نه وه.

---

[89] - سورت آل عمران آیت 118.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- کوم الفاظ چې بوش اوملګرو يې پدې جګړه کې استعمالول هغه د تورات څخه اخستل شوې اصطلاح ګانې دي لکه : « د بشرپه ضد جګړه » « دخير قوه د شر د قوې په مقابل کې » « د نيکانو او ښو خلکو جګړه د بدو ا وفتنه اچوونکو په مقابل کې » اوداسې نور الفاظ .

۵- امريکايانو اونورولويديځ والو د مسلمانانو په تنګولو لاس پورې کړ ځينې مسلمانان يې ووژل او ځينې نور يې ووهل اونورو ته يې ډول ډول عذابونه اوسزاګانې ورکړې ، جماتونه يې وسوځول ، اوداسې نور جنايتونه يې ترسره کړل ، سره ددې چې دغو ټولو ته ددې پيښې سره يې هيڅ تړاو نه وو او ټول بې ګناه وو ، د امريکايانوپه ګومان تروريستان د افغانستان په سمڅو اوغارونو کې دی مګر ټول په دې کې سره شريک دي چې « ټولو ته مسلمانان ويل کيږي » نو همداسې يې حکومتونو هم وکړل په ړندو سترګو يې په زرګونو مسلمانان ونيول اود زندانونو په لوري يې رهی کړل .۶- امريکايې اونورو خبرياالانوپه ډاګه سره وويل : داجګړه د اسلام په ضد جګړه ده ، اوله دوی څخه يو ديفيد سيلبورن دی ، چې ددې سرليک لاندې يې داسې ليکلې دي : دا جګړه د تندلاری او تروريزم په ضد نه بلکې د اسلام په ضد جګړه ده » ، ناشيونال ريفيو مجلې ددې سرليک لاندې وليکل : د اجګړه ده نو بايد د هغوئ ( مسلمانانو) هيوادونو په دننه کې ورسره وجنګيږو ، پدې مقاله کې يي وويل : زموږ امت ( کفري امت ) په يوې تندلارې او جنايتکارې ډلې يرغل وروړ نوپه موږ لازم دي چې هغوئ ( مسلمانان ) ددوی دهيوادونو په دننه کې ووژنو ، مشران يې له منځه يوسو او عيسويت ته يې په را اړولو مجبور کړو ».، له دې څخه يوه دهغې مجلې سرمقاله ده چې نيويورک تايمز يې صادروي د يکشنبې ورځې له ګڼې په ۷/ ۱۰/ ۲۰۰۱ نيته ويلي : « دايوه ديني جګړه ده » چی دا مقاله په شپږ مخونوکې ليکل شوې ده .

په پوښ باندې يې لنډ شانته داسې عبارت ليکل شوی وه چې : دا څوک وايې چې دا جګړه په دين پورې تړاو نلري » .

همدارنګه دا اوږده ليکنه د « اندرو سوليوان » وه چی پدې کې يې ذکر کړی وه « داجګره يوه ديني ده » او پدې موضوع کې زياتې ليکنې شته دي .

۷-د امريکا دلومړني يرغل لپاره ۲۷ ځايونه هدف ښوول شوی او په ګوته شوي وه چې دا ټول په مسلمانانو پورې تړلي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸-دوی ویلي چې هغه هیوادونه چې تروروستان پالي ۶۰ هیوادونه دي ، اومسلمان هیوادونه ۵۶ دي ، که چیرې هغه هیوادونه ورسره وشمیرئ چې جهادي غورځنګونه په کې فعالیت کوي لکه : فلپین ، مقدونیا اوداسې نور نو ۶۰ هیوادونوته رسیږي .

9- کافرانو په ډاګه سره وویل : چې د تند لارئ او تروریزم په ضد د دوی د هراړخیز یرغل په ترځ کې په افغانستان باندې ګوزار ، ددې یرغل یوه وړوکې برخه ده ، ددې خبرې د ثبوت لپاره د مشترکو قواوو د د مشرانو رئیس الارکان ریچارد مایرز د یکشنبې په ورځ په 5/ 8 1422 هـ ق کال چې د 22 / 10 /2001 میلادي سره سمون خوري د اې . بی . سي خبري چینل دیوې پوښتنې په ځواب کې وویل : پرته له افغانستان څخه د یرغل لپاره نور ځایونه هم شته ، ریچارد وویل : دا یو نړیوال جنګ دی چې د تروریزم او عام وژنې وسلو په ضد پیل شوی دی ، افغانستان یواځې یوه وړوکې برخه ده . له همدې امله طبیعي خبره ده چې موږ اوږد فکر لرو ، زه ووایم چې ددې دوهم نړیوال جنګ څخه را پدیخوا موږ په دومره هر اړخیز نظر فکر نه وه کړی .

10-ددې کافرانو په ګومان چې ددوی هدف او موخه د تروریزم له منځه وړل دي ، او ګومان کوي چې په ګوته شوي غورځنګونه تروریستي غورځنګونه دي ، هغه پوښتنه چې پدې اړه رامنځته کیږي داده چې دغه کافرانو ولې نور تروریستي غورځګونه پرېښې دي اوهغه دادي :

۱-د چاپان سور فوځ ( ددوی بت پرستان دي ) .

2-د ایرلند جمهوري غوښتونکې فوج ( کاتولیک عیسویان دي ) .

3-د کیوبا د آزادۍ فوج ( کمونستان دي ) .

4- دامریکا ښي اړخې مسیحي غورځنګ ( بروتستانت عیسویان دی ).

۵- په سهیلي ( جنوبي ) امریکا کې د مخدره موادو د قاچاقبرانو ډلې .

6- په اروپا کې د مافیا ډلې ، اوداسې نورغورځنګونه او ډلې ...

پدې کې شک نشته چې ددې پوښتنې ځواب واضح دی او هغه دادی چې دوی دا غورځنګونه ځکه پرېښي دي چې پدې یرغل کې دهغه شریک وصف څرنګوالی نه لیدل کیږي چې هغه « اسلام » دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰- دې کافرانو هغه اسلامي غورځنګونه په ګوته کړي چې د بهرنیو اشغالګرانو سره په جګړه بوخت دي لکه : د کشمیر مجاهدین چې د غوا د بندګانو په مقابل کې جنګیږي اودفلپین مجاهدین چې دعیسویانو په مقابل کې جګړه کوي او دوی په ترو رستانو کې شمیرلي دي .

ددې څخه دا پوښتنه پدې دلیل پورته کیږي چې : که چیرې د حکومتونو په مقابل کې محلي او وطني مقاومت تروریستي عمل وي نوولې یې دا لاندې حرکتونه پریښې دي :

1-تامیل پړانګان په سریلانکا کې ( بت پرستان دی ) .

۲-د سودان په جنوب کې د جون کرنګ په مشرئ عیسوي فوج ( عیسویان دي ) .

3-په بریطانیا کې د ایرلند جمهوري غوښتونکئ فوج ( عیسویان دي ) ، اوداسې نورغورځنګونه شته .

ددې پوښتنې ځواب څرګند دی اوهغه داچې : ددې ټولو غورځنګونو په منځ کې د ګډ او مشترک صفت نشتوالئ دی چې هغه « اسلام » دی .

۱۱- دوی پدې یرغل کې ټول هیوادونه لکه : د ناتو سازمان غړي هیوادونه ، روسیه ، چین ، کوریا ، اوداسې نور چې ځینو یې مالي اړتیاوې پوره کولې ، او ځینوېې د نورې مرستې او کومک لپاره متې بډ وهلي ، اوځینو هیوادونو یې سیاسي تائید او ملګرتیاته ورودانګل ، او ځینو هیوادونو نظامي اډې ورکړې او نورو بیانظامي مرستو ته لاس کړ ، او یواځې امریکا تقریبا د خپل نظامي قوت دریمه برخه یې ددې یرغل د بریالیتوب د پاره ځانګړې کړې وه .

هغه پوښتنه چې دا دلیل ترې راوځي :

آیا د یوه سړي دپاره او یاد یو داسې غریب او د اقتصاد او نظامي قوت له پلوه دومره وروسته پاتې هیواد چې په نړۍ کې سارئ نلري بیا دې لوی تیاري ته څه اړتیا او ضرورت لیدل کیږي ؟

دهرعاقل او یوه کس لپاره ځواب څرګند دی : ددې دومره لوی تیاري ترشا ډیر څه دي پرته له دې چې په یو تن او یا یو هیواد باندې یرغل اوهغه له منځه وړل وي بلکې د مسلمانانو په سیمو کې هر اسلامي هیواد ، اسلامي غورځنګ او اسلامي جهاد په هرځای کې چې وي غواړي له منځه یې یوسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

12- دشوروي اتحاد له ړنګیدواوساړه جنګ له منځه تللو نه وروسته ټولو لویدیځو هیوادونو اساسې دښمن اسلام ګاڼه ، چې ډیرو مشرانو یې پدې هکله څرګندونې هم کړې دي او پدې اړه ډیر کتابونه هم لیکل شوي دي چې له دې څخه : امریکا او سیاسي اسلام ، د تمدونونو جګړه یا د ګټو یا مصلحتونو ټکر ) ددې کتاب لیکوال فواز جرجس دی اوهمدارنګه د نکسون په کتاب ( له جګړې پرته بریالیتوب) کې راغلي : په اسلامي نړۍ کې د مغرب څخه تر اندونیزیا پورې د کمونیزم ځای اسلامي تند لارۍ نیولی دی ځکه چې دا د سخت تعبیر ( اوښتون) اساسي آله شمیرل کیږي .

همدارنګه خفیر سولانا د ناتو ټلوالې پخوانۍ مشر د ناټو د غړو هیوادونو په غونډه کې یې په 1412 هـ ق کال د شوروي اتحاد ترړنګیدو وروسته وویل: د ساړه جنګ تر ختمیدو او سره دښمن شوروي اتحاد تر ړنګیدو وروسته د ناتو په غړو هیوادونو او اروپا په ټولو هیوادو لازم دي چې خپل منځې اختلافات هیر کړي او خپل نظر روښانه کړي ترڅو هغه و ړاندې دښمن ووینې او دهغه د مقابلې لپاره یو موټۍ او متحد شي چې هغه « اسلامي تندلاري ده » .

د روسیې عیسوي ارتودکسي مشر پوتین په هغه کنفرانس کې چې د هم ګټو هیوادونو د مشرانو په وړاندې یې په 1421 هـ ق کال د خپلې وینا په ترځ کې وویل : اسلامي تندلارۍ هغه یواځینۍ خطر دی چې نن ورځ ټوله پر مخ تللي نړی ته ګواښ پیښوي ، او هغه یواځینۍ خطر دی چې نړیوال امن او سلامتیا تحدیدوي ، د ترهګرو د شتون څخه سترګې نه شي پټیدای ، او دوی هڅې کوي چې د فلپین هیواد څخه تر کوسووا پورې یو پراخه هیواد منځته راوړي ، او دا ترهګر د افغانستان څخه خپل فعالیتونه پر مخ بیایي چې ددوی د خوځښت ځای بلل کیږي ، که چیرې نړیوال د ترهګرود مقابلې لپاره را اوچت نشي نو بیا ترهګر خپل هدف او موخې ترلاسه کولای شي ، اوروسیې په شمالي قفقاز کې د ترهګرو د مقابلې لپاره نړیوالې مرستې ته اړتیا لري .

۱۳- د امریکا زیات مشران په یو لوی نړیوال جنګ عقیده لري چې ( هرمجدون ) ورته وایي او داهغه جګره ده چې ددوی په عقیده د خیر او نیکۍ قوت ( عیسویان ) به د شر او بدی په قوت چې ( مسلمانان دي ) ترمنځ واقع کیږي ، پدې حګړه کې ترټولو زیات لیواله د امریکا اوسنۍ ددفاع وزیر رامسفلید دی .

ددوی ویناوې او څرګندونې د یوسف الطویل په کتاب لوی اسرائیل ، د پروګرام سره په تړاو او په اسلامي نړۍ د بوش صلیبي یرغل دیني اړخ نومیږي شته دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لړدليلونه دي چې ما راوړي دي اوکوم چې پاتې دي هغه ډیرزیات دي ، که څوک زیات معلومات ترلاسه کول غواړي نودیوسف الطویل مخکینۍ یاد شوی کتاب او د صلاح الدین ایوبي چې د نوي صلیبي جګړې حقیقت ، نومیږي وګورئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم فصل : کفاروسره د دوستی د منع دلائل

الله پاک د په ما او تا باندې رحم وکړي او الله پاک د موږ په اسلام ا ود توحید په عقیده ثابت پاتې کړي ترڅو د الله پاک په حضورته مسلمانان ورشو ، ای وروره پدې پوه شه چې داسلام اصل او اساس دوه څیزونه دي ، لکه څنګه چې شیخ محممد رحمت الله علیه ویلي دي :

لومړۍ : د یو الله پاک په عبادت او بندګۍ امرکول پرته له کوم شریک نیولو څخه .

دوهم : د الله پاک په عبادت کې دشریک نیولو څخه منعه او پدې منع کې سختي کول ، او پدې کې د ښمني کول ، او چې څوک د الله پاک سره شریک نیسي د هغه کافر ګڼل .

دکافرانو سره دښمني د کافرانو او دهغوئ د کفر څخه بیزاري اختیارول د یاد شریعت نه ، ددین د اساساتو څخه دی او پرته له دې څخه د انسان دین نه صحیح کیږي او دا دابراهیم علیه السلام طریقه ده لکه چې الله تعالی فرمایلي دي : قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءاؤا مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاء أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن شَيْءٍ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿4﴾ [90]

ژباړه : په تحقیق شته دی تاسې لره ( ای مؤ منانو) طریقه ښه ( چې اقتداء پسې کولئ شې ) په ( قول او فعل ) د ابراهیمې او( په قول – فعل د ) هغه چا کې چې ده ............ له ( مؤمنانو ) کله چې وویل ( دغه ابراهیم او اتباعو یې مشرکانو د( قوم ددوی ته چې بیشکه موږ جلا( جدا) بیزاره یو له تاسې څخه او ( بیزاره یو) له هغه څیزه چې تاسې یې عبادت کوی یې له الله ... منکران شوي یو ( په باطل ،،، ) ستاسې باندې او ښکاره شوي دي په منځ زموږ او ستاسې کې عداوت دښمني او بغض حسد ابدي ( همیشه ) ترهغه پورې چې ایمان راوړي په الله باندې یواځې ( چې واحد لاشریک دی ) مګر خو ( اقتداء مه کوې د ) یوې خبرې د ابراهیم ( چې ویلي یې وه پخوا له امتناعه ) پلار خپل ته ( داسې چې خامخا زه بښنه غواړم هرو مرو ( خامخا) د تا دپاره او مالک نه یم زه تا له عذابه د الله ( هیڅ څیز ) ای ربه زموږ ( خاص ) په تا باندې توکل کړی

[90] ـ سورت الممتحنه آیت 4 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پس موږ او ( خاص تاته رجوع کړي ده موږ او ( خاص ) تاته بیرته ګرځیدل د ګردو ( ټولو ) دی په آخرت کې دپاره د جزاء .

له همدې سببه پدې پوه شه چې د کافرانو سره چلند درې حالتونه لري :

لومړۍ حالت : هغه چلند چې په هغې سره انسان کافر کیږي اوداسلامي ملت څخه وځي .ځینې علماؤ دې ته ( التولي ) نوم ورکړی دی : نو هرهغه حالت چې دانسان په کفر او مرتد کیدو سره پای ته رسیږي همدغه حالت ترې مطلب دی ، او دا کله : د کافرانو دین ښه ګڼل او مینه ورسره کول ، د کافرانو په برياوو خوشحالیدل اوداسې نور ، او زموږ موضوع چې هغه له کافرانو سره مرسته او کومک کول دي .

دوهم حالت : هغه چلند چې حرام دی خو څوک پرې نه کافر کیږي : چې ځینو علماؤ دی ته د ( موالات یعني دوستي ) نوم ایښی دی نوهرهغه څه چې پدې حالت باندې ... او ثبوت په ترڅ کې حرام والي ته ورسیږي ، خو داحرام والئ کفر ته نه رسیږي ، نوهمدغه دحرام والي حالت ترې مطلب دی : لکه په مجلسونو کې په لومړې کتار یا داحترام په ځایونو کې یې کینول ، لومړی په کافرانو سلام اچول ، او دومره دوستي ورسره کول چې د « تولی» حد ته و نه رسیږي او داسې نور .

دریم حالت : د کافرانو سره روا چلند کول : د غه حالت په موالات ( دوستئ ) کې داخل نه دی ، دا هغه څه دي چې په روا والي دلالت کوي لکه : د کافرانو سره په عدل چلند کول ، او دهغو کافرانو سره چې په جنګي حالت کې د مسلمانانو په مقابل کې قرار لري انصاف کول ، د خپلوانو کافرانو سره دوستي نه شلول او داسې نور .

امام قرافی رحمت الله علیه پخپل کتاب الفروق کې ددوهم او دریم حالت ترمنځ توپیر داسې بیان کړی دی : پدې پوه شه چې الله پاک د کافرانو ( ذمیانو) سره مینه او محبت پدې مبارک فرمان سره منع کړې : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءَكُمْ مِنَ الْحَقِّ ... ﴿1﴾ [91]

ژباړه : ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی ( ای مؤمنانو) مه نیسئ تاسې دښمنان زما ( اودښمنان خپل دوستان په دغه حال کې چې غورځوئ لیږئ تاسې خبرونه هغوئ ته په سبب ددوستئ سره ( په منځ ستاسې

---

[91] - سورت الممتحنه آیت 1 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوددوی کې ) حال داچې په تحقیق کافران شوي دي هغوئ په هغه پسې چې راغلي دي تاسې ته له حق ( دین او قرآن ) څخه .

نوالله پاک مینه او مرسته له کافرانو سره ممنوع وګرځوله .

او الله پاک په بل آیت کې فرمایلي دي : لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ .... ﴿8﴾ [92]ژباړه : نه منع کوی تاسې ( ای مؤمنانو) الله له ( دوستی د ) هغو کسانو چې نه دی کړی جنګ له تاسو سره په ( کارد ) دین کې او نه یې ایستلی تاسې له کورونو خپلو څخه ( له دی نه ) چې نیکې کوئ تاسې له دوی سره او چې عدل او انصاف کوئ تاسې له هغوئ سره بیشکه چې الله خوښوي دوست لري انصاف عدل کوونکی .

ددغو مبارکو آیاتونو ترمنځ جمع او یو ځای والی ضرورردی اوهغه داچې : د کافرانو ( ذمیانو) سره نیکي کول د اسلام غوښتنه ده ، او په مخکیني آیت کې د کافرانو سره له نیکۍ کولو ممانعت شوی دی ، اودا په لاندې مثالونو سره واضح کیږي :

-کافرانو ته د ځانګړي ځای د تیارولو بندو بست .

-د کافرانو لپاره دخپلو ځایونو څخه جګیدل .

- کافرانو ته په درنو نومونو اواز کول چې ددوی د مرتبې او چتوالی ښيي ، دا ټول څیزونه حرام او ناروا دي .

همدارنګه چې د کافرانو سره په لاره کې مخامخ شو پراخه ، سمه او آسانه لار هغوی ته پریښودل ، بیکاره ، تنګه او تکلیفي لاره خپلو ځانونو ته اختیار کول لکه څنګه چې دود او دستور همداسې دی چې عادي انسان د مشر او رئیس سره ، او ندی د پلار په وړاندې همدا چلند کوي ، دا ټول حرام دي ځکه پدې کې د کفراو نښو لوړوالی د الله پاک او داسلام ددین حقارت او دمسلمانانو سپکوالی دی .

اوهمدارنګه مسلمان سړئ د کافرانو سره کوم غلام یا مزدور ندی چې امر او نهی یعني : وکړه او مه کړه ورته وايي : تردې چې ویې ویل : هرچې الله پاک ددې کافرانو په وړاندې مور ته د نیکۍ کولو پرته له باطني محبت څخه امرکړی دی لکه : دکافرانو له کمزورۍ سره نرمي ، وږي ته یې ډوډئ ورکول ، لوڅ اوبربند ته جامې

---

[92] ـ سورت الممتحنه آیت 8.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکول ، د زړه سوی ترحم او مهربانی په وجه نرمې خبرې کول ، نه د ويرې او ذلت له سببه : د کافرانو سره د ګاوندېتوب په ترڅ کې د هغوی ضرر تحمل کول ، سره ددې چې ددې ضرر د لرې کولو قدرت هم ولرو بيا د مهربانی او زړه سوي له امله يې په ځان اخلو نه د ويرې او ددوی د لويوالي له وجی ، داهم روادي : دې کافرانو ته د الله پاک څخه هدايت غوښتل او په نيکبختانو کې يې د داخل کيدو دعا .

اوهمدارنګه په ورځنيو چارو کې ورته نصيحت کول ، نو له دوی سره ټول کارونه ، ددوی د احترام اولوړتيا له وجې نه ، يا زموږ د حقارت اوسپکوالي له وجې نه ، نه ترسره کوو نو دا روا او جائز دي ، او په موږ لازم دي چې په خپلو زړونو کې هغه څه هم را په ياد کړو چې دا کافران زموږ سره څومره نفرت او کرکه لري او زموږ د پيغمبر صلی الله عليه وسلم بعثت دروغ ګڼي ، او که دا کافران په موږ تسلط او قدرت پيداکړي نو زموږ په وينو اومالونو به هم صرفه او ايله ونکړي اوله منځه به مو وباسي ، اودا کافران زموږ د رب او زموږ د مالک الله جل جلاله سخت ترين نا فرمانه او بد ترين مخلوق دی ، بيا په نرمی ورسره چلند کوو دا ټول زموږ د رب جل جلاله د امر په ځای کول دی .

نو ددريوواړو حالتونو ترمنځ يې توپير واضح کړاو کنه نود ټولو حالاتو حکم به درباندې ګډ شوې وه ، په ځانګړې ډول په اوسني وخت کې ځينې علمي د جالان شته چې دريم حالت د اول او دوهم حالت د روا والي لپاره دليل ګرځوي چې دا دګمراه کوونکو خلکو په طريقه ځيز د متشابهو امورو په متابعت او د حق او باطل په ګډ والي سره د عامو خلکو بې لاري کول غواړي .

پدې پوه شه چې د دوستی او دښمنی مسئلې د تفصيل او وضاحت ځای دا نه دی . زموږ بحث او څېړنه په يوه مسئله کې چې هغه د لومړي حالت د « تولي » او د مسلمان په مقابل کې د کافر سره مرسته کول دي ، او دا داسلام هغه اتم ( ناقض ) ماتوونکی ځيز دی کوم چې د شيخ الاسلام محمد بن سليمان تميمي ذکر کړی دی وايي : د اسلام اتم ناقض ( ماتوونکی ) د مسلمانانو په مقابل کې د مشرکانو سره ملګرتيا اودهغوی مرسته کول ، دليل يې د الله پاک دا فرمان دی چې : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿51﴾ [93]

---

[93] - سورت المائده آيت 51.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : اوهرچاچې دوستي وکړه له دوی سره له تاسې څنې نوبیشکه چې دی له همدوی څنې دی ( نومؤمنان د ځان وساتي له دوستی د کفارو ) بیشکه الله هدایت نه کوي قوم ظالمانو ته ( چې ظلم کوي په ځانونو خپلو په دوستۍ کولو د کفارو سره ) .

اوس پوه شوې چې هغه صلیبې جګړه چې دالله پاک د ښمنانو امریکایانو او دهغوئ نورو کافرانو ملګرو او منافقانو په مشرئ یې پرمخ بیایي یواځینئ موخه او هدف یې اسلام او مسلمانان دي او بس .

- د کافرانو سره په جګړه کې هر ډول مرسته که دا مرسته په ځان ، وسلې ، ژبې ، زړه ، قلم ، مال ، فکر ، نظر او داسې نورو څیزونو سره وي نو دا کفر او د اسلام څخه مرتد کیدل ( یعني ددین څخه اوښتل ) ، الله پاک د موږ ترې وساتي ، پدې مسئله کې ډیر دلیلونه شته او ما په اتو مبحثونو ویشلې دي :

## لومړئ مبحث : د اجماع څخه دلیلونه :

دادلیل مې په نورو دلیلونو څکه مخکې راوړ ترڅو څوک دا فکر ونکړي چې دا مسئله کومه اجتهادي مسئله ده اود علماوو ترمنځ اختلافي خبرده ، او داخبره هم ښکاره او څرګنده ده چې اجماع پرته د قرآن کریم او نبوي احادیثو ددلیل څخه منځته نه راځي .

له همدې سببه پدې پوه شه چې تول : اسلامي امت پدې متفق دی چې چا د مسلمانانو په ضد د کافرانو سره مرسته او کومک وکړ نو داکس کافر او داسلام څخه او ښتی او مرتد دی ددې اجماع اثبات په دوه و جهو او اسبابو بناده .

لومړئ سبب: د مختلفو مذهبونو د امامانو د ویناوو پدې مسئله کې یادونه او داپه اووم او اتم مبحث کې ذکر شوی چې پدې مې د احنافو ، مالکیانو ، شافعیانو او حنبلیانو ، ظاهریانو او له دوی څخه پرته د نورو مجتهدینو اقوال ذکر کړي دي او ددې په څنګ کې مې د وروستیو او معاصرو علمای کرامو فتواوې هم راوړې دي .

دوهم سبب : دځینو هغو نصوصو راوړل چې پدې مسئله کې یې اجماع ذکر کړې ده ، او له دوی څخه دا لاندې علمای کرام دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-علامه ابن حزم رحمت الله علیه داسې ویلي دي [94]: داصحیح ده چې د الله تعالی دا قول چې فرمايي: « ...وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿51﴾ [95]

بیشکه دا کار په ښکاره سره منځته راځي نو داکس کافر دی اودا کافرانو له ډلې څخه دی ، او دا هغه حق او ریښتیا خبره ده چې دوه مسلمانان به هم په کې اختلاف ونه کړي .

2-شیخ عبد اللطیف بن عبد الرحمن بن حسن آل شیخ ویلي دي [96] : وروسته له هغه چې د کافرانو سره په دښمنۍ اودهغوی څخه په بیزارۍ یې خبرې وکړي نو بیایې وویل : نو څه حالت به وي دهغه چاچې د کافرانو سره مرسته کوي او په اسلامي هیوادونو یې د حملې او یرغل لپاره هڅوي ، او یایې صفت کوي اویایې دمسلمانانو پرخلاف عادل او با انصافه ګڼي ، او دکافرانو سره د هغوی په هیوادونو کې استوګنه اختیاروي دهغوی سره دوستي کوي او دخپلې مینې او محبت څرګندونه ورته کوي ، نودا په واضح ډول په اتفاق سره مرتد کیدل دي ، الله تعالی فرمایلي دي : ... وَمَن يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ) [97]

ژباړه: اوهرڅوک چې کافر (منکر) شو په ایمان ( او مؤمن په شیانو ) په تحقیق ضائع ( باطل ) شو عمل دده او دی په آخرت کې له زیانکارانو څخه وي .

۳- شیخ عبد الله به حمید رحمت الله علیه په [98] کې ویلي دي : « تولي » څه ته وایي : تولي د کافرانو احترام او عزت کول دهغوی صفت کول دهغوی سره د مسلمانانو په مقابل کې مرسته او کومک کول ، د هغوی ( کافرانو ) سره اوسیدل ، په ظاهري او ښکاره ډول د دوی ( کافرانو) څخه نه بیزاره کیدل ، نو په دا ټولو صورتونو کې یې کوونکی مرتد دی ، لازم دي چې په ډاګه د مرتدانو احکام پلې شي لکه څنګه چې پدی سره قرآن کریم ، نبوي احادیث ، په امت کې د هغه چا جماع چې اقتداء پسې کیږي په مسئله کې دلیل او ثبوت دی .

4- شیخ عبد العزیزبن باز رحمت الله علیه پخپلو فتاواوو کې په [99]مخ کې ویلي دي : د اسلامي دین علمای کرامو پدې سره اتفاق کړی دی چې چا د کافرانو سره د مسلمانانو په مقابل کې مرسته وکړه که دا هرډول

---

- المحلی ج 11 ص 128. [94]
- سورت المائده آیت 51. [95]
- الدرر ج 8 ص 326. [96]
- سورت المائده آیت 5 . [97]
- الدرر ج 15 ص 479 . [98]
- فتاوی ابن باز ج 1 ص 274. [99]

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرسته او کومک وي نو داکس د کافرانو په څير کافردی لکه چې الله تعالی فرمايلي دي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿51﴾ [100]

ژباړه : ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ( يعني ای مؤمنانو) مه نيسئ تاسې يهودان اونصرانيان دوستان ! ( چې له دوی سره موالات او مدد وکړي ) (دوی يوتربله ) ځينې دوستان دي د ځينو نورو ( ځکه چې ټول سره په کفرکې شريک دي اوګرد ( ټول ) سره تاسې سره متفق دي ) او هرچاچې دوستي وکړه له دوی سره له تاسې ځينې نو بيشکه چې دی له همدوی ځنې دي ( نو مؤمنان دې ځان وساتي له دوستئ نه د کفارو ) بيشکه ( الله هدايت نه کوي ظالمانو ته ( چې ظلم کوي په ځانونو خپلو په دوستئ کولو دکفارو سره .

## دوهم مبحث : له قرآن کريم څخه دليلونه :

پدې مسئله کې د قرآن کريم ډيرزيات آياتونه دليل او ثبوت دی چې په لاندې ډول به ځينې ترې ذکر کړو :

لومړی دليل :

د الله جل جلاله دا فرمان دی چې : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿51﴾ [101]

ژباړه : ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ( يعني ای مؤمنانو) مه نيسئ تاسې يهودان اونصرانيان دوستان ! ( چې له دوی سره موالات او مدد وکړي ) (دوی يوتربله ) ځينې دوستان دي د ځينو نورو ( ځکه چې ټول سره په کفرکې شريک دي اوګرد ( ټول ) سره تاسې سره متفق دي ) او هرچاچې دوستي وکړه له دوی سره له تاسې ځينې نو بيشکه چې دی له همدوی ځنې دي ( نو مؤمنان دې ځان وساتي له دوستئ نه د کفارو ) بيشکه ( الله هدايت نه کوي ظالمانو ته ( چې ظلم کوي په ځانونو خپلو په دوستئ کولو دکفارو سره .

دغه آيت هغه څوک چې د کافرانو سره مرسته کوي له درې وجوهاتو کافر بللئ دی :

لومړی وجه : د الله متعال قول دی : « بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ » ځينې کافران يې د ځينو نورو دوستان وګرځول اود مسلمانانوڅخه يې دوستي قطع کړه ، نو دا آيت شريف پدې دلالت کوي چې چا ورسره دوستي وکړه ،

[100] - سورت المائده آيت 51.
[101] - سورت المائده آيت 51.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای بَعْضُهُمْ » کې ورسره داخل شو اوداوخت ورپورې وترل شو . امام ابن جریر رحمت الله علیه په خپل تفسیر کې [102] ویلي دي : دا قول د الله متعال چې « بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ » ددې دا مطلب دی چې د مسلمانانو په مقابل کې ځینې یهودان د ځینو نورو یهودانو سره ملګری وي اودنورو په مقابل کې یو موټئ دی ، اوهمدارنګه عیسویان دهغه چا په ضد چې ددوی ددین او ملت دښمنان دي ، ځنې د ځینو نورو ملګری دي ، الله پاک پدې سره خپل مؤمن بندګان پوهوي چې که څوک د مؤمنانو دوستان وي نو په یقیني توګه الله پاک ددې مؤمنانودوست او مرسته کوونکی د هغه چا په مقابل کې دی چې دوی د مؤمنانو ددین او ملت دښمنان وي اګر که د مؤمنانو څخه هم وي ، لکه یهودان او عیسویان د جګړې په وخت کې یو موټئ اود یو هدف خاوندان دي .

الله تعالی د یاددښت په ډول مؤمنانو ته وایي چې تاسې هم ځینې د ځینو نورو دوستان شئ ، د یهودانو او عیسویانو لپاره جګړه شته نو ستاسو لپاره هم د اجګړه شته ، ځینې ددوی د ځینو نورو لپاره دوستان دي ځکه چې چا دکافرانو سره د دوستي اظهار او څرګندونه وکړه نو په یقیني توګه یې د مؤمنانو سره د خپلې جګړې اعلان وکړ او ددوی څخه د بیزاری او دوستئ بندیدل دي .

دوهمه وجه : د الله پاک دا قول چې : وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ » د کافرانو په څیر کافر دی ، ابن جریر رحمت الله علیه ویلي دي : الله پاک پدې ډول سره یاد دي : وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ » یعني چاچې د یهودانو او عیسویانو سره پرته له مؤمنانو څخه دوستي وکړه نوداکس هم ددې کافرانو له ډلې څخه دی . [103]

ابن جریر رحمت الله علیه وایي : چاچې دمسلمانانو په ضد د کافرانو سره مرسته او کومک وکړ دا کس هم د کافرانو په دین اوملت کې داخل دی ، ځکه چې هیڅ دوستي کوونکی د هیچا سره دوستي نه کوي مګر په ده ، او په دین یې اوپه عمل یې چې دی یې پرې خوښ کړی شو، راضي او خوښ وي ، نوکله یې چې په ده او په دین یې خپله رضا وښودله نود مخالف سره یې د ښمني او ناخوښي وګرځیده چې پدې حالت کې ددواړویو حکم دی .

شیخ سلیمان بن عبد الله آل شیخ ویلي دي : الله پاک مؤمنان د یهودانو او عیسویانو د دوستی څخه منعه کړي دي او الله پاک دا خبر ورکړی دی ، کومو مؤمنانو چې د کافرانو سره دوستي وکړه نو دامؤمن هم د

---

- تفسیر ابن جریر ج 6 ص 277 . [102]
- تفسیر ابن جریر ج 6 ص 477. [103]

(c) ketabton.com: The Digital Library

کافرانو څخه دی ، او همدارنګه چاچې مجوسیان او بت پرستان کافران په دوستی سره ونیول نوداکس دهمدې ډلې څخه دی .[104]

دریمه وجه : د الله پاک داقول دی : إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ، ددې ظلم څخه لوی ظلم هدف دی لکه چې الله متعال فرمایلي دي : وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿254﴾ [105]

ژباړه : یواځې همدا کافران ظالمان دي .

پدې باندې اول آیت او راتلونکي آیاتونه دلالت کوي لکه څنګه چې په راتلونکو دلیلونو کې له دوهم دلیل څخه تر څلورم دلیل پورې د مخکینۍ اجماع سره یو ځای دا مسئله واضحه شوې ده .

ابن جریر رحمت الله علیه ویلي دي : الله پاک په همدې باندې یادونه کړې ده چې الله پاک هغه چاته بریالیتوب نه ورکوي چې ددوستی ځای یې نه وي پیژندلی ، د یهودانو او عیسویانو ددوستۍ سره جوخت یې د الله دالله پاک ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو سره یې دښمني را اخستې وي ترڅو د نورو مؤمنانو او مسلمانانو په مقابل کې د کافرانو سره ملګرتیا وکړي سره ددې چې الله پاک د مسلمانانو کومک کوونکي او مرسته کوونکي دي ، که چا دکافرانو سره دوستي وکړه نو دا د الله پاک او دهغه د پیغمبر او مؤمنانو سره جګړه ده . [106]

اوهمدارنګه امام ابن جریر رحمت الله علیه ددې آیت شریف په هکله داسې ویلي دي : زموږ په وړاندې ددې مسئلې په هکله صحیح خبره داده چې وویل شي : بیشکه الله پاک ټول مؤمنان د یهودو او عیسویانو له مرستې ویستلي او له ملګرتیا څخه یې منع کړي دي ترڅو دهغو کسانو له مقابلې څخه چې په الله پاک او دهغه په پیغمبر باندې ایمان لري ځانونه وژغوري .

او الله پاک خبر ورکړی چاچې کافران پرته له الله اودهغه له رسوله او مؤمنانو خپل دوستان ، ملګري او مرستندویان ونیول نوداکس د همغو کافرانو له ډلې څخه دی چې دالله پاک اودهغه د رسول صلی الله علیه

---

- الدرر ج 8 ص 127 . [104]
- سورت البقره آیت 254 . [105]
- تفسیر ابن جریر ج 6 ص 278. [106]

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلم او مؤمنانو څخه بيل او دکافرانو په حزب او ډله کې دي ، الله جل جلاله او دهغه رسول ترې بېزاره دي .[107]

دو هم دليل :

الله پاک د مخکيني آيت څخه وروسته سمدلاسه وفرمايل : فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ فَعَسَى اللّهُ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ فَيُصْبِحُواْ عَلَى مَا أَسَرُّواْ فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِينَ ﴿52﴾ [108]

ژباړه : نو وبه وينې ته هغه کسان چې په زړونو کې مرض ( رنځ دنفاق ) دی چې ځغلي به په ( دوستی د) دوی کې ، وايې به دوی ( په عذر کې چې ويريږو ) له دوی نه چې و به رسيږي هغوی ته کومه حادثه نونژدې دي چې الله به راتله وکړي په بري ( د رسول خپل په تقويت د اسلام سره ) يا ( به راوړي بل ) يو حکم له خپل جانبه ( په اظهار دحال د منافقانو ) نو وبه ګرځي دوی په هغه شي چې پټ کړي دي دوی په نفسونو خپلو کې ( له .... اودوستۍ د کفارو ) پښيمانه .

دکافرانو سره مرسته او ملګرتيا کوونکي خلک داسې دي لکه هغه خلک چې په زړونو کې يې مرض وي چې دا مريضان ( منافقان ) دي چې د قرآن کريم دا آيت ددوی په هکله نازل شوی دی لکه څرنګه چې د تفسير په کتابونو کې ذکر شوي دي .

ابن کثير رحمت الله عليه ويلي دي : د الله پاک ددې فرمان په هکله : فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ، ويلي دي ، مرض څخه مطلب شک شبهه او منافقت دی ، يُسَارِعُونَ فِيهِمْ ، د کافرانو دوستي او محبت ته يې ښکاره او پټه سره په ډير تلوار او چالاکۍ سره منډې وهي ، يَقُولُونَ نَخْشَى أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ، دکافرانوسره ملګرتيا اودوستي پدې بانه کوي که چيرې کافران د مسلمانانو په مقابل کې کوم بريااليتوب ته ورسيږي نو بيا به د يهودو او عيسويانو سره د دوی څه لاس او دوستي وي چې پداسې سخت حالت کې به ګټه ورسوي .[109]

---

- تفسير ابن جرير ج 6 ص 276 .[107]
- سورت المائده آيت 52 .[108]
- تفسير ابن کثير ج 2 ص 69 .[109]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم دليل :

د مخکيني آيت څخه وروسته سمدلاسه د الله پاک دا فرمان دی چې : وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُواْ أَهَؤُلاء الَّذِينَ أَقْسَمُواْ بِاللّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَأَصْبَحُواْ خَاسِرِينَ ﴿53﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَلاَ يَخَافُونَ لَوْمَةَ لآئِمٍ ذَلِكَ فَضْلُ اللّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿54﴾ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ ﴿55﴾ وَمَن يَتَوَلَّ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ فَإِنَّ حِزْبَ اللّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ ﴿56﴾ [110]

ژباړه : او وايې به هغه کسان چې مؤمنان دي ( له تعجبه ) آيا دا همغه کسان دي چې قسمونه کوي دوی په الله سخت قسمونه خپل چې بيشکه دوی خامخا له تاسې سره د ي ( په دين کې ، نو فرمايئ الله ) باطل شول عملونه د دوی نو وګرځيدل دوی زيانکاران / ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ( يعني ای مؤمنانو ) هر څوک چې مرتد شو ( و ګرځيد ) له تاسې نه له دين خپل څخه نو عنقريب به راولي الله داسې يو قوم چې محبت کوي ( الله ) له هغوی سره او محبت کوي دوی له الله سره متواضع او مهربان به وي پرمؤمنانو غالب زبردست به وي پرکافرانو باندې جهاد به کوي دوی په لاره د الله کې ( له پاره د ترقی ددين او نه ويريږي دوی له ملامتيا د هيڅ ملامت کوونکي ( دامذکوره صفات ) فضل د الله دی ، ورکوي هغه چاته چې اراده وکړي او الله فراخ دی ( فضل ، رحمت ، احسان دده ) ښه عالم ( خبردار په ټولو احوالو ) بيشکه هم داخبره ده چې دوست ستاسې (خاص ) الله اورسول دده دی اوهغه کسان دي چې قئموي ( سم اداء کوي ) سره د ټولو حقوقو ) لمونځ (يا) ( صفت کوود) هغو کسانو چې قائموي ( سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو ) لمونځ او ورکوي دوی زکات او هم دوی رکوع ( عاجزي ) کوونکي دي ( په لمونځ او زکات خپل کې ) ( يا) او ورکوي دوی زکات ( خيرات ) حال داچې دوی په رکوع ( نفلي لمونځ ) ولاړوي . داټول آياتونه د يهودو او عيسويانو ددوستئ په درشل کې راغلي دي ، اوداټول د کافرانو سره ددوستي کوونکي په مرتد کيدو دلالت کوي چې په لاندې وجوهاتو سره ښکاره کيږي :

---

- سورت المائده آيت 53- 56. [110]

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی وجه : د الله تعالی دا فرمان دی چې : وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُواْ أَهَؤُلاء الَّذِينَ أَقْسَمُواْ بِاللّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ... ﴿53﴾ [111]

ژباړه : او وايې به هغه کسان چې مؤمنان دي ( له تعجبه ) آيا دا همغه کسان دي چې قسمونه کوي دوی په الله سخت قسمونه خپل چې بيشکه دوی خامخا له تاسې سره د ي.

مطلب يې دادی چې دوی پدې خبره کې دروغجن دي بلکې ددوی دوستي له کافرانو سره ددوی د دروغو پوره دليل دی : ابن جرير رحمت الله عليه ويلي دي : مؤمنان د دوی د منافقت ، دروغو ، په الله پاک باندې ددروغو قسمونو سوګند خوړلو په وسيله جرأت کول ، داهغه کسان دي چې موږ ته به يې په الله پاک باندې قسمونه خوړل چې دوی له موږ سره دي مګر په خپلو خبرو کې دروغجن وو چې زموږ سره به وي [112]

دوهمه وجه : الله پاک د هغو خلکو په اړه چې د کافرانو سره يې مرسته او کومک کړی دی داسې فرمايې : حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ ، يعني هغه کسان چې د کافرانو ملګري يې کړی ده ځکه يې نيک عملونه له منځه تللي چې دا تړول په کفر سره راځي ، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي : وَالَّذِينَ كَذَّبُواْ بِآيَاتِنَا وَلِقَاء الآخِرَةِ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلاَّ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿147﴾ [113]

ژباړه : او هغه کسان چې نسبت دروغوېې کړی دی آياتونو زموږ ته او ملاقات د آخرت ته خراب او باطل شول عملونه ددوی نشي جزاء ورکولی دوی ته مګر جزا د هغې عمل چې وو دوی چې عمل به (يې) کاوه . او الله پاک فرمايلي دي : مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُواْ مَسَاجِدَ الله شَاهِدِينَ عَلَى أَنفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ أُوْلَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿17﴾ [114]

ژباړه : نشته مشرکانو ته دا يعني ناروا يانه دي له شانه د مشرکانو » داچې ودان کړي مسجدونه د الله په عبادت په ناسته ولاړه ورتلو سره » حال داچې شاهدان وي دوی پر نفسونو خپلو په کفر سره ، دغه مشرکان ابته او خراب دی عملونه ددوی ( چې ايمان نه لري ) او په اور کې به وي دوی هميشه به وي .

---

[111] - سورت المائده آيت 53 .
[112] - تفسير ابن جرير ج 6 ص 281.
[113] - سورت الاعراف آيت 147.
[114] - سورت التوبه آيت 17.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او الله پاک فرمايلي دي : وَمَن يَكْفُرْ بِالإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ ... ﴿5﴾ [115]ژباړه : او هرڅوک چې کافر ( منکر) شو په ايمان ( او مؤمن به شيانو ) پس په تحقيق سرخ ضائع شو عمل دده .

او الله پاک فرمايلي دي : ...لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿65﴾ [116]

ژباړه : او خپله شرک پيداکړ تا ( فرضاً) نو خامخا خراب به شي هرو مرو ( خامخا ) عمل ستا او خامخا شي به ته هرو مرو ( خامخا) له زيانکارانو ) ، اوداسې نور آياتونه هم شته .

ابن تيميه رحمت الله عليه ويلي دي : پرته له کفر څخه په بل څيز عملونه له منځه نه ځي ځکه چې د ايمان په حالت کې مړ شي نو حتماً به جنت ته داخليږي او ددوزخ څخه به وځي اګر که دوزخ ته داخل شوي هم وي او که ټول نيک عملونه يې له منځه تللي وي بيا نو هيڅکله هم جنت ته داخليدی نشي ځکه چې عملونه د هغه ضد له منځه وړي او نيک عملونه په مطلق ډول پرته له کفر څخه بل څيز له منځه نه وړي او داد اهل سنتو د مشهورو اصولو څخه يو اصل دی . [117]

دريمه وجه : د الله پاک دا قول دی چې : فَأَصْبَحُواْ خَاسِرِينَ ﴿53﴾ [118] يعني : د نيک عمل د له منځه تللو خسارت او تاوان په دنيا او اخرت دواړو کې وي ، الله پاک د موږ ترې وساتي ، لکه چې الله متعال فرمايلي دي :... وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُوْلَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ ... ﴿217﴾

ژباړه : او هرڅو ک چې ګرځي له تاسې نه له دينه خپل پس مړ شي حال داچې دی کافر وي نو دغه کسان ضائع شو ي ( تير) عملونه د دوی په دنيا او آخرت کې .

څلورمه وجه : د الله پاک دا قول دی چې فرمايي : وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ ، يعني : څوک چې ستاسې څخه د خپل دين نه مرتد شي .

ددې آيت څخه وړاندې او وروسته آيت پدې دلالت کوي چې اصل خطاب د کافرانو سره په دوستي کولو کې دی .

---

- سورت المائده آيت 5 . [115]
- سورت الزمر آيت 65. [116]
- الصارم السلول ج 2 ص 214. [117]
- سورت المائده آيت 53. [118]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن تيميه رحمت الله عليه ويلي دي : داسلام كومه ډله مرتده نشوه مګر الله پاک به داسې يوقوم راولي چې الله پاک ورسره محبت لري او دير يې د الله پاک په لار کې جهاد کوي او دوی هغه منصوره ډله ده چې د قيامت تر راتللو پورې به الله پاک برياليتوبونه ورپه برخه کوي ، دا ښيې چې کله.................

الله تعالی وفرمايل : د الله جل جلاله دا فرمان دی چې : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿51﴾ فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ فَعَسَى اللّهُ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ فَيُصْبِحُواْ عَلَى مَا أَسَرُّواْ فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِينَ ﴿52﴾ وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُواْ أَهَؤُلاء الَّذِينَ أَقْسَمُواْ بِاللّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَأَصْبَحُواْ خَاسِرِينَ ﴿53﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ ... ﴿54﴾ [119]

ژباړه : ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ( يعني ای مؤمنانو ) مه نيسئ تاسې يهودان اونصرانيان دوستان ! ( چې له دوی سره موالات او مدد وکړي ) (دوی يوتربله ) ځيني دوستان دي د ځينو نورو ( ځکه چې ټول سره په کفر کې شريک دي اوګرد ( ټول ) سره تاسې سره متفق دي ) او هرچاچې دوستي وکړه له دوی سره له تاسې ځيني نو بيشکه چې دی له همدوی څني دي ( نو مؤمنان دې ځان وساتي له دوستۍ نه د کفارو ) بيشکه ( الله هدايت نه کوي ظالمانو ته ( چې ظلم کوي په ځانونو خپلو په دوستۍ کولو دکفارو سره ) نو وبه وينې ته هغه کسان چې په زړونو ددوی کې مرض ( رنځ دنفاق ) دی چې ځغلي به په ( دوستۍ د ) دوی کې وائي به دوی ( په عذر کې چې ) ويريږو له دې نه وروسته چې وبه رسيږي موږ ته کومه حادثه نونژدې دی چې ښه به راتله وکړي په بري ( درسول خپل په تقويت د اسلام سره ) يا ( به راوړي ) يو حکم له خپله جانبه ( په اظهار د حال د منافقينو ) نو وبه ګرځي دوی په هغه شي چې پټوي په نفسونو خپلو کې ( له شک او دوستی د کفارو ) پښيمانه .

د يهودو او عيسويانو ددوستۍ نه کولو خطاب چې ورته کيږي دا هغه څوک دي د ردت په آيت کی هم خطاب ورته کيږي ، دا واضح او څرګنده خبره ده چې پدې مسئله کې د اسلامي امت ټولې پيړی داخلې دي ( او په هروخت کې موجود کيدی شي ) .

---

[119] - سورت المائده آيت 51.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې الله پاک د کافرانو له دوستۍ څخه منع وکړه او داېې وښودله چې که کوم مکلف کس د کافرانو سره دوستي غوره کړه نو داکس د کافرانو له ډلې څخه دی اوداېې وښودله چې چا ورسره ملګرتیا او مرسته وکړه نو داسلام له دین څخه مرتد شو او داکس په مرتد کیدو سره اسلام ته کوم تاوان نشي رسولئ ، بلکې الله پاک به داسې خلک منځته راولي چې د الله پاک سره ښه مینه لري او الله پاک به هم دوی خوښوي ، داسې خلک به له مؤمنانو سره دوستي کوي د کافرانو سره به دښمني کوي ، د الله پاک په لارکې به جهاد کوي د هیڅ ملامت کوونکي له ملامتیا څخه به نه ویریږي ، لکه څنګه چې الله تعالی په اول سرکې وفرمایل : فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَؤُلاء فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُواْ بِهَا بِكَافِرِينَ ﴿89﴾ [120]

ژباړه : پس که کافر منکرشي په دې ( آیاتونو دقران ) دغه ( کافران دمکې ) پس په تحقیق مقرر کړي دي موږ په ( ایمان او عمل ) ددې داسې یو قوم ( ټولګئ ) چې نه وي دوی په دې ( قرآن ) کافران .

داهغه کسان دي چې په اسلام کې له اول سره ندې داخل شوي یعني کافران دي او هغوئ مسلمانان وو خو بیا داسلام د سپیڅلي دین څخه ووتل او مرتد شول دا ټول یاد شوي خلک اسلام ته کوم ضرر نشي رسولئ بلکې الله پاک هغه څوک قائموي او تمکین ورکوي ترقیامته پورې چې په هغه څه پوره ایمان او باور ولري چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله پاک له خوا راوړي دي ، او د الله پاک ددین نصرت او ساتنه کوي .

پنځمه وجه : د الله پاک په دې فرمان کې د حصر مفهوم همدادی چې فرمایي : إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ ﴿55﴾ [121]

ژباړه : بیشکه همداخبره ده چې دوست ستاسې ( خاص ) الله او رسول دده دی او هغه کسان دي چې مؤمنان دی ( مؤمنان ) هغه کسان دي چې قائموي ( سم اداء کوي سره د ټولو حقوقو ) لمونځ (یا) ( ... کوو د) هغو کسانو چې قائموي ( سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو ) لمونځ او ورکوي دوی زکات او هم دوی کوي رکوع ( عاجزی ) کوونکي دي ( په لمونځ او زکات خپل کې ) (یا) او ورکوي دوی زکات ( خیرات ) مال داچې دوی په رکوع ( د نفلي لمونځ ) ولاړوي .

[120] - سورت الانعام آیت 89.
[121] - سورت المائده آیت 55.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږمه وجه : دالله تعالی دا فرمان دی : وَمَن يَتَوَلَّ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ فَإِنَّ حِزْبَ اللّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ ﴿56﴾ [122]

ژباړه : او هرڅوک چې دوستي کوي له الله سره او له رسول د ده سره اوله هغو کسانو سره چې مؤمنان دي نو بیشکه چې ډله د الله هم دوی دي غالبان ( پرېولو ) .

ددې آیت مفهوم او مطلب دادی چې چا د کافرانو سره مرسته وکړه هغوی د شیطان د حزب او ګوند غړي دي ، الله پاک فرمايي :... أُوْلَئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿19﴾ [123]

ژباړه : ( دغه هیرووونکي کسان ) لښکر د شیطان دی واورئ ! خبر دارشئ ! بیشکه لښکر تابعان د شیطان هم دوی دي زیانکاران ( چې يې ورکړل د لاسه نعمتونه او ځانونه يې وغورځول په ابدی رحمت کې ) .

څلورم دلیل اوثبوت :

د الله پاک فرمان دی : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الَّذِينَ اتَّخَذُواْ دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ أَوْلِيَاء وَاتَّقُواْ اللّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿57﴾ [124]

ژباړه : ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی ( یعني ای مؤمنانو ) مه نیسئ ! هغه کسان چې نیولي دي دوی دین ستاسې مسخره او لوبې له هغو کسانو څخه چې ورکړې شوی دي دوی ته کتاب پخوا له تاسې څخه اومه نیسئ کافران دوستان او وویریږئ له الله څخه ( په ترک ددوستۍ دکفارو ) کې يي تاسې مؤمنان ( په رښتیاسره ) .

داآیت شریف د مخکینیو آیاتونو په سیاق کې ذکر شوی دی او هغه څه تائیدوي چې د کافرانو سره ملګرتیا او مرسته په مرتد کیدو دلالت کوي .

-شیخ عبد اللطیف بن عبد الرحمن آل شیخ رحمت الله علیه ویلي دي [125] : د الله پاک دا قول که څیر شې او فکر ورته وکړې چې فرمايي : وَاتَّقُواْ اللّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿57﴾ مائده . ځکه چې «ان » شرطیه ده داحرف

---

[122] - سورت المائده آیت 56.
[123] - سورت المجادله آیت 19.
[124] - سورت المائده آیت 57 .
[125] - الدرر ج 8 ص 288.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شرط له منځه تلل غواړي چې کله يې ځواب له منځه لاړشي ، نومعنى يې داسې شوه : چا چې کافران خپل دوستان و نيول نو داکس مؤمن نه دى .

پنځمه وجه : د الله تعالى پدې قول کې د انحصار دليل دى چې فرمايي : : إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ ﴿55﴾ [126]

ژباړه : بيشکه همداخبره ده چې دوست ستاسې ( خاص ) الله او رسول دده دى او هغه کسان دي چې مؤمنان دى ( مؤمنان ) هغه کسان دي چې قائموي ( سم اداء کوي سره د ټولو حقوقو ) لمونځ (يا) ( ... کوو د) هغو کسانو چې قائموي ( سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو ) لمونځ او ورکوي دوى زکات او هم دوى کوي رکوع ( عاجزى ) کوونکي دي ( په لمونځ او زکات خپل کې ) (يا) او ورکوي دوى زکات ( خيرات ) مال داچې دوى په رکوع ( د نفلي لمونځ ) ولاړوي .

شپږمه وجه : الله تعالى فرمايلي دي : وَمَن يَتَوَلَّ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ فَإِنَّ حِزْبَ اللّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ ﴿56﴾ [127] ژباړه : او هرڅوک چې دوستي کوي له الله سره او له رسول د ده سره اوله هغو کسانو سره چې مؤمنان دي نو بيشکه چې ډله د الله هم دوى دي غالبان ( پرټولو ) .

ددې آيت مفهوم او مطلب دادى چې چا د کافرانو ملګرتيا وکړه هغوى د شيطان د حزب او ګوند غړي دي .

په بل ځاى کې الله پاک فرمايي :... أُوْلَئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿19﴾ [128]

ژباړه : دغه کسان د شيطان ډله ده خبردار اوسئ بيشکه د شيطان ډله همدوى تاوان يان او زيانکاران دي

## پنځم دليل :

د الله جل جلاله د افرمان دى چې : لاَّ يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُوْنِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّهِ فِي شَيْءٍ إِلاَّ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تُقَاةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللّهُ نَفْسَهُ وَإِلَى اللّهِ الْمَصِيرُ ﴿28﴾ [129]

ژباړه : نه دي نيسي مؤمنان کافران دوستان بې له مؤمنانو ( يعني مؤمنان د يو دبل سره دوستي وکړي ) او هرڅوک چې وکړئ داکار يعني دوستي له کفارو سره ) نو نه دى ( دده تعلق ) له ( دين د الله – دوستي د )

---

[126] - سورت المائده آيت 55.

[127] - سورت المائده آيت 56.

[128] - سورت المجادله آيت 19.

[129] - سورت آل عمران آيت 28.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله سره په هيڅ شي کې مګر ( خو رواده دغه دوستي ) که ځان ساتئ تاسې له دوی نه په ځان ساتنه سره او وویروئ تاسې د الله له عذابه نفس خپل نه او ( خاص ) طرف د الله ته دي ورتلل ( ستاسې او ټولو ) .

دا آيت شريف د کافرانو سره مرسته کوونکي په کافر کيدو دلالت کوي ، د الله تعالی پدې فرمان سره چې دهغه چا په هکله چې دا کار کوي : فَلَيْسَ مِنَ اللّهِ فِي شَيْءٍ [130] يعنی ) نو نه دی ( دده تعلق ) له ( دين د الله – دوستي د ) الله سره په هيڅ شي کې .

امام ابن جرير رحمت الله عليه پخپل تفسير [131] کې ويلي دي : ددې معنی داده چې ای مؤمنانو د کافرانو سره مرسته او کومک مه کوئ ، دوستي ورسره مه کوئ ، او پرته له مسلمانانو څخه مرسته ورسره کوی اودمسلمانانو په پټو ځيزونو يې خبروئ ، چاچې دا کاروکړ نو دده او د الله پاک ترمنځ ارتباط قطع شو او د الله پاک ددين څخه ووت ، معنی دا چې دا کس د الله پاک څخه بيزاره او الله پاک ددغه کس څخه بيزاره شو ، د ا ځکه چې الله پاک ددين څخه مرتد او په کفر کې داخل شو ، إِلاَّ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تُقَاةً ، مګر په هغه وخت کې تاسو مرتد نه ياست چې د کافرانو ترولکې او قدرت لاندې وی پخپلو ځانونو وويريږی په خوله ورته د دوستی نارې وهی او په زړونو کې ورسره دښمني کوی ، او ددوی د کفري پروګرامونو په نشرولو او خپرولو کې ورسره مرسته نه کوی ، او دکوم مسلمان په مقابل کې په عملي ډول مرسته او کومک ورسره نه کوی .

شپږم دليل :
بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿138﴾ الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ العِزَّةَ لِلّهِ جَمِيعًا ﴿139﴾ [132]

ژباړه : زيرئ ورکړه ( ای محمده !) منافقانو ته په دې چې بيشکه شته دي دوی ته عذاب دردناک هغه کسان چې نيسي دوی کافران دوستان ( خپل ) بې له مؤمنانو . آيا لټوئ دا ( منافقان ) په نزد ددې ( کفارو ) عزت پس بيشکه ( دنيوي او اخروي ) عزت خاص الله لره دي ټول .

الله پاک د منافقانو صفت او څرنګوالی پدې سره وښود چې پرته له مسلمانانو څخه د کافرانو سره دوستي کوي ، او دغه آيت شريف د الله تعالی ددې فرمان جنسه دی چې وايي : **فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ ...﴿52﴾** [133]

---

- سورت آل عمران آيت 28. [130]
- تفسير ابن جرير ج 3 ص 228 . [131]
- سورت النساء آيت 138، 139. [132]
--سورت المائده آيت 52 [133]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : نو وبه ويني هغه کسان چې په زړونو ددوی کې مرض ( رنځ دنفاق ) دی چې ځغلي به په ( دوستۍ ) ددوی کې وايي به دوی ( په عذر کې چې ) ويريږو له دې نه چې وبه رسيږي موږ ته کومه حادثه .

او هغه چې په دوهم دليل کې پرې خبرې وشوې ، ابن جرير رحمت الله عليه په [134] په مخ کې وويل : الله جل جلاله خپل پيغمبر فرمايي : ای محمده ! منافقانو ته زيری ورکړه هغه کسانو ته چې زما ترځنګ کافران خپل دوستان نيسي ، او زما په دين کې الحاد راولي معنی داچې الله دا خلک پرته له مؤمنانو څخه کافران خپل دوستان او مرستندويان نيسي پداسې حال کې چې دوی خپلو ځانونو ته مسلمانان وايي ) . أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ » آيا پرته له مؤمنانو څخه د کافرانو سره د ځان لپاره قوت او ساتنه لټوي چې کافرانو سره ملګرتيا کوی ؟ ، فَإِنَّ العِزَّةَ لِلّهِ جَمِيعًا » بيشکه هغه کسان چې د کافرانو په ملګرتيا سره خپل عزت ، قدر او مشري ترلاسه کوی همدوی سپک ، ذليل او لږ دي د حساب له نظره ، څومره به ښه وای چې دوی ځپل دوستان مسلمانان نيولې وای ، عزت ، ساتنه او مرسته يې د الله پاک په وړاندې لټولې وای ، هغه ذات چې د عزت او ساتنې ورکوونکی دی چاته يې چې خوښه شي عزت ورکوي او چې چاته يې خوښه شي ذليل کوي يې نو همدوی ته به يې عزت ورکړې وای او دتکليف څخه به يې ساتلی وای ، په همدې ډول د راتلونکي آيت شريف هم همدا شأن دی .

## اووم دليل :

الله متعال فرمايلي دي : أَلَمْ تَر إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿11﴾ [135]

ژباړه : آيا نه ګورې هغو کسانو ته چې منافقان دغا بازان شوي دي وائي هغوی هغو وروڼو ( يهودانو) ته چې کافران شوي دي له اهل کتابو څخه قسم دی که خامخا وويستل شئ تاسې ( له مدينې څخه ) وبه وځو موږ هرو مرو له تاسې سره او نه به منو موږ ( خبره په ضررد تاسې کې ) د هيچا هيڅکله او که چيرې جنګ شروع کړ شي له تاسې سره نو خامخا مدد به وکړو موږ هرو مرو له تاسې سره او الله جل جلاله شاهدي ګواهي ورکوي ، بيشکه دوی خامخا دروغجنان دي ( په همدغو خبرو کې ) .

ددې آيت په هکله وضاحبت او خبره داسې ده لکه د الله تعالی پدې فرمان سره : بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿138﴾ [136]

---

[134] - تفسير ابن جرير ج 3 ص 329 .
[135] - سورت الحشر آيت 11.
[136] - سورت النساء آيت 138.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : زيرئ ورکړه ( ای محمده ! ) منافقانو ته پدې چې بيشکه شته دوی ته عذاب دردناک .

اودا فرمان د الله تعالی : **فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ** ...﴿52﴾ [137]

ژباړه : نو وبه ويني هغه کسان چې په زړونو ددوی کې مرض ( رنځ دنفاق ) دی چې ځغلي به په ( دوستۍ ) ددوی کې وايي به دوی ( په عذر کې چې ) ويريږو له دې نه چې وبه رسيږي موږ ته کومه حادثه .

شيخ سليمان بن عبد الله رحمت الله عليه په الدرر [138] مخ کې ويلي دي : که چيرې د مشرکانو وعده په پټه سره د کافرانو سره په جنګي سنګرونو کې يو ځای ننوتل او مرسته ورسره کول او د ناکامئ په وخت د کافرانو سره وتل په نفاق او کفر باندې اګر که دروغ وي ، نو څرنګه به وي د هغه چا حکم چې د کافرانو سره مرسته کوي ، په سنګرونو کې ورسره اوسيږي او دمشکل په وخت کې بيا ورسره ځي او بيا په رښتيا سره دا ټول کارونه ورته پرمخ بيايي ؟ .

اتم دليل :

د الله تعالی دا فرمان دی چې : لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ ﴿78﴾ كَانُواْ لاَ يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ ﴿79﴾ تَرَى كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿80﴾ وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِالله والنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاء وَلَكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿81﴾ [139]

ژباړه : لعنت کړی شوی په هغو کسانو چې کافران شوي دي له بني اسرائيلو څخه په ژبه د داؤد سره او ( په ژبه د ) عيسی زوی د مريمې ، دا ( لعنت پردوی ) په سبب ددې ؤ چې نافرماني کوله ( له احکامو دالله ) او وو ، دوی چې تيريدل به ( له حدودو د الله ) وو، دوی چې يو بل به يې سره نه منع کول له هغه بد عمله چې کاوه به دوی هغه ( قسم دی ) خامخا بد ؤ هغه کار چې وو دوی کاوه به يې ، ته به وينې ډير له دوی چې دوستي به کوي له هغو کسانو سره چې کافران شوي دي ( بيا قسم دی چې ) خامخا بد ؤ هغه شی چې په خوا ليږلي ؤ دوی ځانو ددوی ( چې هغه شی موجب ؤ ) ددې چې په غضب شو الله پردوی او په عقاب کې به دوی تل وي ، اوکه وي دوی چې ايمان يې راوړی وي ( دزړه نه ) پر الله او نبی ( محمد يا موسی ) او په هغه

---

[137] --سورت المائده آيت 52

[138] - الدرر ج 8 ص 138.

[139] - سورت المائده آيت 78، 79، 80، 81،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب چې نازل شوي دي ته نو نه به وه نيولي ده ، د امشرکان دوستان ، ليکن ډير ( کسان ) له دوی ځنې فاسقان دي ( د ايمان له دائرې څخه وتونکي ) .

**د کافرانو سره د مرسته کوونکو لاملونه څرګند او ښکاره دي :**

لومړی سبب : د کافرانو سره دوستي ، الله پاک له بنو اسرائيلو څخه د هغو کافرانو صفت او خاصيت ښودلئ دی چې د داؤد او عيسی عليهما السلام په ژبه باندې پرې د جنت ويل شوي دي .

دوهم سبب : الله پاک ددې په هکله فرمايلي دي : ...وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ . يعني دوی به هميشه په عذاب کې اخته وي ، داد کافرانو د عذاب خاصيت دی .

شيخ سليمان بن عبد الله رحمت الله عليه په الدرر [140] مخ کې ويلي دي : الله تعالی د کافرانو سره دوستي ، د الله تعالی د قهر او عذاب سبب ښودلی دی او ددوزخ اور ته ننوتل هم يواځې د همدې دوستی لامل دی اګر که انسان ويريدونکی هم وي ، پرته له هغه چا چې په زرو سره اړ کړی شو ی وي خو هغه ځانته شرطونه لري .

دريم سبب : الله تعالی فرمايلي دي : وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِالله والنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاء وَلَكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿81﴾ [141]

ژباړه : او که وي دوی چې ايمان يې راوړی وي ( د زړه نه ) پر الله او نبی ( محمد ياموسی او په هغو کتاب چې نازل شوی دی ده ته نو نه به ؤ نيولي دوی دا مشرکان دوستان ، ليکن ډير ( کسان ) له دوی ځينې فاسقان دي ( د ايمان له دائرې څخه وتونکی ) .

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه پخپله فتاوی [142] مخ کې ويلي دي : پدې کې شرطيه جمله ذکر شوې ده او ددې جملې غوښتنه داده چې شرط پيدا شي نو مشروط هم ورسره پيدا کيږي چې داد « لو » په سبب را منځته کيږي او د « لو » غوښتنه داده چې دشرط په نشتوالي مشروط له منځه ځي .

نو الله پاک فرمايي : وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِالله والنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاء ... ﴿81﴾ [143]

---

- ج8 ص 128 . [140]
- سورت المائدة آيت 81. [141]
- مجموع الفتاوی ج 7 ص 17 . [142]
- سورت المائدة آيت 81. [143]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : او که وي دوی چې ایمان يې راوړی وي ( د زړه نه ) پر الله او نبی ( محمد یاموسی او په هغو کتاب چې نازل شوی دی ده ته ، نو نه به ؤ نیولي دوی دا مشرکان دوستان .

دا پدې ښکاره دلیل او ثبوت دی چې ذکر شوی ایمان د کافرانو دوستي له منځه وړي او د هغې ضد دی ، ځکه چې ایمان او دکافرانو سره دوستي په یوه زړه کې ځای نه نیسي .

شیخ سلیمان بن عبد الله رحمت الله په الدرر [144] مخ کې ویلي دي : الله تعالی د کافرانو سره دوستي په الله او دهغه په رسول او په اسماني فرمان باندې د ایمان لرلو ضد او عکس ګرځولې ده بیا الله تعالی ښودلې ده چې ددی سبب دادی چې زیاتره ددوی څخه فاسقان دي ، او پرته له هغه توپیر څخه څوک د شکست او ناکامۍ څخه ویروی او څوک نه ترې ویریږي ، همدارنګه د زیاترو هغو مرتدانو حالت همداسې وه چې دمرتد کیدو څخه مخکې زیاتره د دوی فاسقان وو ، چې همدې فسق او بدکاری د کافرانو سره دوستي او داسلام څخه مرتد کیدلو ته راکش کړل ، الله جل جلاله د موږ ترې وساتي .

نهم سبب :
الله تعالی فرمایلي دی : وَالَّذينَ كَفَرُواْ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ إِلاَّ تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿73﴾ [145]

ژباړه : او هغه کسان چې کافران شوي دي ځینې د دوی دوستان دي د ځینو نورو ( په امداد کې یو له بله سره ) که ونه کړی تاسې دا ( دوستي په ځپلو منځو نو کې او دښمني له کفارو سره ) نو پیدابه شي ( لویه ) فتنه په ځمکه کې او ( خوربه شي ) فساد لوی .

داد هغه چاپه کفر چې د کافرانو سره دوستي کوي په دوو سببونوسره په کافر کیدلو دلالت کوي :

لومړی : د الله تعالی قول دی چې : الَّذينَ كَفَرُواْ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ ، یعنې څوک چې کافران دي ځینې د دوی د ځینو نورو دوستان دي ، نو څوک چې د کافرانو دوست وي هغه پدې لفظ د بَعْضُهُمْ کې داخل دی ، لکه څنګه چې الله تعالی د یهودانو او عیسویانو په اړه فرمایلي دي : بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ ، ځینې د دوی د ځینو نورو دوستان دي ، پدې اړوند په لومړي دلیل کې خبرې شوې دي .

دوهم : د الله تعالی فرمان دی : إِلاَّ تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿73﴾ [146]

---

[144] - الدرر : ج 8 ص 129 .
[145] - سورت الانفال آیت 73 .
[146] - سورت الانفال آیت 73 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : که ونه کړی تاسې دا ( دوستي په ځپلو منځو نو کې او دښمني له کفارو سره ) نو پيدابه شي ( لويه ) فتنه په ځمکه کې او ( خوربه شي ) فساد لوی .

په قرآن کريم کې په ډېرو معناګانو سره داځي چې ځينې يې دادي : شرک او کفر لکه پدې قول د الله پاک کې : وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ ... ﴿193﴾ [147] يعني : او جنګ کوی تاسې له دوی سره ترهغه پورې چې پاتې نشي فتنه ( شرک او فساد ) .

او داقول د الله جل جلاله دی چې : وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ... ﴿217﴾ [148]

ژباړه : او فتنه ( ددين څخه د خلکو ايستل ) ډېره لويه ( ګناه ) ده له جنګ څخه .

او دا فرمان د الله جل جلاله چې :.. فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿63﴾ [149]

ژباړه : پس و د ويريږي هغه کسان چې مخالفت کوي له امره ( حکمه ) ددغه ( رسول ځما ) له دې نه چې ورسيږي دوی ته څه فتنه ( آفت په دنيا کې ) ياو رسيږي دوی ته عذاب درد ناک په آخرت کې .

امام بن کثير رحمت الله عليه په [150]کې ويلي دي : د الله تعالی ددې فرمان معنی داچې : إِلاَّ تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿73﴾ [151] يعني : که د مشرکانو څخه ځانونه يوې خواته نه کړی او دمؤمنانو سره دوستي ونکړی ، نو د خلکو په منځ کې به فتنه واقع شي چې هغه د وضعې او حالت ګډ والئ او روښانتيا ده او د مؤمنانو او کافرانو تر منځ ګډوالئ دی نو د همدې ګډوالئ او خلط حالت سره به دخلکو ترمنځ لو ی فساد خپور شي .

شيخ عبد اللطيف بن عبد الرحمن بن حسن آل شيخ په الدرر [152] مخ کې ويلي دي : کوم چې په قرآن کريم کې د کافرانو دوستي او ملګرتيا په هکله سخت وعيد او ممنوعيت راغلی دی داپدې باندې دليل دی چې حقيقی قاعده داده : چې استقامت ، ټينګښت منځته نه راځي تر څو د الله تعالی د دښمنانو سره پريکون د هغوی په ضد جهاد او جګړه او ورسره بيزاری را منځته نشي ، الله پاک ته نږديوالئ د کافرانو په ذلت او عيبي

---

- سورت البقره آيت 193. [147]
- سورت البقره آيت 217. [148]
- سورت النور آيت 63. [149]
- تفسير ابن کثير ج 2ص 331. [150]
- سورت الانفال آيت 73. [151]
- الدرر ج 8 ص 324- 326. [152]

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو کې دی ، کله چې الله تعالی د مؤمنانو ترمنځ د دوستی غوښه وتړله او بیاپې داخبر ورکړ چې کافران ځینې د ځینو نورو دوستان دي او وېې فرمایل : إِلاَّ تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿73﴾ [153] یعني : که ونه کړی تاسې دا دوستي په ځیلو منځونو کې او دښمني له کفاروسره ) نو پیدابه شي لویه فتنه په ځمکه کې او ( خپور به شي ) فساد لوی .

آیا فتنه پرته له شرک څخه بل شی کیدی شي ؟

اوهمدارنګه لو فساد د الهی توحید او د اسلام غوښو پرانستلو ( یعني د توحید او اسلام له منځه وړل ) ، او دقرآني حکمونو او نظام قطع کولو څخه بل څه بلل کیدی شي ؟

لسم دلیل :
د الله تعالی دا فرمان دی چې: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوَاْ إِن تُطِيعُواْ الَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُواْ خَاسِرِينَ ﴿149﴾ بَلِ اللّهُ مَوْلاَكُمْ وَهُوَ خَيْرُ النَّاصِرِينَ ﴿150﴾ [154]

ژباړه : ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی ( یعني ای مؤمنانو ) که اطاعت وکړی تاسې دهغه کسانو چې کافران شوي دي نو بیرته به و ګرځوي دغه ( کفار ) تاسې په پوندو ستاسې ( د کفر خواته ) نو به وګرځئ تاسې زیانکاران ( یعني بیابه مو کافران کړي ) بلکې الله مو لی مرسته کوونکی ، یار ، دوست لرونکی ستاسې دی او حکم دی خورا ( ډیر ) ښه د ټولو مرسته کوونکی دی .

شیخ سلیمان بن عبد الله آل شیخ رحمت الله علیه په الدرر [155] مخ کې ویلي دي : الله تعالی خبر ورکړ چې که چیرې مؤمنان د کافرانو اطاعت وکړی نو هرو مرو به یې د اسلام څخه وباسي او مرتد به یې کړی ځکه چې کافران پرته له کفر اختیارولو څخه په بل شي نه رضا کیږي ، او الله تعالی دا خبر هم ورکړ که چیرې مؤمنانو د کافرانو اطاعت وکړ نو په دنیا او آخرت کې به د تاوانیانو او زیانکارانو څخه شي ، واقعیت او حقیقي خبره داده چې د کافرانو سره موافقت او یا دهغوی په اطاعت کې ویره او خوف د رخصت او رواوالي سبب نشي ګڼل کیدای ، ځکه چې دا کافران د هیڅا څخه پرته له دې چې د دوی د لارې د حق والي او سموالي ګواهي ورکړي بل څه نه مني ، او دمسلمانانو په مقابل کې ددښمنی او کینې څرګندونه او دمسلمانانو څخه د دفاع او حمایت لاس پورته کول دي .

---

[153] ـ سورت الانفال آیت 73.
[154] - سورت آل عمران آیت 149- 150.
[155] - الدرر ج 8 ص 124 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا الله تعالی وفرمایل : بَلِ اللّهُ مَوْلاَكُمْ وَهُوَ خَيْرُ النَّاصِرِينَ ﴿150﴾ [156]

ژباړه : بلکې الله مو لی مرسته کوونکی ، یار ، دوست لرونکی ستاسې دی او حکم دی خورا ( ډیر ) ښه د ټولو مرسته کوونکی دی .

نو الله تعالی خبر ورکړ چې الله جل جلاله د مؤ منانو دوست او مرسته کوونکی دی او همدا الله متعال ښه مرسته کوونکی دی ، نو د الله پاک په دوسئ کې د کافرانو له اطاعت څخه بې پروا او کافي دی .

یوولسم دلیل :

د الله تعالی دا فرمان دی : إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَى لَهُمْ ﴿25﴾ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴿26﴾ [157]

ژباړه : بیشکه هغه کسان چې بیرته ګرځیدلي دي ( له ایمانه ) پرشاؤ خپلو پس له هغې څخه چې ښکاره شوې ده دوی ته سمه لاره ، شیطان ښایسته کړې دي دوی ته ( ګناهونه ) او مهلت ښکاره کړی دی ( شیطان ) دوی ته دغه ( مهلت دوی ته په سبب ددې دی چې بیشکه دوی وویل هغو کسانو ته چې بد یې ګڼله هغه ( قرآن ) چې رالیږلی دی الله ژر به حکم و منو ستاسې ( لړ فرمانبر داری به وکړو ) په ځینو کارونو کې ( چې مرسته ده په جنګ او عدوان د رسول الله کې ) او الله ته معلومې دي پټې خبرې ( او مشورې ) ددوی هم .

نو په یقیني ډول ددې کسانو د مرتد کیدلو سبب یې پدې سره وښود چې کافرانو ته یې ویل : لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ ، یعني هغو کسانو بد ګڼل هغه څه چې الله پاک رالیږلي دي زردی چې په ځینې څیزونو کې ستاسې متابعت وکړو ، نو ځکه یې د کافرانو سره په ځینو کارونو د دوی د اطاعت کولو وعده وکړه نه په ټولو چارو کې د اطاعت کولو وعده ، ددې سره بیا هم دا کار د دوی د مرتد کیدلو سبب شو .

شیخ سلیمان بن عبد الله آل شیخ رحمت الله علیه په الدرر [158] مخ کې ویلي دي : که چیرې د هغو مشرکانو وعده چې د الله تعالی را لیږل شوي ( قرآن کریم ) فرمانونه بد ګڼي او ددوی په ځینې کارونو کې اطاعت کفر دی اګر که هغه وعده شوي کارونه هم سرته ونه رسوي نو څرنګه به وي د هغو خلکو حکم چې د هغو مشرکانو سره چې غږ یې وي د الله پاک د رالیږلي کلام په بد ګڼلو کې ورسره موافق وي .

---

[156] - سورت آل عمران آیت 150.

[157] - سورت محمد آیت 25، 26.

[158] - الدرر ج 8 ص 136.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دو لسم دلیل :

د الله پاک دا فرمان دی چې : الَّذِينَ آمَنُواْ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُواْ أَوْلِيَاء الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا ﴿76﴾ [159]

ژباړه : هغه کسان چې ایمان لرونکي دي منده کوې دوی په لاره د شیطان کې نو جنګ وکړئ تاسې له دوستانو دشیطان سره ، بیشکه چې مکر د شیطان ضعیف دی .

نو په وضاحت سره یې دا وښودل چې کوم کسان چې کافران دي د طاغوت په لاره کې جنګیږي او همدوی د شیطان دوستان دي ، نو چا چې د دوی سره یو ځای جګړه وکړه نو پدې خاصیتونو کې ورسره شریک دي ، او جګړه په لاس ، ژبه،مال او داسې نورو څیزونو سره چې د مرستې وړتیا ولري کیږي لکه چې رسو ل الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي یې دي : تاسو د مشرکانو په مقابل کې په مالونو ، ځانونو او ژبو سره جهاد وکړی .

اوهمدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : الله پاک په یوه غشي دری کسان جنت ته داخلوي : جوړوونکی یې چې خیر او نیکي یې ترې مطلب او غوښتنه وي ، د غشي و یشتونکۍ ، او هغه څوک چې ویشتل شوی غیشۍ بیرته ورته راوړي .

نوآیت شریف پدې واضح دلیل دی چې چا د کافرانو سره مرسته وکړه که دا هر ډول وي نو دا کس د شیطان د دوستانو او ملګرو څخه دی .

دیارلسم دلیل :

الله تعالی فرمایلي دي : وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيَ آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ ﴿175﴾ [160]

ژباړه : او ولوله ( ای محمده !) پردغو یهودانو یا قوم خپل خبر ( او حال ) دهغه سړي چې ورکړي ؤ مونږ هغه ته « علم » د آیاتونو خپلو ، نو راووت په کفر او اعراض سره له هغو آیاتونو نو ورپسې شو شیطان « او تیر يې ایست » نو شو له ګمراهانو .

- سورت النساء آیت 76. [159]
- سورت الاعراف آیت 175. [160]

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام ابن جرير رحمت الله عليه پخپل تفسير [161] مخ کې د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهماڅخه روايت کړی هغه وفرمايل : کله چې حضرت موسی عليه السلام او مؤمنان په جبارينو ( زورورو ) راپريوتل نو د « بلعم » د تره زامن او قوم يې ورته راغئ او ويې ويل : موسی د اوسپنې په شان سخت سړی دی او ډير لښکر هم ورسره دی ، که چيرې په موږ غالب او بريالي شي نو موږ به هلاک او له منځه يوسي نو الله پاک ته دعا وکړه چې موسی عليه السلام او لښکر يې په شا کړي ، « بلعم » ورته وويل : که چيرې د موسی عليه السلام او دهغه د لښکر د په شا تګ دعا وکړم نو دنيا او آخرت به مې تباه او برباد شي ، خو د ترو د زامنو او قوم يې دومره اصرار او ټينګار وکړ ترڅو يې چې دا غوښتنه قبوله کړه ، نو « بلعم » د هغه څه څخه وايستل شو چې درلودل يې يعني ايمان يې ترې واخستل شو . نوهمدا مطلب د الله تعالی ددې مبارک آيت دی چې : ... فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ ﴿175﴾ [162]

ژباړه : نو راووت په کفر او اعراض سره له هغو آياتونو نو ورپسې شو شيطان « او تير يې ايست » نو شو له ګمراهانوڅخه .

«بلعم » د کافرانو سره مرسته نه وه کړي بلکې د موسی عليه السلام او دهغه د لښکرو په شاتګ دعاېې کړی وه نو دا د الله پاک د آياتونو څخه وتل او داسلام څخه يې مخ اړول وګڼل شو ، نو څرنګه به وي د هغه چا حالت چې د کافرانو سره يې مرسته او کومک کړی وي ؟

## څوارلسم دليل:

د الله تعالی فرمان دی چې : إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا ﴿97﴾ [163]

ژباړه : بيشکه هغه کسان چې وفات کړی وي دوی لره ملائکو ( د مرګ ) په داسې حال کې چې وي دوی ظلم کوونکی په ځانونو خپلو وايي ورته ( ملائکې ) په کوم حال کې وی تاسې په خپلو دينې چارو کې ( وايې ) دوی چې ؤ موږ ضعيفان کړی شوي په ځمکه کې ( د کفارو په لاس بيا ملاېکې ورته ) وايي چې آيا نه وه ځمکه د الله ارته ( پراخه ) پس هجرت کړی دی تاسې په دې ( ځمکه کې نو داد تارکان د هجرت ) ځای د دوی دوزخ دی ، او ناکاره ځای ددوی دی دوزخ .

---

- تفسير ابن جرير ج 9 ص 123. [161]
- سورت الاعراف آيت 175. [162]
- سورت النساء آيت 97. [163]

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام بخاري رحمت الله علیه په خپل صحیح کې د محمد بن عبد الرحمن أبو الاسود څخه روایت کړی هغه وویل : د ابن الزبیر رضی الله عنه د خلافت په دور کې د شامیانو په مقابل کې د جګړې لپاره دخلکو او لښکر لیږل لازمي شول او دمدینې له خلکو څخه هرڅه بند شول نو زه دعکرمه مولی ابن عباس رحمت الله علیه سره مخامخ شوم او پدې پیښه می خبر کړ ، نوده له دې کار څخه سخت منع کړم او ویې ویل : حضرت ابن عباس خبر کړم چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د کافرانو سره ځینې مسلمانان وه چې دهغوی (مشرکانو ډله یې زیاتوله ) ، ویشتل شوی غیشې به راتله او یو به پرې لګیده چې د مرک سبب به یې کیده او یابه یې په ستونې لګیده او وژل کیده به ، نو الله پاک دغه آیت نازل کړ چې : إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا ﴿97﴾ ژباړه یې مخکې تیره شوه .

علماء پدې مسئله کې اختلاف لري چې دا آیاتونه د چا په هکله نازل شوي دي دهغو کسانو په هکله چې د کافرانو سره تلل ، او تول یې ورزیات کاوه او دوی مسلمانان وه ، آیا دا مسلمانان ګناهکار مړه شول اویا پدې کار سره د اسلام څخه ووتل او مرتد شول .

دغه کارکفردی ، مګر ځینې علماء یې معذور ګڼي ، او څوک یې کافرنه بولې دوی پدې نظر دي چې دا کسان په زور سره اړ کړی شوي دي ، او په زور اړ کیدل د کفر په مسئله کې عذر ګڼل کیږي ، او څوک یې چې معذور نه ګڼي وایي چې پدې کار کې اصلي سبب جوړوونکی همدی پخپله دی ځکه دوی دهجرت کولو څخه وروسته پاته شول او ددې کار توان یې هم درلود او پدې سره ټول یو نظر دي چې د وژلو په هکله د کافرانو چلند ورسره کیدای شي . او چاچې د کافرانو سره مرسته وکړه او یایې د کافرانو ډله بې له زور راو ړنې څخه زیاته کړه نو ددی کس په کافر کیدو او له اسلامه څخه په وتلو ( مرتد ) کیدلو کې هیڅ شک او شبهه نشته ، الله پاک د مونږ او تاسې ترې وساتي .

## پنځه لسم دلیل :

د الله تعالی دا فرمان دی چې : اللّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُواْ يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوُرِ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ أَوْلِيَآؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ أُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿257﴾ [164]

ژباړه : الله دوست ( مرستیال ، مددګار) دی د هغو کسانو چې مؤمنان دي چې باسي دوی له تیارو ( د کفر او ګمراهئ نه ) د رڼا ( دایمان او هدایت ) لوري ته او هغه کسان چې کافران ( منکران ) شوی دي دوستان

[164] - سورت البقره آیت 257.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددوی شیطانان دي چې باسي دوی له رڼا ( د فطري ایمان او هدایت نه ) د تیارو ( د کفر او ګمراهۍ ) لوري ته د غه کسان ( چې فطري ایمان یې په عملي کفر سره بدل کړی دی ) صاحبان د اور ( ددوزخ ) دي هم دوی به پدې اور کې تل پاته کیدونکي دي .

پدې آیت شریف کې الله پاک وښودله چې د کافرانو ملګری طاغوت دی نو چاچې د کافرانو سره مرسته وکړه نو دی هم د کافرانو د طواغیتو په څیر دی .

## شپاړسم دلیل:

په طاغوت باندې کافر کیدل په الله پاک باندې د ایمان لرلو د پاره شرط ګرځولۍ دی ترڅو په اسلام کې داخل شي نو الله جل جلاله فرمایلي دي : لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ لاَ انفِصَامَ لَهَا وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿256﴾ [165]

ژباړه : پس هرهغه څوک چې کافر ( منکر) شو له ( عبادت د شیطان او بتانو ) او ایمان یې راوړ ( یقین یې وکړ ) په ( وحدانیت ) د الله باندې نو په تحقیق سره یې ټینګه نیولې ده کړۍ ( رسۍ ) چې له سره نشته پریکیدل هغې لره .

او الله جل جلاله فرمایلي دي : وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ ...﴿36﴾ [166]

ژباړه : او خامخا په تحقیق لیږلي ( پورته کړي ) ؤ موږ په هر ( پخواني ) امت کې یو رسول ( چې ووایي دوی ته ) چې عبادت کوئ ( یوائې ) د الله او خان ساتۍ تاسې له شریرانو ( باطلو معبودانو ) څخه .

د الله پاک فرمان دی چې : وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرَى فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿17﴾ [167]

ژباړه : اوهغه کسان چې ځان یې ساتلی دی له بتانو داسې چې عبادت وکړي د هغو او رجوع یې کړې وي طرف د الله ته شته دوی ته بشارت زیرۍ پس زیری وکړه ( ای محمده !) پر بند ګانو زما .

او الله پاک فرمایلي دي : ...يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُواْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِ ...﴿60﴾ [168]

---

[165] - سورت البقره آیت 256.
[166] - سورت النحل آیت 36.
[167] - سورت الزمر آیت 17.
[168] - سورت النساء آیت 60.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : هغه کسان چې ایمان لرونکي دي جنګ کوي دوی په لاره د الله کې ( ددین د ترقی لپاره ) او هغه کسان چې کافران شوي دي جنګ کوي دوی په لاره د شیطان کې نو جنګ وکړی تاسې له دوستانو د شیطان سره ! بیشکه چې مکر د شیطان دی ضعیف .

دریم مبحث : د نبوي احادیثو څخه دلیلونه

لومړی دلیل:

په صحیح بخاری ، صحیح مسلم او د احادیثو په نورو کتابونو کې دعلی رضی الله عنه څخه د مکې مکرمې د فتحې په وخت کې روایت شوی دی ده وویل : پیغمبر صلی الله علیه وسلم زه ( علی ) ، زبیر او مقداد رضی الله عنهم ولیږلو او وې فرمایل : روضة خاخ نومي ځای ته لاړشئ پدې ځای کې یوه ښځه ده او ورسره لیکل شوی لیک دی هغه ترې واخلی ، حرکت مو وکړ آسونه مو په ډیرې تیزۍ سره روان وو تر څو روضة خاخ نومي ځای ته ورسیدو او ناڅاپه مو هلته د اښځه بیا مونده ، موږ ورته وویل: یابه لیک وباسې او یابه د جامې غوځوې ، علی رضی الله عنه وایي : د خپلو کو څیو څخه یې دا لیک و ایسته ، لیک مو ترې واخیست او پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته مو راوړ ، پدې کې لیکل شوي وه : د حاطب بن أبی بلتعة له خوا د مکې مشرکانو ته ، چې دا مشرکان یې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ځینې جنګي پروګرامونو خبرول ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم حاطب ته وویل : داد څه لیکلي دي ؟ : حاطب رضی الله عنه وویل : د عجلې او جلتۍ څخه کار مه اخله ، زه په قریشو پورې یو تړل شوی سړی وم او قریشي نه وم ، او ستاسره چې د مهاجرینو څخه کوم خلک ملګري دي ، ددوی په مکه کې خپلوان وه چې ددی مهاجرینو کورونه به یې ساتل، نودا ماښه وګڼله که چیرې د نسب په وسیله ورسره اړیکې نلرم ترڅو ددې لارې څخه تماس ورسره ونیسم چې زما کور او ماشومان وساتل شي اودا کار مې پدې نه دی کړی چې زه د اسلام څخه مرتد شوی یم او یا کافر شوی یم او د اسلام قبلولو څخه وروسته په کفر باندې خوښ یم .

نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم و فرمایل : ده رښتیا درته وویل : حضرت عمر رضی الله عنه وویل : ما پرېږده چې ددې منافق سر ترې کټ کړم ، او په یو روایت کې راغلي دي چې حاطب کافر شو .

پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : حاطب د بدر په غزا کې ګډون کړی ، ته څه خبر یې ښایي الله پاک د بدر غزا دګډون کوونکو عملونه لیدلي دي بیاېې وفرمایل : ای د بدر غزا ګډون کوونکو څه مو چې زړه غواړي وېې کړی ما ورته بښنه کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا قصه پدې دلالت کوي چې د کافرانو سره په ملګرتیا او دهغوی په مرسته کولو سره مرتد کیدل او د اسلام څخه وتل په دریو وجوهو ثابتیږي :

لومړی وجه : د عمر رضی الله عنه وینا چې وېې ویل : ماپرېږده چې ددې منافق سر ووهم ، په بل روایت کې راځي ، حاطب رضی الله عنه کافر شوی دی ، او په بل روایت کې راغلي دي : وروسته له هغه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : آیا حاطب د بدر په غزا کې ګډون نه دی کړی ؟ عمر رضی الله عنه وویل : هو ، مګر خپله وعده یې ماته کړه او ستاله دښمنانو سره ستا په مقابل کې ملګری شو .

نو داپیښه پدې دلالت کوي چې د عمر رضی الله عنه په وړاندې د کافرانو ملګرتیا کفر او مرتد کیدل ګڼل کیدل .

دوهمه وجه :

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د عمر رضی الله عنه نظر تائید کړ مګر د حاطب رضی الله عنه عذر یې وښود.

دریمه وجه :

حاطب رضی الله عنه وویل : دا کار ما پدې ندی کړی چې زه کافریم او یاله اسلام څخه مرتد شوی یم او یاله اسلام راوړلو وروسته په کفر راضی یم .

اوداهم پدې دلالت کوي چې د حاطب رضی الله عنه په وړاندې هم د کافرانو ملګرتیا ، کفر ، مرتد کیدل . او په کفر باندې رضا شمیرل کیده .

که چیرې د حاطب رضی الله عنه په دغه عمل او کار په وړاندې داسې ګومان کیږي سره ددې چې حاطب رضی الله عنه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره په غزاګانو کې ګډون وکړ په خپل مال او ځان سره یې د مشرکانو په مقابل کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ملګرتیا ا و مرسته وکړه ، او هیڅکله یې د کافرانو سره ملګرتیا او مرسته نه په ځان او نه په مال سره کړی وه ، مګر پدې عمل سره په ده کې هر څه وویل شول .

نو څرنګه به وي د هغه چا حالت چې په واقعي او حقیقي ډول یې د کافرانو ملګرتیا وکړه او دمسلمانانو په مقابل کې یې د کافرانو سره مرسته وکړه ، په یقیني ډول د حدیث شریف تیر شوي احکام پدې کس باندې په صحیح او مناسب ډول پلي کیدل .

د حدیث شریف په اړوند ځینې شبهې منځته راځي چې په دریم فصل کې به یې و څیړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دو هم دليل

ابن اسحاق او نورو علماؤ ديزيد بن رومان هغه دعروة او دزهري څخه هغه د يوې ډلې څخه چې نومونه يې اخستي روايت کوي چې هغوی وويل : قريشو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته يو وفد راو ليږلو تر څو دخپلو بنديانو د فديې په اړه ورسره خبرې وکړي نو هر قوم د خپل بندي له پاره د خپلې خوښې سره سم فديه ورکړه ، د بدر په غزا کې عباس بن عبد المطلب په زور سره اړ کړی شوی وه چې د مشرکانو په لښکر کې ووځي نو پدې ترڅ کې عباس وويل : الله پاک د په اسلام ښه پوهيږي که خبره همداسې وي لکه ته چې وايې نو الله پاک به اجر درکړي خو ستا د ظاهري حالت مطابق موږ فيصله کوو د خپل ځان او دواړو وريرونو فديه ورکړه ځکه چې ته په ظاهر کې د مشرکانو سره ملګری يې .

سره ددې چې عباس بن عبد المطلب د قريشو سره په زور اړ کړی شوی ؤ چې په جنګ کې يې ملګري وکړي مګر بيا هم پيغمبر صلی الله عليه وسلم دده په ظاهر حکم وکړ او د مشرکانو په ډله کې يې وشميره ، نو څرنګه به وي د هغه چا حالت چې په خپل اختيار او خوښه سره يې د کافرانو ملګرتيا او مرسته کړې وي ؟

او همدارنګه يوه بله پيښه چې امام بخاری رحمت الله عليه پخپل صحيح کتاب کی د محمد بن عبد الرحمن أبو الاسود څخه روايت کړی دی وايي : د ابن الزبير په خلافت کې د شاميانو په مقابل کې د لښکر ليږل لازمي شول ما پدې اړه وليکل بيا د اين عباس د مولی عکرمه رحمت الله عليه سره مخامخ شوم خو هغه په سختو الفاظو سره ددې کار نه منع کړم او ويې ويل : ابن عباس رضی الله عنهما خبر کړی يم چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې ځينې مسلمانان د کافرانو سره ملګري ؤ ترڅو يې ډله زياته کړي نو ويشتل شوي غشي به راتله او يو ددې مسلمانانو ته به رسيده چې پرې وژل کيده به په ستوني لګيده بيابه وژل کيده نو الله تعالی دا آيت شريف نازل کړ چې : : إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلاَئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ ، نو ورته وګورئ چې عباس بن عبد المطلب يې د ظاهري حالت په نظر کې نيولو سره پدې کسانو پورې پيوست کړ سره ددې چې دا خلک په زور راوستل شوي ؤ خو له دې وجهې چې اصلي واقعيت دادی چې چا دا کار وکړ هغه کافر دی .

دريم دليل:

امام أبو داؤد او نورو محدثينو د سمرة بن جندب رضی الله عنه څخه روايت کړی چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چې مشرک سره نږدې شو او استوګنه يې ورسره غوره کړه نو دا کس د همدغه مشرک په شان دی .

نو هغه څوک چې دمشرک سره نږدې شي او يو ځای والئ ورسره غوره کړي اګر که د مشرک موافق هم نه وي بيا هم د همدغه مشرک په شان دی ، نو چا چې د مشرکانو سره ملګرتيا وکړه اودمسلمانانو په مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې یې ورسره مرسته وکړه ډېرلوی جرم او جنایت دی صرف له هغوی سره د اوسیدلو او ګډوالي په صورت کې .

امام نووي رحمت الله علیه د فیض القدیر په [169] کې د « فهو مثله » د علت او سبب په ښودلو کې ویلي دي : د الله پاک دښمن ته مخ را ګرځول او دوستي ورسره کول د الله پاک څخه مخ ګرځول لازموي او چا چې له الله پاک څخه مخ وا ړاوه نو شیطان یې خپل دوست و نیوه د نعمتونو کفران او د الله پاک نافرماني ته یې وروست .

امام زمخشري رحمت الله علیه ویلي دي : دایو معقول کار دی ، بیشکه د دوست دوستي او دهغه د دښمن دوستي یو دبل ضد دي او نه سره یو ځای کیږي .

امام شوکاني رحمت الله علیه په نیل الاوطار په ج 8 ص 177 کې د « فهو مثله » په اړه ویلي دي : پدې کې د کافرانو سره د اوسیدلو د حراموالي او دهغوی څخه د لري والي دپاره واضح دلیل دی .

اګر که په حدیث شریف کې دهغه مخکیني خبر هم مو جود دی بیا هم ددې د صحیح والي لپاره د الله تعالی داقول ګواهي ورکوي چې : فلاتقعدو معهم .... یعني : تاسو ددې کافرانو سره مه کیئ بیشکه تاسو به هم د همدوی په شان شئ .

بهز بن حکیم بن معاویه بن حیده یې د خپل پلار حکیم او هغه یې د خپل نیکه معاویه بن حیدة څخه داحدیث شریف په مرفوع ډول روایت کوي چې : الله پاک د هغه مشرک څخه یو عمل هم نه قبلوي چې مسلمان شو ترڅو د مشرکانو څخه لرې نشي ، یعني ( د مشرکانو څخه لرې او سیدل د الله پاک په وړاندې د عمل د قبلیدو شرط دی ) ، ددې حدیث په څیر دا راتلونکئ حدیث هم دی .

څلورم دلیل :

امام أبوداؤد رحمت الله علیه ، امام ترمذی رحمت الله علیه او نورو محدثینو د حضرت جریر بن عبد الله رضی الله عنه څخه روایت کړی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : زه بیزار یم د هغه مسلمان څخه چې د مشرکانو په منځ کې اوسیږي . پدی حدیث کې هم همداسې ویل کیږي لکه په مخکیني حدیث شریف کې چې وویل شول .

[169] - فیض القدیر للمناوی ج6 ص 111.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم دليل :

امام نسائي رحمت الله عليه او نورو محدثينو د بهز بن حکيم رحمت الله عليه څخه چې هغه د خپل پلار حکيم رحمت الله عليه او هغه د خپل نيکه څخه روايت کړی دی چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل : الله پاک دهغه کس هيڅ عمل نه قبلوي چې دی مشرک وي بيا مسلمان شي تر څو د مشرکانو څخه ځان لري نکړي ، دا حديث شريف د مخکينيو احاديثو په څيردي ، بيشکه چې چا د کافرانو ملګرتيا وکړه د مسلمانانو په مقابل کې يې مرسته او کومک ورسره وکړ ډير غوره دی چې ددې حديث حکم پرې تطبيق شي ترهغه چاچې ددې کافرانو څخه ځان لرې نکړي ، اوددې حديث په څير دا راتلونکی حديث هم دی .

شپږم دليل :

امام نسائي رحمت الله عليه او نورو محدثينو د جرير رضی الله عنه څخه روايت کړی ده وويل چې ما د پيغبر صلی الله عليه وسلم سره د لمانځه په کولو د زکات په ورکولو او هر مسلمان ته په نصيحت کولو او د مشرک څخه په ځان لرې ساتلو بيعت کړی دی .ددې حديث شريف په اړه خبره لکه د مخکينيو حديثونو په څير ده

خلورم مبحث : دصحابه کرامو له اقوالو څخه دليلونه :

د صحابه کرامو څخه هم همداسې ويناوي او اقوال راغلي دي چې پدې اصل دلالت کوي چې د کافرانو سره دوستي کفر دی . له دې څخه ځينې يې دادي :

1-د حديثو څخه په لومړي دليل کې چې مخکې تيرشول کوم چی دعمر او حاطب رضی الله عنهما په وړاندې هم دا اصل موجود ؤ او هغه دا چې د کافرانو په دوستئ سره انسان کافر کيږي .

2-عبد بن حميد رحمت الله عليه د حذيفه رضی الله عنه څخه روايت کړی دی هغه ويلي دي : ستاسو څخه د يوله دې خبرې څخه وويريږي چې په ناپوهئ سره يا يهودي او يا عيسوي شي ، نو موږ داګومان وکړ چې مطلب يې د الله تعالی دا فرمان دی چې : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ... ﴿51﴾ [170]

ژباړه : ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی ( ای مؤمنانو ) مه نيسئ تاسې يهودان او نصرانيان دوستان ! ( چې له دوی سره موالات او مدد وکړي ) ( دوی يو تربله ) ځينې دوستان دي د ځينونورو ( ځکه چې ټول سره

---

[170] - سورت المائده آيت 51

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کفر کې شریک دي او ټول تاسې ته متفق دي او هر چا چې دوستي وکړه له دوی سره له تاسې څخه نو بیشکه چې دی هم د دوی څخه دی .

3-د سیرت په کتابونو کې د ردت د جګړو په مهال د مجاعة او خالد بن ولید رضی الله عنه تر منځ پیښه شوې قصه ده او هغه داچې : د خالد رضی الله عنه لښکر د بنی حنیفه ؤله قوم څخه بند یان راوستل چې په دوی کې مجاعة هم وو نو مجاعة خالد رضی الله عنه ته وویل : زما د الله پاک سوګند وي چې ما د مسیلمة الکذاب متابعت ندی کړی او زه مسلمان یم ، خالد رضی الله عنه ورته وویل : آیا زموږ مقابلې ته نه یې راوتلئ ؟ او یا د ثمامة بن آثال په څیر غړیدلی یې ، نو خالد رضی الله عنه د مرتدانو په منځ کې دده پاتې کیدل دلیل و نیو او داسې یې وبلل چې مجاعة ورسره موافق دی ، او دمرتدانو په څیر چلند یې ورسره وکړ ، او دا کار د قرآن کریم په مخکیني دیارلسم دلیل سره یو رنګ دی چې دهغو مسلمانانو په اړه یې راوړي وه کوم چې د بدر په غزاکې د مشرکانو سره تللي وو ترڅو د مشرکانو ډله پرې زیاته ښکاره شي .

4-پدې ډول د صحابه کرامو چلند او رویه یې د مسیلمه ، سجاح ، طلیحه دقومونو سره د ردت او دزکات د نه ورکولوپه درشل کې چې کومې جګړې منځته راغلې دي له ورایه څرګندوي چې ددې خلکو ترمنځ یې هیڅ ډول توپیرونکړ ، ښایي ځینې له دوی څخه په عقیدوي لحاظ د مرتدانو مخالف وو بلکې دعصبیت او قومیت له پلوه ورسره ملګری شوي وو ، مګر بیا یې هم د ټولو په وړاندې یو ډول چلند وکړ ، او داکار هم پدې ښکاره دلیل دی چې دا اصل د دوی په وړاندې ثابت او یوه منلې شوې قاعده ګڼل کیده او هغه داچې چا د کافرانو سره ملګرتیا وکړه او د مسلمانانو په مقابل کې یې مرسته ورسره وکړه نو داکس هم د همدوی په څیر کافر دی .

دقیاس څخه دلیلونه : دا له دو و وجهو څخه راغلي دی :
لومړی وجهه : د احادیثو په صحیح کتاب کې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه راغلي دی ده مبارک وفرمایل : چا چې د غازي سره مرسته وکړه لکه ده چې پخپله په غزا کې ګډون کړی وي ، نو ددې حدیث شریق مطابق هغه ناست سړی چې د مجاهد په سمبالښت کې یې ونډه واخستله په غزا کې یې ورسره شریک وښود ، او دابل حدیث شریف هم دی چې فرمایي : الله پاک د یو غشي په وسیله درې کسان جنت ته داخلوي د غشي جوړ وونکئ چې په جوړولو کې یې اجر او نیکي مطلب وي ، د غشي ویشتونکی او دغشي منبله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دابرعکس پدې دلالت کوي چې چا د جګړې لپاره دکافر په مرسته او ضروریاتو برابرولو کې ونډه واخسته نو دی د طاغوت په لاره کې په جګړه کې ورسره شریک شو .

دوهمه وجهه : مرسته کوونکی او پخپله کارکوونکی د شرعې په صحیح قول کې سره برابراو حکم یې یو دی ځکه چې د کار اجراء کوونکی د بل مرسته کوونکی په کومک یو عمل ترسره کوي ، لکه چې شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمت الله علیه ویلي دي : که چیرې د « حرامیه » ډلې جګړه کوونکي یو ټولۍ وي یو له دوی څخه پخپله قتل وکړي او نور یې مرسته کوي ، نو په یقیني ډول ویل کیږي چې یواځې دا قاتل وژل کیږي ، او جمهور علماء وایي : بلکې دا ټول وژل کیږي ، اګرکه دا ټول سل کسان هم وي ، ځکه چې پخپله قاتل او مرسته کوونکی یې په حکم کې یو شان دي .

همدارنګه دا حکم د خلفای راشدینو څخه نقل کړی شوی دی ، عمر رضی الله عنه د جګړه کوونکو د ترصد واله وواژه او دا هغه کس دی چې په جګ ځای کیني او دجګړې حالت څاري چې څوک ورته راځي ، او څوک چې پخپله وژنه کوي شایي چې یو څوک د بل ملګری او مرستندوی په وسیله ووژني ، او کومه ډله چې افراد یې یو دبل په وسیله بري ته رسیږي تر څو چې یو دبل څخه د شر منع کوونکی او دفع کوونکی و ګرځي نو دوی لکه مجاهدین په ثواب او عذاب کې شریک دي ، په یقیني ډول پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : مسلمانان پخپل منځ کې د یو ډول وینو څښتنان دي او سره برابر دي ، ددوی د مسؤولیت د رفع کولو لپاره یې وروسته پاتې مسلمانان هم هڅه کولی شي ، او دکافرانو په مقابل کې یو موټی او یو لاس دي او که کوم وړوکی ګروپ غنیمت لاس ته راوړ نور لښکر هم ورسره شریک دی .

ددې معنی داده : که چیرې دمسلمانانو دلښکر څخه یو ګروپ د عملیاتو لپاره لاړ او بیایې غنیمت لاس ته راوړ نو دلښکر افراد هم ورسره شریک دي څنګه چې دا لښکر یې په شا کې پروت ؤ او ددې په زور سره به یې عملیات ترسره کول مګر دې ګروپ به یو څه غنیمت پرته له دې چې مستحق یې وه واخسته .

ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم به د عملیاتو ګروپ ته یو څه بخشش ورکاوه ، کله چې په لومړي کتار کې ؤ او دا به د پنځمې برخې څخه وروسته څلورمه برخه د غنیمت به یې هم ورکوله ، او همدارنګه که به لښکر څه غنیمت په لاس راوړ نو هغه ډله چې د چریکي عملیاتو او یاترصد لپاره به لیږل شوی وه پدې غنیمت کې به برخه درلوده ، ځکه چې دا ډله د لښکرپه ګټه په کار بوخته وه .

لکه څرنګه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د بدر په غزا کې حضرت طلحه او زبیر رضی الله عنهما ته هم برخه ورکړه او دوی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له پلوه د لښکر په ګټه په کوم ماموریت ګومارل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو ، نو دجګړې کوونکې ډلې ملګرى او مرسته کوونکي يې هم په ګټه او تاوان کې سره شريک دي ، همدارنګه څوک چې د باطل لپاره جنګيږي هم سره شريک دي او پدې کې هيڅ تأويل او بانه نه جوړيږي ، لکه څوک چې د عصبيت او قوميت لپاره جګړه کوي اويا دجاهليت غوښتنې ترسره کوي لکه « قيس او يمن» او ددوی په څير نور خلک .

په عصبيت او جاهلي نارو باندې چې څوک جګړه کوي دا نارو او ظلم دی .

لکه چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : کله چې دوه مسلمانان خپلې تورې يو دبل په ضد را وباسي نو قاتل ( وژونکی ) او مقتول ( وژل شوی ) دواړه په اور ددوزخ کې دي ، پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته وويل شول ای د الله رسوله ! دا قاتل خو به اورته ځي نو دمقتول څه ګناه ده؟ پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته و فرمايل : دغه مقتول غوښتل خپل ورور ووژني ، داحديث شريف په بخاری او مسلم کې راغلئ دی .

اوهره ډله دهغه تاوان چې د مال او ځان په هکله ورته رسيدلی دی دواړه مسؤولې او ضمانت يې په غاړه لري اګر که معلوم قاتل هم ونه پيژندل شي .

څکه چې هغه ډله چې دبلې ډلې د څه حق له ورکړې څخه ممانعت او انکار وکړي داسې ګڼل کيږي لکه يوکس .

نوهمدارنګه د هغه چا حکم چې د کافرانو سره يې د مسلمانانو په مقابل کې مرسته او کومک وکړ دکافرانو حکم پرې تطبيق کيږي .

شپږم مبحث : د تاريخ څخه دليلونه:

لومړی پيښه : اسلامي تاريخ په مختلفو وختونوکې دداسې پيښو شاهد او ګواه دی چې ځينو په نوم مسلمانانو دکافرانو سره مرسته او کومک کړی ، بيا علماء کرامو ددې دوستئ او مرستې د حکم وضاحت کړی او اوس به ځينې له دې پيښو څخه بيان کړو :

لومړئ پيښه : د بدر په غزا کې په دوهم کال دهجرت ، ځينې مسلمانان د کافرانو سره ملګري شول تر څو د کافرانو ډله پرې زياته شي ، ددې په هکله الله پاک دا فرمان نازل کړ چې : د الله تعالی فرمان دی چې : إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا ﴿97﴾ [171]

---

[171] - سورت النساء آيت 97.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : بیشکه هغه کسان چې وفات کړي وي دوی لره ملائکو ( د مرګ ) په داسې حال کې چې وي دوی ظلم کوونکي په ځانونو خپلو وايي ورته ( ملائکې ) په کوم حال کې وی تاسې په خپلو دینې چارو کې ( وايي ) دوی چې ؤ موږ ضعیفان کړی شوي په ځمکه کې ( د کفارو په لاس بيا ملايکې ورته ) وايي چې آيا نه وه ځمکه د الله ارته ( پراخه ) پس هجرت کړی دی تاسې په دې ( ځمکه کې نو داد تارکان د هجرت ) ځای د دوی دوزخ دی ، او ناکاره ځای ددوی دی دوزخ . ددې يادونه د قرآني دليلونو په څوارلسم دليل کې تيره شوه .

دوهمه پيښه : د هجرت په يوولسم کال د مرتدانو په ضد غزا ، داد پيغمبر صلی الله عليه وسلم د وفات څخه وروسته را منځته شوه او صحابه کرامو ددې وضاحت له سره و نه غوښت چې مقابل لوری يې څوک او څنګه دی او دا واقعه په دريم مبحث کې تيره شوه

دريمه پيښه : د 201 هجری کال په لومړيو کې : بابک الخرمي د مسلمانانو په ضد قيام وکړ او د مسلمانانو په مقابل کې وجنګيد او دا بابک د مشرکانو په سيمه کې وه ، نو امام احمد رحمت الله عليه او نورو علماؤ دده په مرتد کيدلو فتوا ورکړه ، ميموني رحمت الله عليه د امام احمد رحمت الله عليه څخه روايت کړی چې هغه وويل : زموږ په ضد را ووت او راسره جنګيږي استوګنه يې د مشرکانو سره ده نو څه حکم لري ؟ که چيرې داسې وي نو حکم يې د ردّت ( مرتد کيدو ) دی . [172]

څلورمه پيښه : د « 48» هجري کال څخه وروسته : په اندلس کې د ملوک الطوائفي پاچايانو څخه معتمد بن عباد داشبلیې پاچاوه ده د اروپا يانو څخه د مسلمانانو په ضد مرسته و غوښته ، نو د مالکي مذهب علماوو دده په مرتد کيدو او داسلام څخه په وتلو يې فتوی ورکړه .[173]

ورته وګوره څنګه حکم يې پرې کړی سره ددې چې دده د کفارو څخه مرسته وغوښته او په مسلمانانو يې مسلط کړل او دکفارو سره يې د مسلمانانو په مقابل کې مرسته ونه کړه .

بنځمه پيښه : په 661 هجري کال کې منځته راغله :

مغيث عمر بن عادل د کرک والي د مصر د نيولو لپاره هولاکو او نورو چنګيزيانو ته ليک وليږه او مرسته يې ترې وغوښته ، نو ظاهر بيبرس د علماؤ څخه فتوی وغوښته ، فقهاؤ ددې والي د وظيفې په ګوښه کيدو او وژل کيدو فتوی ورکړه ، بيا ظاهر بيبرس دغه والي ګوښه او وې واژه . [174]

---

- الفروع ج 6 ص 163. [172]
- الاستقصاء ج 2 ص 75. [173]
- البدايه و النهايه ج 13 ص 238، شذرات الذهب ج 6 ص 305. [174]

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږمه پېښه : د 700 هجري کال په حدودو کې :

په شام او نورو سیمو کې مغولو تیرئ وکړ ځینې په نو م مسلمانانو ورسره مرسته وکړه نو شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمت الله علیه د دوی په مرتد کیدو فتوی ورکړه . [175]

اوومه پیښه: په 980 هجري کال کې :

محمد بن عبد الله السعدي د مراکش یه پاچا خپل تره ابو مروان معتصم بالله په مقابل کې د پرتګال د پاچا څخه مرسته و غوښته ، نو مالکي علماؤ دده په ردّت فتوی ورکړه . [176]

اتمه پیښه : ځینو لښکرو د نجد په سیمه تیرئ وکړ ترڅو د توحید دعوت ختم کړي ځینې تش په نوم مسلمانانو د هغوئ سره مرسته وکړه ، د نجد علماؤ د دوی په ردّت فتوی ورکړه ، شیخ سلیمان بن عبد الله آل شیخ ددوی په د کفر په اثبات کې د « الدلائل » په نوم کتاب ولیکه او « 21 » دلیلونه ذکر کړل .

نهمه پیښه : د تیرې پیښې څخه تقریبا « 50» کاله وروسته همغسې پیښه منځ ته راغله د نجد علماؤ د هغه چا په هکله د ردّت فتوی ورکړه چې د مشرکانو سره یې مرسته کړې وه ، شیخ حمد بن عتیق پدې هکله یو کتاب د « سبیل النجاة و الفکاک من موالاة المرتدین و أهل الاشراک » په نوم ولیکه .

لسمه پیښه : د څوارلسمې پیړئ په اوائلو کې :

د الجزائر ځینې قبیلو د مسلمانانو په مقابل کې د فرانسویانو سره مرسته وکړه نو د المغرب فقیه او عالم ابو الحسن التسولي ددوی په کفر باندې فتوی ورکړه ، [177]

یوولسمه پوښتنه : د څوارلسمې پیړې په نیمایې کې :

په مصر او نورو هیوادونو باندې د فرانسویانو او انګریزانو تیري په مسلمانانو باندې وشو نو چاچې ورسره مرسته کړې وه ، شیخ احمد شاکر رحمت الله علیه یې په کفر فتوی ورکړه .[178]

دولسمه پیښه : همدارنګه دڅوارلسمې پیړې په نیمایې کې:

---

[175] - مجموع الفتاوی ج 28 ص 530.

[176] - الاستقصاء ج 2 ص 70.

[177] - اجوبة التسولي علی مسائل الامیر عبد القادر الجزائري ص 310.

[178] - کلمة حق ص 126.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يهودو فلسطين ونيو ځينې تش په نوم مسلمانانو ورسره مرسته وکړه ، په ازهر شريف کې د فتوى کميسيون د شيخ عبد المجيد سليم په مشرئ يې په کال 1366 هـ ق کې ددوى په کفر فتوى ورکړه .

ديارلسمه پيښه : دځوارلسمې پيړې په آخر کې:

په اسلامي نړئ کې کمونستان او سوسيالستان زيات شول ځينې تش په نوم مسلمانانو مرسته ورسره وکړه ، شيخ ابن باز دمرسته کوونکو په کفر فتو ى ورکړه .[179]

## اووم مبحث : د علماى کرامو د اقوالو څخه دليلونه :

په راتلونکي مبحث کې د احنافو او مالکى علماى کرامو اقوال ذکر کيږي :

### لومړى : د حنفى مذهب د علماؤ اقوال :

1-احمد بن على ابوبکر الجصاص الرازي ( ت – 370هـ ق ) ويلي دي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ آبَاءكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاء إَنِ اسْتَحَبُّواْ الْكُفْرَ عَلَى الإِيمَانِ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿23﴾ [180]

پدې آيت کې مسلمانان منع کړئ شوي چې د کفارو سره دوستي وکړي او دهغوئ مرسته وکړي ، يا دهغوئ څخه مرسته و غوښتل شي ، يادوى ته خپل کارونه او چاري حواله کړي ، د دوى څخه بيزاري واجب او لازم ده ، د کفارو عزت او قدر نه کول پدې کې پلرونه او ورونه برابر دي يعني که د چا پلار يا ورور هم وي عزت بې نشته . مؤ منانو ته يې ځکه امر وکړ چې د منافقانو څخه جلاشي ، منافقان به چې کله د کفارو سره مخامخ شول ددوى عزت او قدر به يې کاوه دوستي به يې ورسره کوله او دوستي او نږديوالي ښکارندويې به يې ورته کوله ، نو الله پاک پدې مبارک آيت کې مؤمن ته ځکه امر وکړ ترڅو مؤمن د منافق څخه بيل او ښکاره جلاشي او پدې يې خبرکړ چې چا دا کارونکړ هغه به خپل ځان ظلم وکړ او د الله پاک له لوري د عذاب او جزا مستحق ګرځيد .

او همدارنګه په [181] خپل تفسير کى امام جصاص ويلي دي : د کفارو د دوستئ څخه د منع کيدو په درشل کې : چې الله پاک فرمايلي دي: ... إِلاَّ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تُقَاةً .. ﴿28﴾ آل عمران . ژباړه : ....

يعني تاسو د نفس دهلاکت او ځينې غړو دله منځه تللو له ويرې دوى ته ددوستئ اظهار کوي په ښکاره سره نه د اعتقاد او باور له پلوه همدغه معنى د لفظ غوښتنه ده او دا جمهورو علماؤ نظر دى .

---

179 - مجموع فتاوى ابن باز ج 1 ص 374.
180 - سورت التوبه آيت 23. ، احکام القرآن للجصاص ج 3 ص 130.
181 - تفسير جصاص ج 1 ص 16.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داامام قتاده رحمت الله علیه څخه د الله پاک ددې فرمان په هکله چې : لاَّ يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُوْنِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّهِ فِي شَيْءٍ إِلاَّ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تُقَاةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللّهُ نَفْسَهُ وَإِلَى اللّهِ الْمَصِيرُ ﴿28﴾ [182]

امام جصاص رحمت الله علیه وايي : د مؤمن لپاره دا رواندي چې په ديني چارو کې کافر خپل دوست و نيسي

او دا فرمان د الله جل جلاله دی چې : « إِلاَّ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تُقَاةً » يعني : که چيرې ددې کافرانو او دمسلمانانو ترمنځ خپلولي وه نو بيا د خپلولۍ درس پالئ ، نو تقيه يې د کافر د خپلولی لپاره صله وګرځوله .

او دغه حالت يې مستثنی کړی چې دښمن په کې غالب وي او ترې ويريږي نو مؤمنان به په ظاهري امورو کې تقيه کوي نه په باطني امورو کې .

نو دغه مبارک آيت پدې دلالت کوي چې د ويرې ( تقيې ) په حالت کې د کفر ښکاره کول جواز لري .

2- امام عبد الله بن احمد ابو البرکات النسفي ( ت – 710) هـ کی پخپل تفسير [183] کې ويلي دي : ددين دد ښمنانو ددوستۍ څخه د منع کيدو منع نازله شوې ده .

الله پاک فرمايلي دي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء ... ﴿51﴾ المائده .

يعني : تاسو يې دوستان مه نيسی چې مرسته ورسره کوئ او يا مرسته ترې غواړئ ، وروري ورسره کوي ، او د مؤمنانو په خير ژوند ورسره تيروئ بيايې منع پدې سره وارزوله .

بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ ، ټول دمؤمنانو دښمنان دي، پدې کې دادليل دی چې کفر يو ملت دی ، وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ ، دغه کس ددوی د ډلې څخه دی او حکم يې د دوی د حکم په خير دی ، دا د الله پاک لخوا سختي او کلکه نيونه ده ، پدې کې چې ددين د مخالف سره به دوستي نه کوي او ځان به ترې لرې ساتي . إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ : يعني الله پاک به هغه چاته هدايت و نکړي چې پخپلو ځانونو يې ظلم کړی وي د کفارو په دوستی سره .

3- امام محمد بن احمد ابو السعود العمادي ( ت- 951 ) پخپل تفسير [184] کې ويلي دي : دا فرمان د الله جل جلاله چې : وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ ، دغه حکم تری استنباط کيږي چې : بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ ، ددوستۍ

---

- سورت آل عمران آيت 28. [182]
- تفسير نسفی ج 1 ص 287 . [183]
- تفسير ابو السعود ج 3 ص 48. [184]

(c) ketabton.com: The Digital Library

انحصار ددوی په منځ کې دا غواړي چې د چا سره چې دوستي کوي د هغه سره په یقیني ډول په دین کې یو شان وي کوم چې دوستي پرې څرخیږي پدې ډول چې د هغه چا سره چې دوستي کوي هغه به مؤمن او مسلمان نه وي ، پدې کې د مؤمنانو لپاره ډیر سخت وعید او توبیخ دی چې که څه هم ظاهري دوستي ورسره ښکاره کړي اګر که حقیقي دوستي هم نه وي ، او دا قول د الله جل جلاله چې : ...إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿51﴾ [185] پدې مبارک آیت کې دا ښکاره ذکر شوي دي چې د چا سره دوستي کوې هغه شخص به هم د همدوی څخه وي یعني : ایمان ته یې هدایت نه کوي بلکې دی او حالت یې سره پریږدی تر څو په کفر او ګمراهی کې ولویږي .

دوهم د مالکي علمای کرامو اقوال :

1-ابو عبد الله قرطبي رحمت الله علیه پخپل تفسیر[186] مخ کې ویلي دي : دا قول د الله جل جلاله چې (وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ ) یعني : د مسلمانانو په مقابل کې د کفارو حمایت کوي ،( فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ) یعني : الله جل جلاله بیان کړی چې ددغه شخص حکم د کفارو په څیر دی همدغه حکم د مرتد څخه د مسلمان د میراث د منع کیدو ثبوت دی معنی داچې : مسلمان به د مرتد څخه میراث نه اخلي ، دا هغه دي چې عبد الله بن أبی ورسره دوستي کړې وه بیا دغه حکم د قیامت تر ورځې پورې د مسلمانانو او کفارو تر منځ ددوستۍ په قطع کیدو دلالت کوي .

2-دامام برزلي رحمت الله علیه د قضاء په کتاب د نوازلو په برخه کې راغلي دي چې : امیر المؤمنین یوسف بن تاشفین اللمتوني رحمت الله علیه د خپل وخت د علماؤ څخه فتوی و غوښته – او دغه علماء د مالکي مذهب څخه وه – چې د اشبیلې پاچا ابن عباد اندلسي عیسویانو ته لیک ولیکه چې د مسلمانانو په مقابل کې ورسره مرسته وکړي ، نو ډیرو علماؤ دده په ردّت او کافر کیدو ځواب ورکړ ( یعني کافر او مرتد یې وباله ) ، دغه واقعه د 480 ق کال په شاوو خواکې وه . [187]

3-په همدې ډول په 984 ق کال کې بله واقعه داسې وه چې محمد بن عبد الله السعدی د مراکش پاچا د پرتګال د پاچا څخه د خپل تره أبو مروان معتصم بالله په ضد مرسته و غوښته نو دمالکي مذهب علماؤ دده په په کفر او ردّت فتوی ورکړه . [188]

---

- سورت المائده آیت 51. [185]
- تفسیر قرطبي ج 6 ص 217. [186]
- الاستقصاء لأخبار دول المغرب الأقصی ج 2 ص 75 . [187]
- الاستقصاء ج 2 ص 70. [188]

(c) ketabton.com: The Digital Library

4-دابو عبدالله احمد بن محمد چې په شیخ علیش سره مشهور دی په ( 1299) ق کال وفات شوی پوښتنه ترې وشوه چې کوم مسلمان چې د کفارو سره او سیږي او دغه کفارو په اسلامي نړۍ هجوم هم کړی وي او دغه مسلمان هجرت و نکړي نو ډیر او ږد ځواب یې ورکړ چې په فتح العلی المالک : [189] مخ او وروسته راغلي دي : دغه شرکي دوستي د اسلام په اوائلو او قوت وخت کې نه وه ، پدې ډول سره څه منځ ته نه وه راغلي مګر د څو پیړیو د تیریدو څخه وروسته او د مجتهدو علمای کرامو د وفات څخه وروسته دغه پیښې راغلې نو له همدې کبله هیڅا دداسې پیښو فقهي احکام ندي څیړلي بلکې دغه عیسوي دوستي د پنځمې هجري پیړۍ او را وروسته وخت کې منځ ته راغلي ، کله چې ملعونو عیسویانو – الله جل جلاله ددوی تباه او برباد کړي – په اندلس کې ځینې ځایونه او د صقلیې جزیره و نیوله .

پدې هکله د ځینو فقهاؤ څخه پوښتنه وشوه او وضاحت ترې وپوښتل شو چې فقهي احکام یې د مرتکب په اړه څه شی دي ، نو ځواب یې ورکړ چې ددغه کس حکم د هغه چاپه څیر دی چې مسلمان وي خو هجرت یې نه وي کړی .

یعنې په کفر کې ( حکم یې د کافر حکم دی ) ، دغه کسان چې په اړه پوښتنه وشوه او څوک چې د حکم په اړه یې ساکت او چپ دی ، ددې دواړو ډلو ترمنځ یې اړوند فقهي احکام یو شانته بللي دي ، ددوی د مالونو او او لادونو په اړه یې حکمونه یو ډول دي ، ددواړو ډلو تر منځ یې ددښمنانو په دوستۍ دهغوی سره اوسیدل ورسره نږدې توب ، ګډوالۍ او دکفارو څخه ځان نه لرې کول او هغوی سره ځان ښکاره کول ، واجب هجرت نه کول دهغه احکامو په اړه چې پوښتنه ترې وشوه د هغه په فرضوالي کې یو ډول دي ، نو یاد شوو کسانو کې په هغو احکامو پورې و تړل شول چې متفق احکام دي او اختلاف په کې نشته .

[189] - فتح العلی المالک ج 1 ص 375.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خاتمه ( پایله )

ددی علمی بحث د لیکلو په درشل کې دې پایلې ته ورسیدم چې باید ځینې مهم ټکی یی ښکاره او په ګوته کړم او هغه داچې :

۱- د طالبانو د واکمنۍ په هکله – الله پاک یې د بریالۍ کړي – چې داسلامي شریعت د تطبیق او داسلامي شعائروښکاره کول ، د کفر ، شرک ، او فسق مقابله کول وه په واضحو دلائلو سره بیان شوي دي .

2-د اول فصل څخه دریم مبحث : د صلیبي جګړې په اند یې ځینې ځانګړي دلیلونه ذکرشوی دی د کومو له مخې چې نن ورځ امریکا او دهغې متحدین یې پرمخ بیایي دا صلیبي حګړه ده چې د اسلام ا ومسلمانانو په ضد یې پیل کړي ده او دیارلس واقعې ( پیښې ) یې ددلیلونو په څیر وړاندې کړی دي چې یو دلیل هم ددې مسئلې د ثبوت لپاره کفایت کوي نو که ټول یاد کړی شي بیا خو بالکل صحیح ده .

3-ددوهم فصل څخه شپږم مبحث : دا هغه دلیلونه دي چې د تاریخ او او سنی وضعې له نقطې نظره په ښکاره ډول پدې دلالت کوي چې د کفارو سره مرسته کول کفر او مرتد کیدل دي ، دا په هغه تاریخي پیښو باندې بنادي چې ځینې خلکو د مسلمانانو په مقابل کې د کفارو سره مرسته کړیده بیا علماوو په دوی باندې پدې تاریخي پیښو کې د مرتد کیدو او په هغه معلومو کسانو چې د کفارو مرسته یې یاده کړی وه د کفر

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتواوې ورکړی دي ، څوار لس هغه تاريخي پيښې يې يادې کړې دي چې هر يوه يې و اوسنيو پيښو سره مشابهت لري ، لکه چې ويل کيږي تاريخ بيا را ګرځي .

پدې پورې هغه تاريخي پيښې هم پيوستون مومي چې په تيره پيړی کې منځته راغلي دي هغه داچې ځينو منافقانو او ګمراهانو له کفارو څخه د عسکري استعمار په ورځو کې مرسته و غوښته نو هغو علماوو چې په دغه وخت کې موجود وه پدې هکله يې فتوی ورکړه لکه څنګه چې دغه په راتلونکې کې د ورو ستيو علماوو څرګندونې ترسرليک لاندې يادونه کړی ده .

چاچې د امريکا څخه بهر دمسلمانانو يا عربو له خوا د امريکا يانو سره مرسته وکړه هغه کافر او مرتد دی ، ستا څه ګومان دی دهغه چا په هکله چې ددوی په لښکر کی وه او ځان ته مسلمان هم وايي مګر دی د وطنوالۍ او امريکايي تابعيت په بنا ووت او مرسته يې ورسره وکړه ؟ نودغه کس ډير نږدې دی چې پدې حکم کې داخل شي ، او دغه هرآيت ، حديث او اجماع دهغه چا په هکله ده چې د امريکايانو سره يې مرسته کړې وي او تابعيت يې نه وي اخستۍ او حکم يې منلۍ وي نو هردليل پرې ښه د تطبيق وړ دی.

دمصادرو او مراجعو فهرست


١- قرآن کريم

٢- اجوبة التسولى على مسائل الامير عبد القادر الجزائري فى الجهاد ،الناشر دارالمغرب الاسلامى ،المحقق عبد اللطيف احمد الشيخ محمدصالح ، سنة النشر١٩٩٦ رقم الطبعة : الاولى .

٣- أحكام أهل الذمة المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (ت ٧٥١هـ المحقق: يوسف بن أحمد البكري - شاكر بن توفيق العاروري الناشر: رمادى للنشر – الدمام الطبعة: الأولى، ١٤١٨ – ١٩٩٧

٤- إعلام الموقعين عن رب العالمين المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (ت ٧٥١هـ) تحقيق: محمد عبد السلام إبراهيم الناشر: دار الكتب العلمية – ييروت الطبعة: الأولى، ١٤١١هـ - ١٩٩١م

٥- الأربعون النووية المؤلف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (ت ٦٧٦هـ) عُنِيَ بِهِ: قصي محمد نورس الحلاق، أنور بن أبي بكر الشيخي الناشر: دار المنهاج للنشر والتوزيع، لبنان – بيروت الطبعة: الأولى، ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦- الاستقصا لأخبار دول المغرب الأقصى المؤلف: شهاب الدين أبو العباس أحمد بن خالد بن محمد الناصري الدرعي الجعفري السلاوي (ت ١٣١٥هـ) المحقق: جعفر الناصري/ محمد الناصري الناشر: دار الكتاب - الدار البيضاء

٧- البداية والنهاية المؤلف: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (ت ٧٧٤ هـ) الناشر: مطبعة السعادة وصَوّرتها: دار الفكر ، عام ١٥١٤ق - بيروت .

٨- البدر المنير في تخريج الأحاديث والأثار الواقعة في الشرح الكبيرالمؤلف: ابن الملقن سراج الدين أبو حفص عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري (ت ٨٠٤هـ)المحقق: مصطفى أبو الغيط وعبد الله بن سليمان وياسر بن كمال الناشر: دار الهجرة للنشر والتوزيع - الرياض-السعودية الطبعة: الاولى، ١٤٢٥هـ-٢٠٠٤م

٩- التيسير= تيسير العزيز الحميد في شرح كتاب التوحيد ألذي هو حق الله على العبيد ،تأليف سليمان بن عبدالله ، محقق : زهيرشاويش ناشر المكتب الاسلامى ، بيروت لبنان ، سال نشر : ١٤٢٣ق .

١٠- الدرر السنية ... المؤلف : مجموعة من العلماء ، المحقق : عبد الرحمن بن محمد العاصمى ، سنة النشر ١٤١٧، رقم الطبعة ٦.

١١- الرسالة المؤلف: محمد بن إدريس الشافعي (١٥٠ هـ - ٢٠٤ هـ) تحقيق وشرح: أحمد محمد شاكر، )عن أصل بخط الربيع بن سليمان كتبه في حياة الشافعي ، الطبعة الاولى ، سنة النشر١٩٣٨م ،الناشر: مصطفى البابى الحلبى واولاده بمصر.

١٢- الصارم المسلول على شاتم الرسول ، المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحراني الحنبلي الدمشقي (ت ٧٢٨هـ)

١٣- الفروع ، المؤلف: شمس الدين محمد بن مفلح المقدسي (ت ٧٦٣ هـ) ومعه: «تصحيح الفروع» لعلاء الدين علي بن سليمان المرداوي (ت ٨٨٥) ويليهما: حاشية ابن قندس: تقي الدين أبو بكر بن إبراهيم بن يوسف البعلى (ت ٨٦١ هـ) [وقد خَلَت منها هذه النسخة الإلكترونية] تحقيق: عبد الله بن عبد المحسن التركي

الناشر: (مؤسسة الرسالة - بيروت)، (دار المؤيد - الرياض) الطبعة: الأولى، ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م

١٤- المجتمع مجله = مجلة المجتمع الكويتية مجلة كويتية تعتبر لسان حال جمعية الإصلاح الاجتماعي في دولة الكويت. وهي واحدة من المجلات الإسلامية في العالم العربي والإسلامي ويكتب بها عدداً كبيراً من

(c) ketabton.com: The Digital Library

الأكاديميين والمفكرين، تم إصدارها منذ مارس 1970 وهي الناطق باسم جمعية الإصلاح الاجتماعي، لكن يعتقد البعض أنها تبقى كما أرادتها الجمعية مجلة المسلمين في جميع أنحاء العالم، وتوزع المجلة في أكثر من 120 دولة.

١٥- المحلى بالآثار= المؤلف: أبو محمد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الأندلسي [الظاهري] المحقق: عبدالغفار سليمان البنداري الناشر: دار الفكر- بيروت .

١٦- تاريخ نجد المؤلف: محمود شكري الألوسي المحقق: محمد بهجة الأثريسنة النشر: 2007 رقم الطبعة: الاولى .

١٧- تفسير ابن جرير= جامع البيان عن تأويل آي القرآن المؤلف: أبو جعفر، محمد بن جرير الطبري (٢٢٤ - ٣١٠هـ) توزيع: دار التربية والتراث - مكة المكرمة –

١٨- تفسير ابن كثير= **تفسير القرآن العظيم** تأليف عمادالدين اسماعيل بن عمر بن كثير دمشقى) متوفى 774ق) مشهور به ابن كثير، از جمله تفاسير اهل‌سنت است كه مورد اعتناى مفسرين پس از خود قرار گرفته است.

١٩- تفسير أبي السعود = إرشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم المؤلف: أبو السعود العمادي محمد بن محمد بن مصطفى (ت ٩٨٢هـ)

٢٠- تفسير جصاص = احكام القرآن ،المؤلف: أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (ت ٣٧٠هـ) المحقق: عبد السلام محمد علي شاهين الناشر: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان الطبعة: الأولى، ١٤١٥هـ/١٩٩٤م

٢١- تفسير قرطبي = الجامع لأحكام القرآن المؤلف: أبو عبد الله، محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش الناشر: دار الكتب المصرية – القاهرة الطبعة: الثانية، ١٣٨٤ هـ - ١٩٦٤ م

٢٢- **تفسير كابلى از ديدگاه اهل سنت**، ترجمه و تفسير مختصرى از آيات قرآن به كريم مى‌باشد. اين ترجمه، از زبان اردو به زبان فارسى درى صورت گرفته است. قلم محمود حسن ديوبندى كتاب در شش جلد تنظيم شده است

(c) ketabton.com: The Digital Library

٢٣- تفسير نسفى= (مدارك التنزيل وحقائق التأويل) المؤلف: أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي (ت ٧١٠هـ) حققه وخرج أحاديثه: يوسف علي بديوي راجعه وقدم له: محيي الدين ديب مستو الناشر: دار الكلم الطيب، بيروت الطبعة: الأولى، ١٤١٩ هـ - ١٩٩٨ م

٢٤- شذرات الذهب في أخبار من ذهب المؤلف: عبد الحي بن أحمد بن محمد ابن العماد العَكري الحنبلي، أبو الفلاح (ت ١٠٨٩هـ) حققه: محمود الأرناؤوط خرج أحاديثه: عبد القادر الأرناؤوط الناشر: دار ابن كثير، دمشق – بيروت الطبعة: الأولى، ١٤٠٦ هـ - ١٩٨٦

٢٥- صحيح البخاري المؤلف: أبو عبد الله، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة ابن بردزبه البخاري الجعفي تحقيق: جماعة من العلماء الطبعة: السلطانية، بالمطبعة الكبرى الأميرية، ببولاق مصر، ١٣١١ هـ، بأمر السلطان عبد الحميد الثاني ثم صَوّرها بعنايته: د. محمد زهير الناصر، وطبعها الطبعة الأولى ١٤٢٢ هـ لدى دار طوق النجاة - بيروت، مع إثراء الهوامش بترقيم الأحاديث لمحمد فؤاد عبد الباقي، والإحالة لبعض المراجع المهمة.

٢٦- سنن الترمذي المؤلف: محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (ت ٢٧٩هـ)

٢٧- صحيح سنن أبي داود المؤلف: الشيخ محمد ناصر الدين الألباني (ت ١٤٢٠ هـ

٢٨- صحيح مسلم المؤلف: أبو الحسين مسلم بن الحجاج القشيري النيسابوري (٢٠٦ - ٢٦١ هـ) المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي الناشر: مطبعة عيسى البابي الحلبي وشركاه، القاهرة) ثم صورته دار إحياء التراث العربي ببيروت، وغيرها.( عام النشر: ١٣٧٤ هـ - ١٩٥٥ م

٢٩. فتاوى ابن باز= مجموع فتاوى ومقالات متنوعة المؤلف: عبد العزيز بن عبد الله بن عبد الرحمن بن بازجمع وإشراف: د. محمد بن سعد الشويعر الناشر: رئاسة إدارة البحوث العلمية والإفتاء بالمملكة العربية السعودية.

٣٠- فتح العلي المالك في الفتوى على مذهب الإمام مالك المؤلف: محمد بن أحمد بن محمد عليش، أبو عبد الله المالكي (ت ١٢٩٩هـ) الناشر: دار المعرفة الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ.

٣١- مجموع الفتاوى المؤلف: شيخ الإسلام أحمد بن عبدالحليم بن تيمة جمع وترتيب: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم رحمه الله وساعده: ابنه محمد وفقه الله الناشر: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف - المدينة المنورة – السعودية عام النشر: ١٤٢٥ هـ - ٢٠٠٤ م

(c) ketabton.com: The Digital Library

٣٢- مسند الفردوس الديلمی ،المؤلف: شيرويه بن شهردار بن شيرو يه بن فناخسرو، أبو شجاع الديلميّ الهمذاني (ت ٥٠٩هـ) المحقق: السعيد بن بسيوني زغلول الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت الطبعة: الأولى، ١٤٠٦ هـ - ١٩٨٦م

٣٣- معجم الكبيرالطبرانی ،المؤلف: سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (ت ٣٦٠هـ) المحقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي دار النشر: مكتبة ابن تيمية – القاهرة الطبعة: الثانيةعدد الأجزاء:٢٥ ويشمل القطعة التي نشرها لاحقا المحقق الشيخ حمدي السلفي من المجلد ١٣ (دار الصميعي - الرياض / الطبعة الأولى، ١٤١٥ هـ - ١٩٩٤ م)

٣٤- فيض القدير شرح الجامع الصغير المؤلف: زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي بن زين العابدين الحدادي ثم المناوي القاهري (ت ١٠٣١هـ) الناشر: المكتبة التجارية الكبرى - مصرالطبعة: الأولى ، عام ١٣٥٦ ق،

٣٥- كلمة حق كتاب ، في شئون المسلمين وحرب الوثنية والشرك والدفاع عن القرآن والسنة، وهي مجموعة مقالات كتبها الشيخ احمد محمد شاكر مفتی مصر العربيه في مجلة الهدى النبوي جمعت في كتاب بعد وفاته. وقدم له الأستاذ عبد السلام هارون، وترجم للمؤلف محمود شاكر، رحم الله الجميع.

٣٦- منهاج التأسيس والتقديس في كشف شبهات داود بن جرجيس المؤلف: عبد اللطيف بن عبد الرحمن بن حسن بن محمد آل الشيخ (ت ١٢٩٣هـ الناشر: دار الهداية للطبع والنشر والترجمة.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**